

# صحيح بخاري

## د مينه والو او منتقدانو تر منځ





## هغه معروف محدثين چي پر بخاري ئې نقدونه کړي

## د رواياتو د کتابونو د تنقيح او توحيد ضرورت




حكمتيار



بخاري؛ پلويان او منتقدان ئې

# صحيح بخاري

## د پلويانو او منتقدانو تر منځ

**هغه معروف محدثين چې پر صحيح بخاري ئې نقدونه کړي**

**د رواياتو د کتابونو د تنقيح او توحيد ضرورت**

**حکمتيار**

# فهرست

عنوان صفحه


مقدمه ---------------------------------------------------- ۱
صحیح بخاري ------------------------------------------------- ۹
او د وړې نجلۍ د نکاح جواز-------------------------------------- ۹
د بخاري بل روایت چي له دې سره ژور تناقض لري ------------------ ۱۱
د صفیه رضي الله عنها د نکاح په اړه کرکجن دروغ ------------------ ۱۹
د امریکایي ویل دورانت پر روایت د معترض باور او استناد!!--------- ۳۳
آیا بلوغ ته رسېدا؛ د نکاح د صحت یو شرط دئ؟-------------------- ۳٤
د زینب رضي الله عنها د نکاح په اړه دروغجن روایات --------------- ۳۹
د الطلاق سورې د څلورم آیت ناسم تفسیر -------------------------- ٤٤
آیا د نکاح موخه یوازي د اولاد درلودل دي؟------------------------ ۵۰
د یتیم ولي کولی شي په ماشومتوب کي ئې چا ته واده کړي؟----------- ۵۱
د قرآن د مدافعینو خلاف د ځینو عناد او کینه----------------------- ۵۵
د اوتیت القرآن و مثله روایت څېړنه -------------------------------- ۵٦
د بدر په جنګ کي د فرشتو شرکت د قرآن او روایاتو له مخي --- ٦۹
د بدر جګړي کي د فرشتو شرکت په اړه قرآن څه وایي؟--------------- ٦۹
د بدر جګړي اړوند روایات---------------------------------------- ۷۸

**د انسان په بڼه کې د فرشتو تجسم او موارد ئې ---------------------- ۸۰**

**اسلام ضد کړی او د مختلفو قرائتونو ادعاء او تبلیغ ------------------ ۸۳**

**له ام کلثوم سره د عمر رضي الله عنه د نکاح غلط روایت ------------ ۸۵**

**بخاري او پر سلیمان علیه السلام د ۱۰۰ مېرمنو درلودو تور------------ ۹۱**

**پر داؤد علیه السلام د ۱۰۰ مېرمنو درلودو تور ------------------------ ۹٤**

**په بخاري کې پر رسول الله د سحر اړوند روایت--------------------- ۱۰۵**

**له خضر سره د موسی علیه السلام د لیدنې متعارض روایات --------- ۱۰۸**

**د خضر مربوط روایات------------------------------------------ ۱۰۹**

**معراج د ویښې سفر وو که د رؤیا؟ --------------------------------- ۱۱۳**

**د بخاري روایات د معراج په اړه څه وایي؟--------------------------- ۱۱۵**

**مرض له یوه بل ته سرایت کوي که نه؟------------------------------ ۱۱۷**

**آیا مړي په قبرونو کې څه اوري او احساس او تحرك لري؟------------ ۱۲۱**

**هغه ائمه او محدثین چې پر صحیح بخاري ئې نقدونه کړي--------- ۱۲٤**

**آیا بخاري تر ټولو زیات صحیح کتاب دئ؟ ------------------------- ۱۳۰**

**د صحیح بخاري په اړه هغه پوښتنې چې ځواب ئې نه مومو ------- ۱۳٤**

**د حدیث او سنت توپیر ------------------------------------------- ۱٤۰**

**تتمه --------------------------------------------------------- ۱٤٦**

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## مقدمه

الحمد لله و كفى و سلام على عباده الذين اصطفى و بعد:

څه موده مخكې د وړې نجلۍ د نكاح د حكم او پايلو په ارتباط د يوې رسالې ليكلو ته اړ شوم؛ چې په هغې كې څو مهم مسائل څېړل شوي وو: قرآن او د ورې نجلۍ نكاح، د اجباري نكاح بدي پايلې، د عائشې رضي الله عنها د نكاح اړوند ناسم روايات، قرآن او د نكاح د صحت شرائط، د ماشومې نجلۍ د نكاح د جواز ثابتولو په موخه د يوه آيت ناسم تفسير او تعبير، د عائشې رضي الله عنها خلاف د تورونو او تبليغاتو وجوهات؛ او ځينې نور اړوند مسائل؛ په دې وروستيو كې يوه ښاغلي؛ چې زه ئې د نوم يادول ضروري نه گڼم؛ پر دې ليكنې اعتراض كړى وو او د وړې نجلۍ نكاح ئې نه يوازې جائزه گڼلې؛ بلكې دفاع ئې ترې كړې؛ په خپلې ډېرې كمزورې دفاعيه كې ئې تمسك او استناد پر داسې روايت وو چې د سند له پلوه غريب او ضعيف او د متن له پلوه د قرآن له صريح آيت سره متعارض دئ؛ هڅه ئې كړې؛ خو ناكامه هڅه چې په قرآن كې هم كوم سند او مُسْتَمْسَك ورته ومومي؛ بالآخره ئې د الطلاق سورې د څلورم آيت په يوې فقرې غير وارد او ناسم استناد كړى؛ په داسې حال كې چې دا آيت د ځينو مېرمنو د عدت په ارتباط دئ نه د نكاح په ارتباط؛ ده په خپلې دفاعيه كې تر ټولو زيات په دې زور اچولى چې بخاري له قرآن وروسته تر ټولو اصح كتاب دئ او د امت ټولو علماءو د هغه په صحت اجماع او اتفاق كړى؛ او څوك چې د بخاري په كوم روايت اعتراض كوي هغه منكر حديث دئ!!؛ نه مې غوښتل له داسې خلكو سره په مناظرو او بحثونو خپل وخت ضائع كړم؛ خو د دې موضوع اهميت ته په پام سره مې ضروري او گټوره وگڼله چې هم د ده پوښتنو ته ځواب ووايم او هم ئې استدلال وڅېړم.

ښاغليه! ما ته ووايه: څه شي دې ته هڅولی او پارولی يې چې ملا وتړې او له دې دفاع وکړې چې د ووړې نجلۍ نکاح جائزه ده؟ څه مصلحت دي په دې دفاع کې ليدلی؟ آيا ستا عقل دا مني چې يوه ووړه نجلۍ او هلك تر تولد وړاندې، يا په ورڼې کې؛ د پلار او نيکه له لوري د خپل يوه ملگري زوی او لمسي ته په نکاح ورکړې؛ په داسې حال کې چې نه پوهېږي د ده زوم به روغ وي که په سخته بيمارۍ اخته، لېونی که په سد، بد اخلاق او مفسد او که صالح او نېك؟ ولې د ذليلې طمع له امله د يوه انسان په ټول ژوند او برخليك لوبې کوي؟ که زموږ ښکلی دين په عادي مالي مسائلو او ډېر پلور کې د مبيعې او جنس په نه شتون کې؛ مبايعه ناجائزه گڼې؛ نو د ماشوم تر ولادت وړاندې او په غياب او نه شتون کې به ئې څنگه د نکاح پرېکړه جائزه وي؟! که د اولاد د بلوغ په حالت کې؛ د نکاح په مراسمو کې د دوی حضور او ايجاب او قبول ضروري شرط وي او د دوی له موافقې پرته نکاح صحت نه لري؛ مگر دا چې څوك د خپل نفس او مهر وکيل ونيسي؛ پلار او نيکه هم يوازې په هغه صورت کې د دوی د مهر او نفس وکالت کولی شي چې دا اختيار ئې ورکړی وي او د قاضي او نکاح اجراء کوونکي مخې ته دوه شاهدان وړاندې کړي؛ نو د دوی په غياب کې او حتی ماشومتوب او تر ولادت وړاندې به څنگه مختار وکيل گڼل کېږي؟ او پرېکړه به ئې شرعي او جائزه منل کېږي؟ او آيا دې ته دې هم پام کړی چې که ستا دا رأی او رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ئې منسوبول؛ د حقيقت خلاف او د شريعت او پيغمبر عليه السلام په ارتباط دروغجن تور وي؛ نو آيا په دوزخ کې دې خپل ځای هم غوره کړی؟ همغسې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: «مَنْ تَقَوَّلَ عَلَيَّ مَا لَمْ أَقُلْ، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ»": چا چې ما ته داسې وينا منسوب کړه چې ما نه ده ويلې؛ نو په جهنم کې دې د خپلې ناستې ځای غوره کړي"؛ او که په داسې جبري نکاح سره؛ همدا ماشوم سبا ځان وژنه کوي، خپل مېړه او نورو ته زهر ورکوي، له کور تښتي... په دې گناه او جنايت کې به ستا برخه څومره وي؟!

ما د بخاري يو روايت څېړلی؛ د خپل گران پيغمبر له حرمت او شخصيت مې دفاع کړې او دا مې ثابته کړې چې دا روايت له هره پلوه غلط دئ؛ څوك چې له دې سره موافق نه وي او غواړي له دې روايت دفاع وکړي؛ هغه بايد

يوازې دومره حق ځان ته ورکړي چې له همدې روايت په سمه او معقوله توګه دفاع وکړي: ضرورت نشته چې د ځان ستاينه يا سپيناوی وکړي او يا د نورو د نيت او علم په اړه قضاوت وکړي؛ لوستونکي به زما او د هغه د ليکنو په اړه قضاوت وکړي. که په نورو برخو کې د څه ليکلو او کوم نقد شوق او توان لري؛ نو مهرباني دې وکړي پر بخاري زما کتاب حکمة الباریٔ (څلور جلدونه؛ چې د بخاري نژدې دوه ثلثه روايات په کې څېړل شوي)، سلفي شم که مذهبي پاته شم (دوه جلدونه)؛ او (فتنه تکفير و انتحار) چې د سلفيانو او داعشيانو د افکارو او تګلارو په اړه ليکل شوي؛ په سړه سينه ولولي، وڅېړي او د خپلو ټولو استادانو په مرسته دې نقد کړي؛ موږ هر ناقد ته وايو: مطمئن اوسه چې د سم او وارد نقد به دې نه يوازې مننه کوو بلکې خپله اشتباه به حتماً منو او تصحيح کوو.

تا او هغو روايت ځپلو ته چې د يوه غريب روايت لپاره دې ته چمتو دي چې د قرآن د صريح آيتونو کرکجن تحريف ته ملا وتړي، له هيڅا دا مسلمه وينا نه مني چې د روايت د صحت لپاره دا ضروري شرط دئ چې له قرآن سره به مطابقت لري؛ بلکې مذهب ئې دا دئ چې وايي: د هر آيت يوازيني صحيح تفسير هغه دئ چې بخاري ورته صحيح ويلي!! او دا ځکه چې روايت د رسول الله صلى الله عليه و سلم کلام دئ او هغه د قرآن مفسر!! دې ښاغلو ته وايو: قرآن تر بخاري وړاندې هم کامل قرآن وو او مؤمنان پرې پوهېدل؛ او اوس هم له بخاري پرته پرې پوهېدی شي؛ آيا کولی شئ په صحيح بخاري کې يو داسې روايت راوښيئ چې په لوړې او قسم سره ووايئ: دا د رسول الله صلى الله عليه و سلم کلام دئ؛ الفظ ئې هم د ده دي، د الفاظو ترکيب ئې هم او معنی ئې هم؟! ما په بخاري کې نه يوازې داسې هيڅ روايت نه دئ موندلی؛ بلکې د بخاري ټول روايات مې؛ بلااستثناء د راويانو کلام موندلي؛ نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم کلام؛ او د بخاري په تکراري رواياتو کې مې دومره تعارضات موندلي چې ورته حيران شوی يم؛ راشئ د حکمة الباریٔ په لومړي جلد کې د بخاري د لومړي روايت شرح وګورئ؛ په يوه کې (الاعمال) او په بل کې (العمل)، په يوه کې (النية) او په بل کې (النيات)، په يوه کې (لامرئٍ) او په بل کې (لکل امرئٍ)، په يوه کې إِلَى دُنْيَا او په بل کې لِدُنْيَا او همداسې نور توپيرونه. په يوې جملې کې د يوه لفظ

تغییر په معنی کې ډېر بدلون راولي، لکه په دغه لومړني روایت کې لوستونکي ته دا پوښتنه راولاړېږي: ټول اعمال په نیت پوري تړلي دي او که کوم خاص عمل؟ (ځکه، په یوه کې العمل او په بل کې الاعمال) راغلي، پیغمبر علیه السلام د (نیة) صیغه کارولې که د (نیات)؟، د وینا اصلي بڼه کوم روایت منعکس کړې؟ په روایاتو کې د داسي توپیرونو وجه څرګنده ده او هغه دا چې راویانو چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم څه پخپله اورېدلي او یا له بل؛ نو نه دي توانېدلي چې ټول الفاظ او ترکیب ئې په بشپړ امانت او له تغییر پرته انتقال کړي؛ که دومره ئې هم کړې وې چې معنی په سمه توګه انتقال کړي که څه هم الفاظ او ترکیب ئې د راوي وي؛ ستر کار به ئې کړی وي؛ هیڅ راوي او هیڅ محدث به داسي ونه مومئ چې ادعاء ئې کړې وي؛ د ده د روایاتو الفاظ او ادبي ترکیب هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل کلام دئ. همدا راز که دغو روایاتو ته ځیر شئ نو هرومرو به دا پوښتنه درسره پیدا کېږي چې پیغمبر علیه السلام تر دې د مخه څه ویل؟ آیا د هجرت په اړه ئې خبري کولې که پر دې چې د عمل تعلق له نیت سره څنګه دئ؟ د بحث اصلي موضوع څه وه؟ ځکه یوازي په دې خبري له پوهېدو وروسته ویلی شو چې د نیت او عمل تر منځ دا تعلق عام دئ که خاص؟ یوازي د هجرت په څېر نیک عمل احتواء کوي که هر عمل؟ د روایت له وروستۍ برخي داسي معلومېږي چې پیغمبر علیه السلام د هجرت په اړه بحث کولو، د همدې بحث په ترځ کې ئې ویلي چې هجرت هغه عمل دئ چې د انسان نیت ئې څرنګوالی ټاکي. دا ځکه چې د نیت او عمل تړاو په لاندي صورتونو کې وي:

- نېك نیت او نېك عمل
- بد نیت او نېك عمل
- نېك نیت او بد عمل
- بد نیت او بد عمل
- یوازي نېك نیت له عمل کولو پرته
- یوازي بد نیت له عمل کولو پرته

په دغو شپږو صورتونو کې د نیت او عمل تړاو یو شانته نه دئ، په ټولو کې دا خبره صدق نه کوي چې نیت د عمل څرنګوالی ټاکي، یوازي په نېك عمل

کې نيت اعتبار لري، په بد عمل کې نيت اعتبار نه لري، نېك نيت له عمل کولو پرته هم معتبر ګڼل کېږي او انسان پر بد نيت له عمل پرته نه نيول کېږي. بد عمل په هر صورت کې بد دئ، که ئې تر شا نېك نيت وي يا بد نيت، دلته نيت هيڅ اعتبار نه لري.

په قرآن کې دا مطالب (إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ) او (وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى)؛ نه لفظاً او صراحتاً مومو او نه تلويحاً او معناً؛ د دې خلاف دا مومو: (وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى) النجم ۳۹: او دا چې انسان ته له خپلې سعي پرته بل څه نشته. يعني قرآن د انسان برخليك او عاقبت د ده د عمل په څرنګوالي پورې مشروط او منوط ګڼلی؛ او همدا د ټولو الهي کتابونو محوري مطلب ښيي؛ اما دا روايت د دې اصل خلاف وايي: هر انسان به همغه څه تر لاسه کوي چې ده ئې نيت کړی!!

هر معروف علمي شخصيت او د هغه افکار، آراء او ليکنې؛ د صحيح بخاري په شمول؛ هم کلك مدافعين لري او هم جدي منتقدين؛ دا يو عادي او د منلو وړ بهير دئ؛ هر څوك د بل له شخصي رأی او کړنې سره د موافقت او مخالفت حق لري؛ مشروط په دې چې علمي او عقلي دلائل ولري؛ ستونزې هغه مهال رامنځته کېږي چې په مدافعينو کې جاهل او متعصب محبين راوټوکېږي او په منتقدينو کې هغه چې له دليل پرته اعتراضونه کوي. د امام بخاري رحمه الله مينه والو او محبينو او د صحيح بخاري مدافعينو او منتقدينو ته د خواخوږۍ څو توصيې او سپارښتنې لرم:

دا هم ستاسو حق دئ او هم خپله مذهبي دنده چې له امام بخاري او د صحيح البخاري له هغو برخو او مواردو دفاع وکړئ چې د صحت په اړه ئې کاملاً مطمئن يئ؛ خو دا په پام کې ولرئ چې تر بدې دفاع؛ نه دفاع غوره ده؛ څوك چې دفاع کوي؛ بايد د سمې دفاع وړتيا، ظرفيت او استعداد ولري؛ په هغو مواردو کې دفاع وکړي چې دفاع ممکنه وي؛ په داسې صيغه، اخلاق او ادبياتو دفاع وکړي چې مخالف قانع کړي؛ سوالونو ته ئې ځواب ووايي او له مخالفت ئې موافقت او حمايت ته راواړوي؛ که دفاعيه ليکې نو په دقت او بشپړ احتياط سره ئې وليکي؛ د پوهانو له نظره ئې تېره کړي؛ که د ليکوالۍ تجربه او سابقه نه لري؛ خپله ليکنه د ښه او موفق ليکوال له نظره تېره کړي؛ که غواړي د عامه رسنيو له لارې ئې نشر کړي؛ نو احتياط او دقت ئې

باید لا زیات وي؛ نه دا چې د وړیا شهرت تر لاسه کوونکو په څېر عمل وکړي او په دې سره هم ځان وشرموي او هم د بخاري په اړه حساسیتونه زیات کړي.

مدافعین باید له یوې خوا دې ته متوجه وي چې هر انسان خطاء کوي؛ خطاء د انسان له فطرت سره تړلې او غوړه شوې خصلت دئ، همغسې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ، وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ" سنن ابن ماجه، سنن الدارمی

له انس ابن مالك روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: د آدم هر زوی ډېر خطاء کېدونکی دئ؛ او د خطاء کېدونکو غوره ئې توبه کوونکي دي.

له بلې خوا ټول؛ مدافع او منتقد باید په خپل قضاوت کې عدالت مراعات کړي او په خپلې دفاع کې له غلو ډډه وکړي؛ همغسې چې الله تعالی فرمایي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ ۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَا ۖ فَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُواْ ۚ وَإِن تَلْوُۥٓاْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾ النساء

اې مؤمنانو! پر عدل قائم اوسئ، د الله لپاره شهادت ورکوونکي؛ که څه هم د خپل ځان خلاف مو وي یا د مور- پلار او یا خپلوانو خلاف؛ که غني وي یا فقیر؛ نو الله ترې اولی دئ؛ نو له عدالت د کړېدو په موخه د هوی او هوس متابعت مه کوئ، که خپلې ژبې تاو راتاو کړئ یا ډډه وکړئ؛ نو یقیناً چې الله پر هغه څه ښه خبر دئ چې تاسو ئې کوئ.

د دې لارښوونو غوښتنې دا دي:

- هیڅ انسان له خطاء لوړ او معصوم ونه ګڼو؛ مګر هغه چې الله تعالی ئې عصمت تضمین کړی؛ دا ومنو چې امام بخاري هم معصوم نه دئ.
- په عدالت ښه قائم اوسو؛ مضبوط او دقیق ودرېدونکي.
- په ټولنې کې د مسلمان حضور باید د هغو شهادت ورکوونکو حضور وي

چې تل د الله لپاره د حق مدافع شهادت ورکوونکي او عادلانه قضاوت کوونکي وي.

- که څه هم دا شهادت مو د خپل ځان په خلاف او ضرر وي یا د مور، پلار او یا د نورو خپلوانو خلاف.
- د چا فقر او غناء باید زموږ شهادت او قضاوت متأثره نه کړي. نه به له چا د کومې طمعې لپاره له حق شهادت ورکولو ډډه کوو او نه پر چا د زړه سوي او ترحم لپاره او د هغه د احترام او محبت په وجه.
- د هوی او هوس بندګي به نه کوو او له عدل او حق به نه کږېږو.
- مجامله او د حق په ویلو کې زړه نازړه کېدل پرېږدو، خپلې ژبې داسې تاو راتاو نکړو چې په څرګنده او ښکاره او واضح الفاظو د حق له بیانولو ځان تېر کړو.
- د شهادت له ورکولو ډډه نه کوو؛ نه به وېره موږ د شهادت له ورکولو منع کوي او نه طمع.
- الله تر هر چا اولٰی دئ، په خپلو شهادتونو کې الله ته پر هر چا ترجیح ورکوو، د هیچا لپاره داسې خبره نه کوو چې الله ناراض شي، که مو د غني یا فقیر مور، پلار او خپلوانو لپاره د رښتیني شهادت له ورکولو ډډه وکړه معنی ئې دا ده چې موږ نورو ته پر الله ترجیح ورکوو.

هو؛ ښاغلیه! دا اوامر او لارښووني هر مؤمن ته متوجه دي او تا ته هم؛ کاش تا خپل اعتراضي نقد او کمزورې دفاعیه؛ د هغو له نظره تېره کړې وي چې بخاري ئې په دقت سره لوستلې وي؛ مخلص دعوتګر او منصف قضاوتګر وي؛ او د هغه چا له نظره هم چې د پښتو ادبیات ئې معیاري وي او ستا لیکنه ئې تصحیح کړې وی؛ اوس ستا په دفاعیه کې هم له علمي پلوه ډېرې نیمګرتیاوې دي او هم له ادبي پلوه کافي نواقص؛ ستا په ټولې لیکنې کې لږ سمې او معیاري جملې موندل کېږي؛ که دې غوښتل بیا بله دفاعیه ولیکې؛ نو لومړی همدا مخکینۍ د پوهانو له نظره تېره کړه او بیا د هغوی په مشوره عمل وکړه. زه به وروسته ستا د لیکنې څو پراګرافونه چې له غلطیو ډک دي؛ ستا مخې ته کښېږدم. څه چې مې په دې لیکنې کې راغونډ کړي؛ نه له ځان او خپلې شخصي رأی د دفاع په موخه دي او نه ستا د ملامتولو او ماتولو په موخه؛ د ایمان په حکم مې لیکلي او د اسلام له سپېڅلي حریم د

دفاع لپاره مې ليکلي.

اللَّهُمَّ أَرِنَا الْحَقَّ حَقًّـا وَارْزُقْنَا اتِّبَاعَهُ
وَأَرِنَا الْبَاطِلَ بَاطِلًا وَارْزُقْنَا اجْتِنَابَهُ

يا الهي! حق راته حق وښيه او متابعت ئې راپه برخه کړه
او باطل راته باطل وښيه او اجتناب ترې راپه برخه کړه

اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي، وَقِنِي شَرَّ نَفْسِي

اې الله! ما ته زما رشد او کمال راوښيه، او د خپل نفس له شر مې وساته

آمين

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

# صحيح بخاري

## او د وړې نجلۍ د نکاح جواز

هغه چې د وړې نجلۍ نکاح ورته جائز برېښي؛ د بخاري پر يوه داسې غريب روايت استناد کوي چې نور ئې نه يوازې نه مني بلکې روايتاً او درايتاً ئې ناسم او غير معتبر ګڼي؛ د دې لپاره چې حقيقت جوت شي؛ دا رساله؛ د همدغه روايت په تفصيلي څېړنې او بحث سره پيلوم؛ ما هغه داسې مونډلی چې نه د سند له پلوه د حديث په کوم کتاب کې د راوړلو وړ دئ او نه د متن له پلوه؛ حتی پخپله د بخاري د نورو رواياتو خلاف دئ؛ دا ئې روايت:

٣٨٩٦ - عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ تُوُفِّيَتْ خَدِيجَةُ قَبْلَ مَخْرَجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ بِثَلَاثِ سِنِينَ فَلَبِثَ سَنَتَيْنِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ وَنَكَحَ عَائِشَةَ وَهِيَ بِنْتُ سِتِّ سِنِينَ ثُمَّ بَنَى بِهَا وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ. بخارى

هشام له خپل پلار روايت کوي چې وئې ويل: خديجه مدينې ته د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم له تلو درې کاله وړاندې وفات شوه؛ نو (رسول اللّٰه) دوه کاله يا دې ته نژدې موده همداسې پاته شو؛ بيا ئې عائشه په نکاح کړه په داسې حال کې چې هغه شپږ کلنه نجلۍ وه؛ او بيا ئې هغه مهال واده کړه چې نه کلنه وه.

هشام تبع تابعي او پلار ئې عروة تابعي دئ؛ په روايت کې نه د کوم صحابي يادونه شوې او نه ئې په پای کې دا ويل شوي چې عروة دا روايت له چا اورېدلی او نه دا ويل شوي چې که څه هم دا روايت ډېر غريب دئ خو نورو رواياتو ته په پام سره د منلو وړ ګڼل شوی. جنابه! تا بايد د همدې روايت له سند او متن دفاع کړې وی او خپل دلائل دې وړاندې کړي وی؛ نه دا چې اصلي موضوع پرېږدې او نور روايات راوړې!! دا يوه بده مغالطه ده؛

حقپال او د رأی خاوندان داسي نه کوي؛ هغوی نه سؤال په سؤال ځوابوي او نه دا چي کله په اصلي موضوع کې له بریالۍ دفاع او ځواب عاجز شي نو په بې ربطه بحثونو ځان او نور مصروفوي؛ نه ئې دفاع د تعصب له مخي وي او نه غُلو او کذب ته پناه وړي؛ د هغوی یو صفت دا وي چي کله سمه او تر خپلي خبري غوره وینا واوري؛ نو له ځنډ پرته ئې مني:

ٱلَّذِينَ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحۡسَنَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَىٰهُمُ ٱللَّهُۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ۝١٨ الزمر

هغه چي خبري ته غوږ نیسي او د هغي خبري متابعت کوي چي تر ټولو غوره وي؛ همدا دوی هغه دي چي اللّه هدایت کړي او همدا دوی عقلمن دي.

بیا وایم؛ دا روایت د سند له پلوه ډېر غریب دئ؛ په دوو طبقو (تابعینو او تبع تابعینو) کي یو یو راوي لري چي پلار او زوی (عروه او هشام) رحمة اللّه علیهما دي؛ له هشام هم دا روایت په شاوخوا ۱٤۰ هجري کال کي او هغه هم په کوفه کي روایت شوی؛ نه په مدینه کي!! یعني چي په مدینه کي تر دغي نېټې پوري؛ هیڅ تابعي او تبع تابعي؛ حتی د ده شاگرد امام مالك هم؛ له ده دا خبره نه ده اورېدلې چي عائشه رضي اللّه عنها په شپږ کلنۍ کي ورکړی شوې او په ۹ کلنۍ کي واده شوې!! او که احیاناً داسي روایت وی؛ نو بخاري باید یوازي همغه راوړی وی؛ د دې ضعیف او غریب روایت راوړلو ته څه ضرورت وو؟!

دا روایت په بخاري کي دوه ځله په دغو شمېرو ۳۸۹٦، ۳٦۸۳، راغلی؛ خو له بخاري او معجم الکبیر للطبراني پرته؛ د حدیث په بل هیڅ معتبر کتاب کي نه دئ راوړل شوی؛ دا یوه جدي پوښتنه ده چي ولي بل محدث؛ د امام بخاري د استادانو او شاگردانو په شمول؛ دا روایت د راوړلو وړ نه دئ گڼلی؟ پر دې سربېره د دې روایت په متن کي هم جدي ستونزي مومو؛ وایي: (فَلَبِثَ سَنَتَيْنِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ: نو دوه کاله یا دې ته نژدې موده همداسي پاته شو)؛ یعني چي رسول اللّه صلی اللّه علیه و سلم د خدیجې رضي اللّه عنها له وفات وروسته؛ د عائشې رضي اللّه عنها تر نکاح پوري دوه کاله همداسي مجرد او بې مېرمني پاته شو!! په داسي حال کي چي دا خبره قطعاً غلطه ده؛ حقیقت

دا دئ چې رسول اللّه صلی اللّه علیه و سلم د خدیجې رضي اللّه عنها له وفات لنډه موده وروسته؛ سوده رضي اللّه عنها په نکاح کړې او تر دریو کلنو پورې ئې یوازې له همدې مېرمنې سره تېر کړي. نو د روایت دا عبارت: "فَلَبِثَ سَنَتَيْنِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ" هيڅ حقیقت نه لري، همدا راز د روایت دا برخه بې بنسټه ادعاء ده چې وايي: بیا ئې له عائشې رضي اللّه عنها سره په داسې حال کې نکاح وکړه چې هغه شپږ کلنه وه. حال دا چې د خدیجې رضي اللّه عنها د وفات او د عائشې رضي اللّه عنها تر واده پورې نژدې پنځه کلونه تېر شوي!! هو؛ د عائشې خِطبه په مکه کې او د خدیجې رضي اللّه عنها له وفات څه موده وروسته شوې؛ خو واده ئې پنځه کاله وروسته شوی؛ نه دوه کاله وروسته. نه عائشه رضي الله عنها د ورکړې په وخت کې شپږ کلنه وه او نه د واده په وخت کې نه کلنه؛ بلکې د ورکړې په وخت کې پېغله وه او د واده په وخت کې ۱۹ کلنه. د روایت لويه او څرګنده ستونزه دا ده چې تر عائشې وړاندې ئې د سوده رضي اللّه عنها د نکاح هيڅ یادونه نه ده کړې؛ په داسې حال کې چې رسول اللّه صلی الله علیه و سلم د خدیجې رضي الله عنها له وفات وروسته؛ درې کاله یوازې له دې سره تېر کړي!!

## د بخاري بل روایت چې له دې سره ژور تناقض لري

صحیح بخاري تر دې عنوان لاندې (بَابُ جِوَارِ أَبِي بَكْرٍ فِي عَهْدِ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَقْدِهِ)؛ دا روایت په دوو سندونو له یوه راوي؛ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ راوړی:

قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، زَوْجَ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: لَمْ أَعْقِلْ أَبَوَيَّ قَطُّ إِلَّا وَهُمَا يَدِينَانِ الدِّينَ، وَقَالَ أَبُو صَالِحٍ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: لَمْ أَعْقِلْ أَبَوَيَّ قَطُّ إِلَّا وَهُمَا يَدِينَانِ الدِّينَ، وَلَمْ يَمُرَّ عَلَيْنَا يَوْمٌ إِلَّا يَأْتِينَا فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَفَيِ النَّهَارِ، بُكْرَةً وَعَشِيَّةً، فَلَمَّا ابْتُلِيَ المُسْلِمُونَ، خَرَجَ

أَبُو بَكْرٍ مُهَاجِرًا قِبَلَ الحَبَشَةِ، حَتَّى إِذَا بَلَغَ بَرْكَ الغِمَادِ لَقِيَهُ ابْنُ الدَّغِنَةِ، وَهُوَ سَيِّدُ القَارَةِ، فَقَالَ: أَيْنَ تُرِيدُ يَا أَبَا بَكْرٍ؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَخْرَجَنِي قَوْمِي، فَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَسِيحَ فِي الأَرْضِ، فَأَعْبُدَ رَبِّي، قَالَ ابْنُ الدَّغِنَةِ: إِنَّ مِثْلَكَ لاَ يَخْرُجُ وَلاَ يُخْرَجُ، فَإِنَّكَ تَكْسِبُ المَعْدُومَ، وَتَصِلُ الرَّحِمَ، وَتَحْمِلُ الكَلَّ، وَتَقْرِي الضَّيْفَ، وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ، وَأَنَا لَكَ جَارٌ، فَارْجِعْ فَاعْبُدْ رَبَّكَ بِبِلاَدِكَ، فَارْتَحَلَ ابْنُ الدَّغِنَةِ، فَرَجَعَ مَعَ أَبِي بَكْرٍ، فَطَافَ فِي أَشْرَافِ كُفَّارِ قُرَيْشٍ، فَقَالَ لَهُمْ: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ لاَ يَخْرُجُ مِثْلُهُ وَلاَ يُخْرَجُ، أَتُخْرِجُونَ رَجُلًا يُكْسِبُ المَعْدُومَ، وَيَصِلُ الرَّحِمَ، وَيَحْمِلُ الكَلَّ، وَيَقْرِي الضَّيْفَ، وَيُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الحَقِّ، فَأَنْفَذَتْ قُرَيْشٌ جِوَارَ ابْنِ الدَّغِنَةِ، وَآمَنُوا أَبَا بَكْرٍ، وَقَالُوا لِابْنِ الدَّغِنَةِ: مُرْ أَبَا بَكْرٍ، فَلْيَعْبُدْ رَبَّهُ فِي دَارِهِ، فَلْيُصَلِّ، وَلْيَقْرَأْ مَا شَاءَ، وَلاَ يُؤْذِينَا بِذَلِكَ، وَلاَ يَسْتَعْلِنْ بِهِ، فَإِنَّا قَدْ خَشِينَا أَنْ يَفْتِنَ أَبْنَاءَنَا وَنِسَاءَنَا، قَالَ ذَلِكَ ابْنُ الدَّغِنَةِ لِأَبِي بَكْرٍ، فَطَفِقَ أَبُو بَكْرٍ يَعْبُدُ رَبَّهُ فِي دَارِهِ، وَلاَ يَسْتَعْلِنُ بِالصَّلاَةِ، وَلاَ القِرَاءَةِ فِي غَيْرِ دَارِهِ، ثُمَّ بَدَا لِأَبِي بَكْرٍ، فَابْتَنَى مَسْجِدًا بِفِنَاءِ دَارِهِ وَبَرَزَ، فَكَانَ يُصَلِّي فِيهِ، وَيَقْرَأُ القُرْآنَ، فَيَتَقَصَّفُ عَلَيْهِ نِسَاءُ المُشْرِكِينَ وَأَبْنَاؤُهُمْ، يَعْجَبُونَ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رَجُلًا بَكَّاءً، لاَ يَمْلِكُ دَمْعَهُ حِينَ يَقْرَأُ القُرْآنَ، فَأَفْزَعَ ذَلِكَ أَشْرَافَ قُرَيْشٍ مِنَ المُشْرِكِينَ، فَأَرْسَلُوا إِلَى ابْنِ الدَّغِنَةِ، فَقَدِمَ عَلَيْهِمْ فَقَالُوا لَهُ: إِنَّا كُنَّا أَجَرْنَا أَبَا بَكْرٍ عَلَى أَنْ يَعْبُدَ رَبَّهُ فِي دَارِهِ، وَإِنَّهُ جَاوَزَ ذَلِكَ، فَابْتَنَى مَسْجِدًا بِفِنَاءِ دَارِهِ، وَأَعْلَنَ الصَّلاَةَ وَالقِرَاءَةَ، وَقَدْ خَشِينَا أَنْ يَفْتِنَ أَبْنَاءَنَا وَنِسَاءَنَا، فَأْتِهِ، فَإِنْ أَحَبَّ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى أَنْ يَعْبُدَ رَبَّهُ فِي دَارِهِ فَعَلَ، وَإِنْ أَبَى إِلَّا أَنْ يُعْلِنَ ذَلِكَ، فَسَلْهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْكَ

ذِمَّتَكَ، فَإِنَّا كَرِهْنَا أَنْ نُخْفِرَكَ، وَلَسْنَا مُقِرِّينَ لِأَبِي بَكْرٍ الِاسْتِعْلاَنَ، قَالَتْ عَائِشَةُ: فَأَتَى ابْنُ الدَّغِنَةِ أَبَا بَكْرٍ، فَقَالَ: قَدْ عَلِمْتَ الَّذِي عَقَدْتُ لَكَ عَلَيْهِ، فَإِمَّا أَنْ تَقْتَصِرَ عَلَى ذَلِكَ، وَإِمَّا أَنْ تَرُدَّ إِلَيَّ ذِمَّتِي، فَإِنِّي لاَ أُحِبُّ أَنْ تَسْمَعَ العَرَبُ، أَنِّي أُخْفِرْتُ فِي رَجُلٍ عَقَدْتُ لَهُ، قَالَ أَبُو بَكْرٍ: إِنِّي أَرُدُّ إِلَيْكَ جِوَارَكَ، وَأَرْضَى بِجِوَارِ اللَّهِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ بِمَكَّةَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قَدْ أُرِيتُ دَارَ هِجْرَتِكُمْ، رَأَيْتُ سَبْخَةً ذَاتَ نَخْلٍ بَيْنَ لاَبَتَيْنِ»، وَهُمَا الحَرَّتَانِ، فَهَاجَرَ مَنْ هَاجَرَ قِبَلَ المَدِينَةِ حِينَ ذَكَرَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَجَعَ إِلَى المَدِينَةِ بَعْضُ مَنْ كَانَ هَاجَرَ إِلَى أَرْضِ الحَبَشَةِ، وَتَجَهَّزَ أَبُو بَكْرٍ مُهَاجِرًا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَى رِسْلِكَ، فَإِنِّي أَرْجُو أَنْ يُؤْذَنَ لِي»، قَالَ أَبُو بَكْرٍ: هَلْ تَرْجُو ذَلِكَ بِأَبِي أَنْتَ؟ قَالَ: «نَعَمْ»، فَحَبَسَ أَبُو بَكْرٍ نَفْسَهُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَصْحَبَهُ، وَعَلَفَ رَاحِلَتَيْنِ كَانَتَا عِنْدَهُ وَرَقَ السَّمُرِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ. بخارى

ابن شهاب وويل: عروة بن زبير خبر راکړی چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمن عائشې رضي الله عنها وويل: «ما چي کله خپل مور او پلار پېژندلي؛ تل مي دواړه پر همدې دين (اسلام) ليدلي.» او ابو صالح وويل: عبدالله له يونس، هغه له زهري ما ته روايت وکړ، هغه وويل: عروة بن زبير خبر راکړی چي عائشې رضي الله عنها وويل: «ما چي کله خپل مور او پلار پېژندلي، تل مي دواړه پر همدې دين ليدلي؛ او پر موږ به داسي ورځ نه تېرېده چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به د ورځي په دواړو طرفونو؛ سهار او ماښام؛ زموږ کور ته نه راتلو. کله چي مسلمانان له کړاوونو سره مخ شول؛ ابوبکر د حبشې په لوري د هجرت په نيت ووت؛ تر دې چي «بَرْكُ الغِماد» ته ورسېد، هلته ابن الدَّغِنَه، چي د «قاره» قوم مشر وو، ورسره مخ

شو؛ وئې ويل: اې ابوبکره! چېرې ځې؟ ابوبکر وويل: خپل قوم مې له وطنه وايستم؛ غواړم په زمکه کې وګرځم او د خپل رب عبادت وکړم. ابن الدغنه وويل: ستا په څېر سړی باید ونه وځي او نه وایستل شي؛ ځکه ته له بې‌وسه سره مرسته کوې، خپلوي پالې، د ناتوانو بار پر اوږو اخلې، د مېلمه درناوی کوې او په ناورينونو کې د حق مرسته کوې. زه ستا پناه ورکوونکی يم؛ نو بېرته ستون شه او په خپل وطن کې د خپل رب عبادت کوه. نو ابن الدَّغِنَه سفر ته تيار او له ابوبکر رضي الله عنه سره بېرته راستون شو او د قريشو د کافرانو پر مشرانو وګرځېد او ورته وئې ويل: د ابوبکر په څېر سړی نه باید ووځي او نه وايستل شي. آیا داسې سړی باسئ چې له بې‌وسه سره مرسته کوي، خپلوي پالي، د ناتوانو بار پر اوږو اخلي، د مېلمه درناوی کوي او په ناورينونو کې د حق مرسته کوي؟ قريشو د ابن الدغنه پناه ومنله او ابوبکر ته ئې امان ورکړ؛ او ابن الدغنه ته ئې وويل: ابوبکر ته ووايه چې په خپل کور کې د خپل رب عبادت وکړي؛ لمونځ دې کوي او د قرآن چې کومه برخه غواړي، ودې لولي؛ خو په دې سره دې موږ نه ځوروي او په ښکاره دې دا کار نه کوي؛ ځکه وېرېږو چې زموږ زامن او مېرمنې به تر اغېز لاندې راولي. ابن الدغنه دا خبره ابوبکر ته ورسوله. ابوبکر په خپل کور کې د خپل رب عبادت کاوو؛ لمونځ او قرائت ئې له خپل کور بهر په ښکاره نه کول. وروسته له ابوبکر سره بله رأیه پيدا شوه؛ نو د خپل کور په انګړ کې ئې يو جومات جوړ کړ او راوووت؛ هلته به ئې لمونځ کاوو او قرآن به ئې لوست. د مشرکانو مېرمنې او زامن به ډلې ډلې پرې راټولېدل، په حيرانتيا به ئې ورته کتل. ابوبکر ډېر ژړغونی سړی وو؛ کله چې به ئې قرآن لوست؛ نو د خپلو اوښکو مخه ئې نشوی نيولی. دې کار د قريشو مشرکان وارخطا کړل؛ نو ابن الدغنه ته ئې ځوک ورولېږل؛ هغه ورته راغی؛ دوی ورته وويل: موږ ابوبکر ستا په پناه کې په دې شرط منلی وو چې په خپل کور کې د خپل رب عبادت وکړي؛ خو هغه له دې شرط واوښت، د خپل کور په انګړ کې ئې جومات جوړ کړ او لمونځ او قرائت ئې ښکاره کړ. موږ وېرېږو چې زامن او مېرمنې به مو تر اغېز لاندې راولي؛ نو ته ورشه؛ که خوښه ئې وي چې په خپل کور کې د خپل رب پر عبادت بسنه وکړي، همداسې دې وکړي؛ او که نه منې او غواړي دا کار په ښکاره وکړي، نو ترې وغواړه چې ستا د پناه تړون بېرته دروسپاري؛

ځکه مور دا نه خوښوو چې ستا پناه ماته کړو؛ خو ابوبکر ته هم اجازه نه ورکوو چې خپل عبادت په ښکاره وکړي. عائشې وويل: ابن الدغنه ابوبکر ته ورغی او ورته وئې ويل: ته په هغه شرط ښه پوهېږې چې ما ستا لپاره پرې تړون کړی وو؛ نو يا پر هماغه بسنه وکړه او يا زما پناه بېرته راوسپاره؛ ځکه زه دا نه خوښوم چې عرب واوري ما د هغه چا په اړه خپله ژمنه ماته کړې چې له هغه سره مې پرې تړون کړی وو؛ ابوبکر وويل: «ستا پناه بېرته درسپارم او د الله پر پناه راضي يم.» په هغه وخت کې رسول الله صلی الله عليه وسلم په مکه کې وو. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «په رښتيني رؤيا کې ستاسو د هجرت ځای راښودل شوی؛ ما يوه شوره زمکه وليده چې د دوو تورو ډبرينو سيمو تر منځ د خرما ونې په کې وې.» دا دواړه هماغه دوې «حَرَّتَانِ: په تورو ډبرو پوښل شوې زمکې» وې. کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره وکړه؛ نو چا چې هجرت کاوو، د مدينې پر لوري ئې هجرت وکړ؛ او ځيني هغه کسان هم مدينې ته راستانه شول چې د حبشې خاوري ته ئې هجرت کړی وو. ابوبکر هم د هجرت لپاره چمتو شو؛ خو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «لږ تم شه؛ زه هيله لرم چې ما ته هم د هجرت اجازه راکړل شي.» ابوبکر وويل: زما مور او پلار تر تا قربان! آيا ته د دې هيله لرې؟ وئې فرمايل: «هو.» نو ابوبکر د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرتيا لپاره ځان تم کړ چې ورسره ملګری شي؛ او هغه دوه سپرلۍ چې ورسره وې؛ څلور مياشتې ئې د (سَمُر: صحرايي اغزني ونې) پاڼې ورکولې.»

دا روايت په واضح الفاظو وايي: د عائشې د پلار او مور د ايمان راوړلو په وخت کې هغه داسې عمر کې وه چې پوهېدله والدينو ئې ايمان راوړی، محمد عليه السلام ئې ليدلو او پېژندلو چې هره ورځ؛ سبا او ماښام د دوی کور ته راتلو؛ هغه د خپل پلار د هجرت خبره هم کوي؛ دا د حبشې لوري ته د مؤمنانو د لومړي هجرت پېښه ده چې د بعثت په پنځم کال رامنځته شوه؛ داسې خبرې خو ماشومان اکثراً تر لس کلنۍ پورې هم نشي درك کولی؛ نو دا مهال به هغه شاوخوا لس کلنه وه؛ پوښتنه دا ده چې د بخاري دا روايت به صحيح ګڼو که هغه بل چې وايي: عائشه رضي الله عنها په شپږ کلنۍ کې کوژده شوې؟ په داسې حال کې چې د دې روايت له مخې هغه دا مهال لا

پيدا شوې نه وه!! دا ځکه چې که د خديجې رضي الله عنها د وفات په کال (د بعثت لسم کال) عائشه شپږ کلنه وګڼل شي؛ نو د بعثت په څلورم کال به پيدا شوې وي؛ (١٠-٦=٤)؛ د بخاري په دوو روايتونو کې چې دواړه عروه ته منسوب شوي؛ دا جدي تناقض به څنګه توجيه کوو؟ يو وايي: د بعثت په کال هغه عقلمنه وه او بل وايي: تر بعثت څلور کاله وروسته پيدا شوي!!

د بخاري دې روايت ته هم ځير شئ:

٤٨٧٦ - أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يُوسُفُ بْنُ مَاهَكٍ، قَالَ: إِنِّي عِنْدَ عَائِشَةَ أُمِّ المُؤْمِنِينَ، قَالَتْ: " لَقَدْ أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَإِنِّي لَجَارِيَةٌ أَلْعَبُ، (بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ)؛ القمر: ٤٦" بخاری

يوسف بن ماهک وايي: زه د مؤمنانو له مور عائشې رضي الله عنها سره وم؛ هغې وويل: "يقيناً چې پر محمد صلى الله عليه وسلم دا آيت: (بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ: نه؛ بلکې د قيامت ساعت ئې وروستى موعد دئ او دا ساعت ستر آفت او ډېر تريخ ساعت دئ)؛ په مکه کې او په داسې حال کې نازل شوى وو چې زه لا داسې نجلۍ وم چې لوبې مې کولې".

د علماءو او څېړونکو له نظره؛ د القمر سوره د بعثت په شپږم کال نازله شوې؛ که د بخاري د ٣٨٩٦ روايت له مخې د عائشې رضي الله عنها د کوژدې په کال؛ هغه شپږ کلنه وه، نو د بعثت په شپږم کال به يوه کلنه وه؛ يوه کلنه ماشومه خو نه په کوڅو کې لوبې کولى شي، نه ئې د هغه مهال پېښې په ياد پاته کېږي، نه آيتونه حفظ کولى شي او نه ئې د نزول پېښه او وخت بيانولى شي.

د بخاري په دغو درېيو رواياتو ٣٨٩٦، ٣٩٠٥ او ۴۸۷۶ کې به کوم صحيح ګڼو؟ ټول هممهاله صحيح ګڼل مغالطه ده؛ آيا ګمان کولى شو چې امام بخاري درې واړه صحيح ګڼلي؟!؛ د دوى په متن کې له پراخ تناقض سره سره!! د بخاري متعصب پلويان ولې هغه روايت ته ترجيح نه ورکوي چې د صحت امکان ئې قوي برېښي او د عائشې رضي الله عنها عمر د کوژدې په مهال شاوخوا ٢٠ کاله ګڼي؟

اجازه راکړئ له متعنتيو وپوښتم: ستاسو مجبوريت څه او غرض څه دئ چي له داسي ضعيف، له بل سره متناقض او د قرآن خلاف روايت؛ ناسمه او ناکامه دفاع کوئ؟ آيا د بخاري دا روايت مو هم لوستلی؟ د هغه پر ځای مو ولي دا نه دئ غوره کړی؟ او بيا ولي دومره غلو چي څوك ئې درسره نه مني نو هغه د منکر حديث په نامه يادوئ او د هغو له ډلي ئې ګڼئ چي ستاسو تکفيري ډلي تکفير کړي؛ آيا له يوه غلط روايت؛ نه کوم صحيح حديث؛ دفاع دومره درته ارزښت لري؟ مګر له دې خبر نه يئ چي امام بخاري خپل کتاب د څومره ضعيفو او ناسمو رواياتو له چڼلو وروسته؛ په څه باندي ٧٠٠٠ کې راخلاصه کړی؛ باور مي دا دئ چي که امام بخاري ٧٠٠٠ نور روايات هم له چڼلو پرته پر کتاب علاوه کړي وی نو نن به تاسو له هغو رد شوو رواياتو همداسي دفاع کوله لکه اوس چي د بخاري په درېيو روايتونو کې تر ټولو د ضعيف او ناسم روايت دفاع کوئ. ما خو ستاسو ملګري وليدل چي په مصر کې ئې د ستر وحشي او ظالم سيسي ملګرتيا وکړه؛ په افغانستان کې ئې له کمونستانو سره د ائتلافي حکومت او بيا شل کاله د جمهوريت سيکولر حکومت ملتيا وکړه، په فلسطين کې د حماس مخالفت او د اسرائيل حمايت؛ او آيا له دې هم خبر يئ چي مېرمن هيلري کلنتون ستاسو د ډلي په اړه څه ويلي؟ ما ئې څو ځلي له CNN سره مرکه او د امريکا کانګريس غونډې ته وينا واورېده چي ويل ئې: ... د شوروي اتحاد خلاف جنګ په دوران کې مو سعوديانو ته وويل: افغانستان ته رضاکار جنګيالي هم ولېږئ او وهابي ډوله اسلام هم؛ هغوی دا کارونه وکړل او پر دې سربېره ئې ملياردونه ډالر پانګونه هم وکړه...!! جنابه! د چا خوا ته چي ته همدا اوس ولاړ يې او دا ليکني دي د هغوی رضاء تر لاسه کولو لپاره دي؛ دا ډله د امريکا او بريتانيا په شمول پنځو هېوادونو د مجاهدينو؛ په ځانګړې توګه د حزب اسلامي خلاف جوړه کړې؛ هغوی دوه ځله کابل ته رسولې او اقتدار ئې ورسپارلی؛ نو څنګه ومنو چي له يوه غريب روايت؛ د داسي ډلي دفاع به د ايمان په حکم او له حديث د دفاع په موخه وي؟!

د بخاري همدا غريب روايت په دوو طبقو کې يوازي يو يو راوي لري، هيڅ راوي ئې نه له ځان پرته بل شاهد لري او نه په قرآن کې کوم شاهد؛ يوازي هشام او پلار ئې عروه ته دا ناسمه او د حقيقت خلاف وينا منسوب

شوې چي وايي: د عائشې رضی اللّٰه عنها واده په نه کلنۍ کې تر سره شوی، متأسفانه همدا خبره په مسلمانانو کې مشهوره شوې او د وړو نجونو ودونه دود شوي؛ او اکثراً همدا او د زور او عدم رضايت ودونه؛ په ځان وژنو، له کور تېښتي او نورو فتنو او مصيبتونو منتج شوي. ځيني د دغه روايت د توجيه لپاره وايي چي د تودو سيمو نجلۍ او هلکان د سړو سيمو په پرتله ژر بلوغ ته رسېږي؛ دا ځکه چي دوی هم د نکاح د صحت لپاره بلوغ شرط ګڼي او رأيه ئې دا ده چي کېدی شي يوه نجلۍ په نه کلنۍ کې پېغلتوب ته ورسېږي؛ خو تاسو بلوغ هم شرط نه ګڼئ!! حيف په داسي عقل او ايمان!!

رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم ته د يوې ماشومي نکاح منسوبول؛ او په دې سره د وړو نجونو د نکاح مجوز هغو ته په لاس ورکول چي د هوس له ټولو پولو اوړي او په همدې سره د قرآن د يوه ځرګند حکم مخالفت کول؛ دا کومه عادي قضيه نه ده؛ نن په نړۍ کې دې ته د يوه ستر جرم په سترګه کتل کېږي چي څوك په ورې نجلۍ جنسي تېری وکړي؛ که دا په زور وي او که په رضاء؛ حتی په هغو هېوادو کې هم چي نه ئې قوانين د خوښي زنا جرم ګڼي او نه ئې ولس. موږ چي څه وايو د سپېڅلي قرآن او د اسلام د ښکلي دين له حريم دفاع کوو؛ خو متأسفانه تاسو د هوسپالو د هوس لپاره په تکلف سره مجوزونه ورته لټوئ او جوړوئ او جعلي فتوی‌ګاني ورکوئ؛ تاسو حتی رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم ته داسي څه منسوبوئ چي هيڅکله نه غواړئ بل څوك ستاسو پلار ته هغه منسوب کړي؛ تاسو داسي روايتونه هم منئ او دفاع ترې کوئ چي وايي: فلان صحابي وويل: موږ به په خپلو منځونو کې ويل: رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم ته د ۳۰- ٤۰ کسانو جنسي طاقت ورکړی شوی وو!! او دا مو هم په خپلو مقبولو کتابونو کې راغلي چي رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم ام المؤمنين صفيه رضي اللّٰه عنها په داسي حال کې نکاح کړه او مباشرت ئې ورسره وکړ؛ چي مېړه، پلار او ورور ئې په جنګ کې وژل شوي وو او دا هم په عدت کې وه او هم د دې ستر غم په وير کې!! دا ښکرور دروغ، پر رسول الله صلی الله عليه و سلم دا تور چي په عدت کې ئې مباشرت کړی؛ آيا د ايمان او عقل خاوند د داسي غلط تور جسارت کولی شي؟ رښتيا ده چي جاهل دوست تر ځيرك دښمن زيات بد او مضر وي.

## د صفيه رضي الله عنها د نکاح په اړه کرکجن دروغ

راشئ د صفيه رضي اللّه عنها اړوند روايت هم په ځير سره ولولئ:

عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ غَزَا خَيْبَرَ، فَصَلَّيْنَا عِنْدَهَا صَلاَةَ الْغَدَاةِ بِغَلَسٍ، فَرَكِبَ نَبِيُّ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَرَكِبَ أَبُو طَلْحَةَ، وَأَنَا رَدِيفُ أَبِي طَلْحَةَ، فَأَجْرَى نَبِيُّ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي زُقَاقِ خَيْبَرَ، وَإِنَّ رُكْبَتِي لَتَمَسُّ فَخِذَ نَبِيِّ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ حَسَرَ الإِزَارَ عَنْ فَخِذِهِ حَتَّى إِنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِ فَخِذِ نَبِيِّ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا دَخَلَ الْقَرْيَةَ قَالَ "اللَّه أَكْبَرُ، خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ". قَالَهَا ثَلاَثًا. قَالَ وَخَرَجَ الْقَوْمُ إِلَى أَعْمَالِهِمْ فَقَالُوا مُحَمَّدٌ- قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِنَا- وَالْخَمِيسُ. يَعْنِي الْجَيْشَ، قَالَ فَأَصَبْنَاهَا عَنْوَةً، فَجُمِعَ السَّبْيُ، فَجَاءَ دِحْيَةُ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللَّه، أَعْطِنِي جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ. قَالَ "اذْهَبْ فَخُذْ جَارِيَةً". فَأَخَذَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ، فَجَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللَّه، أَعْطَيْتَ دِحْيَةَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ سَيِّدَةَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرِ، لاَ تَصْلُحُ إِلاَّ لَكَ. قَالَ "ادْعُوهُ بِهَا". فَجَاءَ بِهَا، فَلَمَّا نَظَرَ إِلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ "خُذْ جَارِيَةً مِنَ السَّبْيِ غَيْرَهَا". قَالَ فَأَعْتَقَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَتَزَوَّجَهَا. فَقَالَ لَهُ ثَابِتٌ يَا أَبَا حَمْزَةَ، مَا أَصْدَقَهَا قَالَ نَفْسَهَا، أَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا، حَتَّى إِذَا كَانَ بِالطَّرِيقِ جَهَّزَتْهَا لَهُ أُمُّ سُلَيْمٍ فَأَهْدَتْهَا لَهُ مِنَ اللَّيْلِ، فَأَصْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَرُوسًا فَقَالَ "مَنْ كَانَ عِنْدَهُ شَىْءٌ فَلْيَجِئْ بِهِ". وَبَسَطَ نِطَعًا، فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِالتَّمْرِ، وَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِالسَّمْنِ- قَالَ وَأَحْسِبُهُ قَدْ ذَكَرَ السَّوِيقَ-

قَالَ فَحَاسُوا حَيْسًا، فَكَانَتْ وَلِيمَةَ رَسُولِ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ .
(بخاری:۳۷۱)

له انس رضي اللّٰه عنه روايت دئ چي رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم د خيبر غزا وکړه، د سهار لمونځ مو خيبر ته نژدې په تياره کي اداء کړ، رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم سپور شو او ابو طلحه هم سپور شو او زه د ابو طلحه رضي اللّٰه عنه تر شا سپور وم، رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم د خيبر په کوڅو ورگډ شو، زما گونډې (زنگنونه) د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم په مبارک ورانه لگېدل، بيا ئې لونگ له خپل ورانه پورته کړ، تر دې چي ما د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم د ورانه سپين والی وليد. او کله چي رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم کلي ته ننوت وئې فرمايل: "اللّٰه اکبر، خيبر ړنگ شو، موږ چي کله د کوم قوم مېنو ته ورشو، نو د وېرول شوو سباوون بد وي". دا خبره ئې درې ځلي تکرار کړه. انس رضي اللّٰه عنه وايي: د خيبر يهودان خپلو کارونو ته راووتل او سره وئې ويل: محمد (صلی اللّٰه عليه و سلم) او لښکر ئې راغلی. انس رضي اللّٰه عنه وايي: موږ خيبر په زور سره فتح کړ او کله چي اسيران راټول کړی شول (دحيه) راغی او وئې ويل: يا رسول اللّٰه! له دې اسيرانو يوه وينځه راکړه، وئې فرمايل: (لاړ شه او يوه وينځه واخله)، دحيه لاړ او صفيه ئې د ځان لپاره غوره کړه. پدې وخت کي يو سړی رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم ته راغی او ورته وئې ويل: يا رسول اللّٰه! د قريظه او نضير سرداره صفيه بنت حيي دي دحيه ته ورکړه؛ هغه خو له تا پرته د بل چا لپاره مناسبه نه ده؟ وئې فرمايل: (دحيه او صفيه راوغواړئ). دحيه هغه راوستله، رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم چي ورته وکتل وئې فرمايل: (ته له دې اسيرانو يوه بله وينځه واخله). انس رضي اللّٰه عنه وايي: بيا رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم صفيه آزاده کړه او ځان ته ئې په نکاح کړه، ثابت ورته وويل: په مهر کې ئې څه ورکړل؟ وئې ويل: آزادول ئې مهر ورته وټاکو، او د لاري په اوږدو کي ام سليم رضي اللّٰه عنها ورته جوړه کړه او د شپې ئې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم ته ورولېږله، رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم سهار ته عروس (زوم يا شاه) وو او وئې فرمايل: (له چا سره چي څه شی وي، هغه دي راوړي)، د څرمني ټوټه ئې وغوړوله، يوه سړي به

خرما راوړله، بل سړي به غوړي راوړل، راوي وايي فکر کوم چي انس رضي اللّٰه عنه سويق يا ستوان هم ياد کړل، بيا ئې دا شيان سره ګډ کړل او همدا د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم وليمه (د واده خواړه وو).

دا روايت او محتواء ئې په بخاري کې ۳۲ ځله نور هم په تکرار سره راغلي!! په دغو شمېرو: ٦١٠، ٩٤٧، ٢٢٢٨، ٢٢٣٥، ٢٨٨٩، ٢٨٩٣، ٢٩٤٣، ٢٩٤٤، ٢٩٤٥، ٢٩٩١، ٣٠٨٥، ٣٠٨٦، ٣٣٦٧، ٣٦٤٧، ٤٠٨٣، ٤٠٨٤، ٤١٩٧، ٤١٩٨، ٤١٩٩، ٤٢٠٠، ٤٢٠١، ٤٢١١، ٤٢١٢، ٤٢١٣، ٥٠٨٥، ٥١٥٩، ٥١٦٩، ٥٣٨٧، ٥٤٢٥، ٥٩٦٨، ٦١٨٥، ٦٣٦٣،

له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چي ولې يو روايت او له يوې خاصي موضوع سره؛ په دومره زيات شمېر تکرار سره راوړل شوی؟ مګر يو ځل ئې کافي نه وو؟ او ولې دومره اوږد روايت ۳۳ ځلي په بخاري کې راغلی؟؛ هغه هم په داسي حال کې چي په دې تکراري رواياتو کې کافي ډېر توپيرونه او تعارضات شته؛ داسي مطالب هم په کې شته چي قطعاً د منلو او د حديث په کتابونو کې د راوړلو وړ نه دي؛ ما په حکمة الباريْ کې د هر روايت ټول تکراري موارد؛ يو د بل څنګ کې ايښي، د ټولو طبقو راويان مې له نظره تېر کړي، د دوی په الفاظو او ترکيب کې مي ټول توپيرونه، تعارضات او تضادات په ګوته کړي، او دا ټول مي د اصلي روايت له ژباړي وروسته؛ د تکرار او توپير تر عنوان لاندي ليکلي، او په دې توګه مي لوستونکي ته دا کار آسان کړی چي وګوري د روايت سند او محتواء څومره د اعتبار او منلو وړ ده. د بخاري د دې روايت دا برخي قطعاً د منلو وړ نه دي: ۱- د صفيه رضي اللّٰه عنها نکاح او وليمه د سفر په دوران کې او د عدت تر بشپړېدو مخکې، ۲- دا چي رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم خپل ورون لوڅ کړی، ۳- دا چي درې تنه پر يوه آس سپاره وو او د انس زنګون د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم له لوڅ ورون سره لګېدو. تفصيل ئې د حکمة الباريْ په اول جلد کې وګوريْ؛ چي نور اشکالات او اضطرابات هم درته جوت شي. حتماً پوهېږئ چي په عدت کې مباشرت حرام دئ، د نارينه ورون عورت دئ او له خپلې مېرمني پرته بل ته ئې لوڅول حرام دي. د هغه چا په اړه دي قضاوت څه دئ چي د داسي غريب او ضعيف روايت په استناد ئې د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه و سلم ستر او سپېڅلي شخصيت ته دا کارونه منسوب کړي؟ ولې ئې هغه

روايات نه دي غوره کړي چي دا تورونه په کي نشته، لکه دا چي صفيه رضي الله عنها ايمان راوړ، ايمان د هغې بشپړه آزادي تأمين کړه، رسول الله صلی الله عليه و سلم آزاده کړه، له آزادۍ وروسته هغه د بشپړ اختيار خاونده شوه چي د خپل نفس په اړه له کوم محدوديت پرته تصميم ونيسي، رسول الله صلی الله عليه و سلم د نکاح وړانديز ورته کړی او هغې موافقه کړې؛ د عدت موده ئې د ام سليم په کور کي تېره کړې؛ ولي ئې د دې پر ځای يو مشبوه روايت؛ له ټولو تعارضاتو سره ۳۳ ځلي راوړی؟ که د چا پلار ته څوک دا کارونه منسوب کړي؛ غبرگون به ئې څه وي؟ راشئ په دې ارتباط د يوه دردمن عرب ورور وينا ته ځير شو:

مَاذَا يَعْنِي ذَلِكَ؟ يَعْنِي ذَلِكَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ صَفِيَّةَ وَدَخَلَ بِهَا بَعْدَ أَنْ قُتِلَ زَوْجُهَا وَأَبُوهَا وَإِخْوَتُهَا وَأَبْنَاءُ عُمُومَتِهَا، غَيْرَ مُرَاعٍ لِمَشَاعِرِهَا وَلِحَالَتِهَا النَّفْسِيَّةِ، بَلْ دَخَلَ بِهَا فِي نَفْسِ اللَّيْلَةِ. لَيْسَ هَذَا فَقَطْ، وَبِنَاءً عَلَى هَذِهِ الرِّوَايَةِ، فَإِنَّ الرَّسُولَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ خَالَفَ كِتَابَ اللَّهِ؛ حَيْثُ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ جَعَلَ عِدَّةً مُحَدَّدَةً لِلْمَرْأَةِ الَّتِي مَاتَ زَوْجُهَا، وَهِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ. قَالَ تَعَالَى: (وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) البقرة: ٢٣٤.

وَلَكِنَّ هَذِهِ الرِّوَايَةَ وَأَخَوَاتِهَا تَنْسِبُ لِلنَّبِيِّ أَنَّهُ تَزَوَّجَ صَفِيَّةَ وَدَخَلَ بِهَا فِي نَفْسِ الْيَوْمِ الَّذِي قُتِلَ فِيهِ زَوْجُهَا، فَأَيُّ عَاقِلٍ يُمْكِنُ أَنْ يُصَدِّقَ ذَلِكَ؟ وَهَلْ هُنَاكَ إِسَاءَةٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْظَمُ مِنْ هَذِهِ الْإِسَاءَةِ؟ مَنْ لَهُ مَصْلَحَةٌ أَنْ يُصَوِّرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذِهِ الْوَحْشِيَّةِ؟ كَيْفَ يُمْكِنُ قَبُولُ مِثْلِ هَذِهِ الرِّوَايَاتِ وَالدِّفَاعُ عَنْهَا؟ لِمَاذَا الْإِصْرَارُ عَلَى قَبُولِ مِثْلِ هَذِهِ الرِّوَايَاتِ وَالدِّفَاعِ عَنْهَا مِنْ قِبَلِ مَدْرَسَةِ الْحَدِيثِ؟ كَيْفَ يُمْكِنُ تَقْدِيمُ صُورَةِ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَالَمِ وَنَحْنُ نُرَوِّجُ مِثْلَ هَذِهِ الرِّوَايَاتِ؟ هَلْ هَذِهِ الرِّوَايَةُ وَغَيْرُهَا تَنْسَجِمُ مَعَ صُورَةِ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي يُبَيِّنُهَا كِتَابُ اللَّهِ، الَّذِي يَصِفُ الرَّسُولَ بِأَنَّهُ رَحْمَةٌ لِلْعَالَمِينَ، وَأَنَّهُ عَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ؟ فِي الْمُقَابِلِ، لَوْ عُدْنَا إِلَى شُرَّاحِ هَذِهِ الرِّوَايَةِ الْمُحْرِجَةِ، لَرَأَيْنَا الْعَجَبَ الْعُجَابَ مِنَ التَّأْوِيلَاتِ وَالتَّفْسِيرَاتِ الَّتِي لَا تَتَّسِقُ مَعَ هَذِهِ الرِّوَايَةِ، مِنْ أَجْلِ تَجْمِيلِهَا وَتَسْوِيقِهَا وَجَعْلِهَا مَقْبُولَةً. وَكَانَ الْأَوْلَى بِهِمْ رَدُّ هَذِهِ الرِّوَايَةِ وَتَضْعِيفُهَا وَتَبْرِئَتُهُ صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ هَذَا الْهُرَاءِ، وَلَكِنَّهُمْ، لِلْأَسَفِ، لَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا؛ لِأَنَّهُمْ كَبَّلُوا أَنْفُسَهُمْ بِمَقُولَةِ: «مَا صَحَّ سَنَدُهُ صَحَّ مَتْنُهُ».

"دا څه معنى لري؟ معنى ئې دا ده چي د دې روايت له مخي رسول الله صلى الله عليه وسلم له صفيې رضي الله عنها سره وروسته له هغه واده او ګډ ژوند پيل کړ چي مېړه، پلار، ورونه او د تره زامن ئې وژل شوي وو؛ پرته له دې چي د هغې احساسات او رواني حالت په پام کي ونيسي؛ بلکي په هماغه شپه ئې ورسره ګډ ژوند پيل کړ. خبره يوازي همدا هم نه ده؛ د دې روايت له مخي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا نسبت هم کېږي چي د الله د کتاب مخالفت ئې کړی؛ ځکه الله تعالى د هغې مېرمني لپاره چي مېړه ئې وفات شوی وي؛ عدت ئې څلور مياشتي او لس ورځي ټاکلی. الله تعالى فرمايي:

وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٣٤﴾ البقرة

او له تاسو چي څوك مري او مېرمني تر شا پرېږدي؛ هغوی دي د خپلو ځانونو په اړه څلور مياشتي او لس ورځي انتظار وکړي؛ نو کله چي خپل ټاکل شوي وخت ته ورسېدې؛ بيا پر تاسو په هغه څه کي څه ګناه نشته چي هغوی ئې د خپلو ځانونو په اړه په معروفه توګه کوي؛ او الله په هغه څه ښه خبر دئ چي تاسو ئې کوئ.

خو دا روايت او دې ته ورته نور روايات رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا نسبت کوي چي له صفيې رضي الله عنها سره ئې په هماغه ورځ واده او ګډ ژوند پيل کړ چي مېړه ئې وژل شوی وو؛ نو کوم عاقل دا خبره منلی شي؟ او آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حق کي تر دې لوی سپکاوی شته؟ د چا په ګټه ده چي رسول الله صلى الله عليه وسلم په دومره وحشيانه بڼه انځور کړي؟ څنګه کېدی شي داسي روايات ومنل شي او دفاع ترې وشي؟ ولې د اهل حديث مسلك له لوري د داسي رواياتو پر منلو او دفاع دومره ټينګار کېږي؟ موږ به څنګه نړۍ ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم څېره

ور وپېژنو؛ په داسي حال کي چي د دې په څېر روايات خپروو؟ آيا دا او دې ته ورته روايات د رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغي څېرې سره سمون لري چي د الله كتاب ئې موږ ته بيانوي؛ هغه رسول چي قرآن ئې د عالميانو لپاره رحمت بولي او وايي چي هغه د لوړ اخلاق څښتن وو؟

له بلي خوا؛ كه د دې ستونزمن روايت د شارحانو شرحو ته ور وگرځو، نو داسي عجيب او حيرانوونكي تأويلونه او تفسيرونه به ووينو چي د روايت له متن سره هيڅ مطابقت نه لري؛ د ښكلي كولو، بازار موندلو او د منلو وړ كولو لپاره ئې؛ په داسي حال کي چي دا ورته غوره وه چي دا روايت ئې رد او ضعيف گڼلی وی او رسول الله صلی الله عليه وسلم ئې ترې تبرئه كړی وی؛ خو له بده مرغه دوی ئې نشي ردولی؛ ځكه خپل ځانونه ئې په دې مقولې پوري تړلي: د كوم روايت چي سند صحيح وي؛ نو متن ئې هم صحيح دئ!!

بيا ليكي: لِمَصْلَحَةِ مَنْ احْتَوَتْ كُتُبُ الصِّحَاحِ هَذِهِ الرِّوَايَةَ وَأَخَوَاتِهَا؟ وَمَا الدَّوْرُ الَّذِي قَامَتْ بِهِ كُلِّيَّاتُ الشَّرِيعَةِ عُمُومًا، وَقِسْمُ الْحَدِيثِ خُصُوصًا، فِي تَنْقِيَةِ كُتُبِ الصِّحَاحِ مِنْ هَذِهِ الرِّوَايَاتِ؟ أَمْ أَنَّهُمْ وَقَفُوا صَامِتِينَ حَائِرِينَ أَمَامَ هَذِهِ الرِّوَايَاتِ، فَاقْتَصَرَ دَوْرُهُمْ عَلَى تَجْمِيلِ هَذِهِ الرِّوَايَاتِ وَتَأْوِيلِهَا، وَاتِّهَامِ مَنْ يُشَكِّكُ فِيهَا بِالْجَهْلِ وَالزَّنْدَقَةِ وَالْعَمَالَةِ لِأَعْدَاءِ الدِّينِ؟

د چا د گټي لپاره د صحاحو په كتابونو كي دا روايت او دې ته ورته نور ځای پر ځای شوي؟ او په ټوليزه توگه د شرعياتو پوهنځيو او په ځانگړې توگه د حديث څانگي؛ له دې رواياتو د صحاحو كتابونو د پاكولو او تصفيې په برخه كي كوم كار كړی؟ او كه دوی د دې رواياتو په وړاندي چوپ او حيران پاته شوي؛ او ونډه ئې يوازي د دې رواياتو تر ښكلي ښودلو او تأويلولو او پر هغو كسانو د ناپوهی، زنديق‌توب او د دين د دښمنانو لپاره د نوكري تورونو لگولو پوري محدود پاته شوی چي د دې رواياتو په اړه شک او پوښتنه كوي؟

يقيناً چي هر هغه مؤمن انسان چي له قرآن خبر وي او رسول الله صلی الله عليه و سلم ښه پېژني؛ هيڅكله به د خپل گران او درونډ پيغمبر په اړه داسي كركجن تورونه ونه مني او بل ته به ئې ونه وايي.

د ضعيفو او مشبوه رواياتو ناپوه حاميان دې ته هم متوجه نه دي چي اسير بېل حكم لري او مرېي او وينځه بېل حكم. د اسيرانو په اړه د قرآن

لارښوونه دا ده:

﴿فَإِذَا لَقِيتُمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَضَرْبَ ٱلرِّقَابِ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّواْ ٱلْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّۢا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَآءً حَتَّىٰ تَضَعَ ٱلْحَرْبُ أَوْزَارَهَاۚ ....﴾ ٤ محمد

نو کله چې له کافرانو سره (په جنگ کې) مخامخ شئ نو د غاړو وهل دي (دنده مو)، تر هغه چې ښه ئې وځپئ، بیا (ئې د تړلو لپاره) بندونه کلك کړئ، بیا یا احسان پرې کول دي او یا فدیه (اخیستل)، تر هغه چې جگړه خپل اوزار کښېږدي...

په دې مبارك آیت کې هغه اساسي او مهم مطالب څېړل شوي چې د اسلام په جنگي تگلارې کې ټاکونکې لارښوونې گڼل کېږي، په دې توگه:

کله چې مؤمنان له کافرانو سره په کومې جگړې کې مخامخ شي نو د دوی لومړۍ او اساسي دنده دا ده چې خپله ټوله توجه د دښمن ځپلو ته واړوي، تر هغه چې ښه ئې وځپي او له پښو ئې وغورځوي، د دښمن له ماتولو وروسته دې بې وسلې شوي او نیول شوي جنگیالي د جنگي اسیرانو په توگه ونیسي، د دوی د تړلو لپاره دې مضبوط بندونه او بشپړ احتیاط وکاروي، بیا دې یا له دې اسیرانو سره احسان وکړي او له کومې معاوضې او بدلې پرته دې دوی آزاد کړي او یا د فدیې په بدل کې.

دا لړۍ باید تر هغه دوام وکړي چې جگړه خپل اوزار او جگړه ماران خپله وسله پر زمکه کښېږدي او د جگړې امکانات پای ته ورسېږي.

له هغه وروسته چې دښمن ته مو ماته ورکړه، د هغه صفوف مو متلاشي کړل او د جنگ د دوام توان ئې له لاسه ورکړ، بیا د جنگي اسیرانو نیولو ته مخه کړئ، د دښمن د هغو جنگیالیو نیولو ته توجه وکړئ چې د جگړې په میدان کې په لاس درځي، له دې وروسته دا ستاسو رأيي او خوښې ته پرېښودل شوې چې احسان ورسره کوئ او له کومې معاوضې پرته ئې آزادول د اسلام په گټه گڼئ او یا ئې د فدیې په بدل کې خوشي کوئ، خو باید پوه وئ چې ستاسو لومړۍ وجیبه (ضرب الرقاب: د غاړو وهل) ده او دوهمه د اسیرانو نیول.

د اسیرانو په اړه دا لارښوونه چې یا احسان ورسره وکړئ او یا ئې د فدیې په بدل کې آزاد کړئ؛ په احسان کې څلور شیان شامل دي:

- د اسارت په دوران کې له دوی سره ښه چلن او نېکه معامله.
- د وژلو يا دائمي قيد او بند پر ځای مسلمانانو ته د دوی سپارل چې د برخليك تر ټاكلو پورې د اسير په توګه وساتل شي.
- د ذميانو په ډله کې ونيول شي او د جزيې په ورکولو وګمارل شي.
- له کومې معاوضې پرته آزاد شي.

او د فديې معامله درې صورتونه لري:

- د مالي معاوضې په بدل کې خوشې شي.
- د ټاكلي خدمت په بدل کې آزاد شي.
- له خپلو هغو جنګي اسيرانو سره تبادله شي چې د دښمن په اسارت کې دي.

له اسير سره په چلن کې بايد دا په پام کې ولرو چې د مسلمانانو له اسيرانو سره به هم هغه څه کېږي چې موږ ئې د دښمن له اسيرانو سره کوو؛ آيا د کوم مسلمان زړه غواړي چې د ده له اسيرې مېرمن سره همداسې سلوك وشي چې نكاح ئې فسخه وګڼل شي او دښمن چې څه غواړي هغه ورسره كولی شي؟! دا آيت خو موږ ته لارښوونه کوي: د اسيرانو په اړه د احسان لار غوره کړئ او له فديې او معاوضې پرته ئې آزاد کړئ، ۲- د فديې په بدل کې ئې آزاد کړئ.

دا آيت موږ ته لارښوونه کوي چې د مؤمنانو د جنګ موخه او هدف بايد د جنګ پای ته رسول وي، مؤمن مجاهدين يوازې د دې لپاره په وسله وال جهاد لاس پورې کوي چې د جنګ ټغر د تل لپاره ټول شي، د امن او امان حالت او د صلح او سلم فضاء تأمين شي؛ او د هر ډول وسله وال تېري او تجاوز امكانات له منځه ولاړ شي؛ اسلامي جهاد نه د نورو هېوادونو د نيولو لپاره دئ، نه د يوه ملت غلبه او برلاسی پر بل ملت، نه کوم بې هدفه جنګ دئ چې پر نورو د خپلې نظامي برلاسي تحميلولو او د دوی پر زېرمو د تسلط لپاره وي؛ او نه د زور ځواك كارولو له لارې پر خلكو د يوې نظريې او عقيدې او يوه نظام تحميلولو لپاره؛ جهاد يو سپېڅلی جنګ دئ؛ د ناروا او ظالمانه جنګ په ضد او د عدل او امن د اقامې په موخه.

له دې الهي لارښوونو معلومولی شو چې له صفيې رضي الله عنها سره به د اسارت په دوران کې څه شوي وي او په دې اړه کوم روايات صحيح او د

منلو وړ دي او کوم ناسم او بې بنسټه. نه يوازې د دې قضيې په ارتباط؛ بلکې د بلې هرې قضيې اړوند رواياتو ماهيت د قرآن په رڼا کې معلوموﻟﯽ شو.

د عائشې رضي الله عنها په اړه چې د بخاري په اړوند غلط روايت کې څه ويل شوي؛ د صفيې رضي الله عنها په اړه لا زيات غلطې خبرې د بخاري په رواياتو کې شوې. نو هغه روايات قطعاً مه منئ چې له قرآن سره تعارض او تناقض لري؛ داسې روايات لږ نه بلکې ډېر زيات دي.

زه بيا هم وايم: وړه نجلۍ تر پېغلتوب وړاندې چا ته په نکاح ورکول؛ نه يوازې د قريشو د عام دود او دستور خلاف وو؛ او که دا کار شوی وی نو نه يوازې په صحابه وو کې به ئې په لسګونو راويان درلودل؛ بلکې دښمنانو به د شعر او نثر پرېړ کتابونه پرې ليکلي وو. خو داسې روايت نه مومو چې قريشو دې په دې اړه څه ويلي او خصمانه تبليغات کړي وي!! ګمان کوم نن به په ټولې نړۍ کې؛ که مسلمانان دي او که غېرمسلمانان؛ له اهل حديث پرته بل داسې قوم او ډله پيدا نشې چې د وړې نجلۍ نکاح او له هغې سره جنسي مباشرت دې جائز او د منلو وړ وګڼي. د ملل متحد په شمول د نړۍوالو حقوقي مؤسساتو ټول غړي هېوادونه؛ که اسلامي دي او که غېر اسلامي؛ د وړې نجلۍ نکاح او له هغې سره هر ډول جنسي مباشرت؛ نه يوازې ناجائز بلکې جنايت ګڼي؛ دا ځکه چې د انساني فطرت او عقل پرېکړه همدا ده.

زه بيا هم وايم او د هغو درنو محدثينو رأی او اسلوب تأييدوم چې روايت په هغه صورت کې د منلو وړ دئ چې په قرآن کې شاهد ولري، له نورو صحيح رواياتو سره تعارض ونه لري، د عقل، علم او مشهود الهي سننو خلاف نه وي، سند ئې د اعتبار وړ وي او د هرې طبقې راوي ئې لږ تر لږه دوه شاهدان ولري. که د قرآن د لارښوونې له مخې د يوې عادي مالي قضيې د اثبات لپاره دوه شاهدان شرط وي، که د يوې اخلاقي دعوی لپاره څلور شاهدان شرط وي او که بې له شاهدانو دعوی کوونکی د قرآن له نظره «فاسق» بلل کېږي، نو رسول اللّه صلی اللّه عليه و سلم ته منسوب يوه ادعاء به څنګه له يوه کس او له شاهد پرته منو؟! او هغه ادعاء به څنګه منو چې د قرآن د څرګندې وينا خلاف وي؟! د شخص اعتبار بايد د هغه وينا ته په پام وارزوو؛ نه دا چې وينا ئې په دې دليل د منلو وړ وګڼو چې چا مونږ ته ويلې دا د اعتبار وړ شخص دئ!! د هغه محدث اسلوب د حيرانتيا وړ ده

چي ځيني راويان ئې د ثقه وو په فهرست کې نيولي او دوی ته چي هر روايت منسوب شوی نو هغه ئې صحيح ګڼلی!! قرآن خو وايي: که يو مسلمان حتى يو صحابي؛ د خپلي مېرمني په اړه ادعاء وکړي چي زنا ئې کړې او د زنا په حال کې ليدلې؛ ادعاء ئې يوازي په هغه صورت کې د منلو وړ بولي چي يا څلور شاهدان وړاندي کړي او يا څلور ځلي د الله په نامه لوړه وکړي چي رښتينی دئ او پنځم ځل ووايي: که دروغجن وي نو د الله لعنت دي پر ده وي؛ څوك چي څلور شاهدان وړاندي نه کړی شي نو د قرآن د معيارونو له مخي په هر صورت کې دروغجن ګڼل کېږي.

ما محمد عليه السلام ځکه د اللّٰه د رښتيني رسول په توګه منلی او ايمان مي پرې راوړی چي د قرآن له مخي مي دی د اللّٰه تعالى رښتينی رسول موندلی؛ همغسي چي قرآن فرمايي:

وَٱلْقُرْءَانِ ٱلْحَكِيمِ۝٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ۝٣ يس

له حکمتونو ډك قرآن شاهد دئ چي ته (اې محمده!) يقيناً د الله رسول يې.

هو؛ ما خپل رب، دا ټول عالم، زمکه او آسمان، خپل ځان او محمد عليه السلام؛ د قرآن په رڼا کې پېژندلي؛ زه د صحيح البخاري په اړه د قرآن په رڼا کې قضاوت کوم او د امام بخاري په اړه د صحيح البخاري له مخي؛ زما پيغام هر مؤمن ته دا دئ: د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه و سلم ټول رسولانه مأموريت دا وو چي د اللّٰه تعالى له لوري لېږل شوی قرآن؛ خپل امت ته ورسوي؛ هم په خپله د دې قرآن عيني تجسم وو او هر څه ئې د قرآن مطابق او هم ئې وينا او قول د همدې قرآن شرح او تفسير؛ که نن رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه و سلم ته منسوب کومه وينا ستاسو مخي ته راشي؛ نو تر هر څه وړاندي؛ دا وينا د قرآن په هنداري کې وګورئ او د قرآن په تله ئې وتلئ؛ يوازي په هغه صورت کې ئې ومنئ چي په قرآن کې شاهد ولري او لږ تر لږه له قرآن سره مغايرت ونه لري. درنو محدثينو له ټولو رواياتو سره همداسي کړي او د همدې اصولو په رڼا کې ئې له لسګونو زرو رواياتو يوازي دوه درې زره غوره کړي؛ پام چي د هغو جاهلانو په څېر نه شئ چي په تعصب، غلو او شخص پالني کې تر ستوني غرق دي؛ هغه چي روايت ته پر آيت ترجيح ورکوي، قرآن له بخاري پرته ناقص ګڼي!! قرآن؛ تر امام بخاري رحمه اللّٰه او صحيح بخاري

وړاندي هم بشپړ وو او د هيڅا او د هيڅ کتاب تأييد ته اړ نه وو؛ اوس هم بشپړ او د هر اختلاف لپاره وروستۍ مرجع او وروستی معيار او قاضي دئ؛ امام بخاري يو معروف شخصيت تېر شوی؛ خو په خپل حيثيت او مقام کي نه صحابه وو ته رسېږي، نه تابعينو، اتباع تابعينو او نه ائمه وو؛ لکه امام ابوحنيفة، امام احمد، امام شافعي او امام مالك رحمهم اللّٰه مقام ته رسېږي؛ تر هغه ځايه چي صحيح روايات؛ د متن او سند له مخي معتبر او له قرآن سره په مطابقت کي روايات ئې راوړي؛ اللّٰه تعالی دي ورته اجر ورکړي او چېري چي ئې اشتباه کړې؛ اللّٰه تعالی دي ورته مغفرت وکړي؛ ما هغه مهال هم ده ته دا دعاء کړې چي د بخاري ترجمه او شرح (حکمة البارئ) مي ليکله؛ او هغه مهال هم چي د ده قبر خوا ته مي دعاء ورته کوله.

دا هم يو حقيقت دئ چي امام بخاري رحمه اللّٰه د ځينو غريبو رواياتو، منفردو او د مخکينيو ائمه وو د آراءو مغاير نظرياتو له کبله هم په نيشاپور کي د خپل استاد امام ذهلي رحمه اللّٰه له داسي شديد مخالفت سره مخ شو چي هغه ټولو خلکو ته وويل: "د محمد بن اسمعيل بخاري په غونډو کي شرکت مه کوئ"؛ د نيشاپور ټول ولس ورسره مقاطعه پيل کړه او د ده په غونډو کي ئې له شرکت ډډه وکړه؛ مجبور شو په پټه له نيشاپور ووځي او خپل وطن بخارا ته ولاړ شي؛ په بخارا او سمرقند کي هم له دومره سختو مخالفتونو سره مخ شو چي اللّٰه تعالی ته ئې د شکايت په ضمن کي د مرگ تمنی وکړه. هلته ولس د احنافو په مذهب ول؛ ده په ډېرو مسائلو؛ مخصوصاً د لمانځه په څرنگوالي او د ايمان او عمل تر منځ تړاو کي؛ د حنفيانو مخالفت ته ملا تړلې وه؛ پر امام ابو حنيفه او نورو امامانو ئې هم اعتراضونه کول؛ د بخاري په کتاب ايمان او لمانځه کي به گڼ شمېر داسي روايات وموئ چي د احنافو له نظره د معتبرو رواياتو خلاف دي؛ د بخاري دغه د عائشې رضي الله عنها اړوند روايت ئې هم يو مثال دئ؛ چي د محققينو له نظره؛ نه روايتاً صحيح دئ او نه درايتاً؛ ستري ستونزي ئې دا دي:

۱- د قرآن له څرگندي لارښووني سره مغايرت لري؛ ځکه قرآن د نکاح لپاره يوازي بلوغ نه؛ بلکي په ځنگ کي ئې رشد هم شرط گڼي؛ خو دا روايت د شپږ کلني نجلي نکاح جائز گڼي! او بالتبع تر شپږ کلنۍ د وړې نجلۍ نکاح هم!! همداسي رواياتو ته په پام سره؛ ځيني جاهلان خپله څو مياشتنۍ

لمسۍ هم د بل زوی او لمسي ته په نکاح ورکوي!! او دا ځکه چي له هغه به څه طمع لري او يا به د هغه رضايت تر لاسه کول ورته گټور برېښي!! د همدې ناسمي رأی او غلطو رواياتو له کبله چي هره ورځ خونړۍ پېښي، له کور د نجونو او هلکانو تېښتي او ځان وژني گورو؛ مسئوليت ئې د چا پر غاړه دئ؟! د اسد په اته ويشتمه او د طالبانو د مزعومي بريا له جشن څو ورځي وروسته مي د دوی دا بيان واورېدو چي ويلي ئې وو: په هلمند کي مو د يوه ۸۰ کلن سړي او اته کلني نجلۍ د نکاح مخنوی وکړ!!؛ څو ورځي وروسته مي بيا د دوی همداسي دوه اعلانونه واورېدل.

جنابه! په دې اړه د ويلو لپاره څه لرې؟ نقد کوې که تأييد او حمايت؟ معلومه نه ده چي په همدې ورځ به څومره د مخدره موادو دولتي قاچاقچيانو، د زمکو غاصبانو، د کانونو لوټمارانو، واليانو، وزيرانو، قومندانانو او نورو زورواکانو همداسي وړې نجلۍ؛ په زور يا په رضاء او په پټه او ښکاره واده کړې وي؟!!

۲- دا د انساني فطرت خلاف ده؛ په داسي حال کي چي د مخلوقاتو رب؛ د جنسي نژدېکت وړتيا؛ د دې لپاره په هغوی کي ايښې چي همدا ئې د نسل د بقاء او دوام يوازينۍ وسيله او فطري طريقه ده؛ دا وړتيا هم د پيدايښت په لومړيو کي نه بلکي څو کلونه وروسته او په ځوانۍ او پېغلتوب کي فعاله شي؛ په حيواناتو او مرغانو کي هم؛ جنسي يو ځای کېدا له بلوغ وروسته او د اولاد په موخه وي؛ تر دې وړاندي د جنسي نژدېکت ضرورت نه احساسوي. مرغان چي کله ئې بچيان ستر او د الوتو شي او وگوري چي نور ځان ساتلی او بېله کورنۍ جوړولی شي؛ نو له خپلي ځالي ئې وشړي؛ دوه سره يو ځای شي او ځان ته بېله ځاله جوړه کړي؛ او د اولاد په زېږولو او پاللو بوخت شي.

۳- دا روايت له ډېرو هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: عائشه رضي اللّه عنها د هجرت په وخت کي شاوخوا ۱۷ او د واده په وخت کي نژدې ۱۹ کلنه وه. تفصيلات ئې په دې کتاب کي (آيا د وړې نجلۍ نکاح جائزه ده؟) تر دې عنوان لاندي ولولئ: (د نابالغ نکاح او اړوند روايات ئې).

متأسفانه په بخاري کي د عائشې رضي اللّه عنها د نکاح په اړه متناقض روايات راغلي؛ دلته تاسو يوازي څو روايات او د هغوی ترمنځ تعارضات او تناقضات وليدل؛ يو روايت وايي چي رسول اللّه صلی اللّه عليه و سلم د

خديجې رضي اللَّه عنها له وفات درې کاله وروسته هغه په نکاح کړه؛ په بل روايت کې راغلي چې رسول اللَّه صلی اللَّه عليه و سلم په دوهم هجري کال؛ او د بدر له جګړې وروسته؛ يعني د خديجې رضي اللَّه عنها له وفات پنځه کاله وروسته؛ عائشه په نکاح کړې. د هشام اړوند روايت هم له دې کبله غلط دئ چې وايي رسول اللَّه صلی اللَّه عليه و سلم دوه کاله مجرد او بې واده تېر کړي؛ او هم له دې کبله چې تر عائشې وړاندي ئې د سوده رضي اللَّه عنها د نکاح هيڅ يادونه نه ده کړې؛ په داسي حال کې چې رسول اللَّه د خپلو وړو لوڼو د روزنې او پالني او د کور د چارو سمبالولو لپاره د سودې رضي اللَّه عنها په څېر يوې باتجربې مېرمني ته ضرورت درلود؛ خوله رضي اللَّه عنها په مکرره توګه رسول اللَّه صلی اللَّه عليه و سلم ته مشوره ورکوله چې واده وکړي؛ بالآخره ئې ورته وويل: له چا سره؟ دوه نومونه ئې ورته واخيستل؛ او وئې ويل: سوده چې کونډه ده او عائشه چې پېغله ده؛ دا د خوله رضي اللَّه عنها وينا ده؛ (إِنْ شِئْتَ بِكْرًا، وَإِنْ شِئْتَ ثَيِّبًا) چې عائشه ئې د پېغلي (بکر) په نامه ياده کړې؛ نو جنابه هغه شپږ کلنه نه وه؛ بلکې پېغله وه؛ رسول اللَّه صلی اللَّه عليه و سلم ورته وفرمايل: له دواړو سره ئې ياده کړه؛ هدف ئې دا وو چې وګوري له دواړو کومه يوه توافق کوي؛ هغې هم د عائشې له مور سره وليدل او هم له سوده او هم د هغې له مور او پلار سره؛ دواړو لوريو توافق وکړ؛ نو رسول اللَّه صلی اللَّه عليه و سلم لومړی سوده رضي اللَّه عنها په نکاح کړه؛ دا ځکه چې د خپلو وړو لوڼو او کور سمبالولو ستونزه حل کړي؛ له دې سره ئې درې کلونه يوازې تېر کړل او بيا ئې پنځه کاله وروسته له عائشې رضي اللَّه عنها سره؛ پوښتنه کوم: ولې په دې روايت کې دا ټول مهم مطالب له پامه غورځول شوي؟ او ولې امام بخاري داسي يو کمزوری روايت په خپل کتاب کې راوړی؟ او ولې ځيني داسي دي چې د قرآن صريح وينا شا ته غورځوي، هغه روايات هم نه مني چې وينا ئې د قرآن مطابق ده؟! خو معلول، مشبوه، د سند له پلوه غريب او د متن له پلوه د قرآن، عقل او عدالت خلاف روايتونه نه يوازي مني بلکې داسي څه به وايي چې ښيي قرآن ناقص او د ده همدا روايت روغ او تر قرآن غوره!! د شيطان کور دي وران شي چې څنګه له ځينو هم عقل واخلي او هم ايمان!!

٤- دا روايت د إسنادو له پلوه غريب دئ، په اوله او دوهمه طبقه کې ئې

راویان یو یو تن؛ پلار او زوی؛ هشام او عروه دي. له هشام دا روایت د ده په زړښت کې د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و سلم له رحلت نژدې ۱۳۰- ۱۴۰ کاله وروسته او هغه هم په کوفه کې روایت شوی؛ د دې روایت اکثر راویان د عراق د کوفې او بصرې اوسېدونکي دي؛ په داسې حال کې چې د هشام مشهور مدني شاګرد امام مالک، سره له دې چې له ده ئې ډېر روایتونه نقل کړي، دا روایت په موطأ کې نه دئ راوړی. له همدې کبله دا شك رامنځته کېږي چې د دې روایت تر شا به کوفې هغه اختلافات خپل اغېز لرلو چې د علي رضي اللّٰه عنه په شهادت منتج شو؛ د عائشې رضي اللّٰه عنها د شخصیت او حیثیت راکمولو لپاره دا روایت جوړ او خپور شوی؛ کوفه ئې یوازینی محل وو؛ دا ځکه چې هلته د عائشې رضي الله عنها کافي مخالفین وو؛ که له هشام سره په رښتیا دا روایت وو او دا خبره ئې کړې وي؛ نو په مدینه کې به چا ترې اورېدلې وه؛ امام مالك به ترې اورېدلې وه؛ ولې نژدې یوه نیمه پېړۍ وروسته دا روایت راڅرګندېږي او هغه هم د فتنو په مرکز کوفه کې؟!

۵- که څه هم هشام لوی شخصیت او معتبر راوي دئ؛ خو د ده په اړه علماء رجال وایي: د عمر په پای کې ئې حافظه ضعیفه شوې وه او مطالب ترې خلط او ګډ وډ کېدل. دا مهال هغه په کوفه کې اوسېدو.

٦- د مهمو قضایاوو؛ مخصوصاً د احکامو او حلال او حرام په ارتباط؛ په داسې غریب روایت إستناد نشي کېدی؛ چې نه یوازې په قرآن کې شاهد ونه لري؛ بلکې وینا ئې د قرآن خلاف وي؛ او اصلي راوي ئې د حافظې په ضعف تورن وي او په خپلې خوا کې هیڅ شاهد نه لري.

۷- اسلام د نکاح لپاره د ایجاب او قبول شرط ایښی؛ دا شرط بلوغ او رشد ایجابوي؛ تر بلوغ وړاندې؛ إیمان هم اعتبار نه لري؛ د کافر او مشرك اولاد هم جنت ته ځي؛ که د دوی ایمان او عدم ایمان مدار د اعتبار نه وي؛ نو د نکاح هغه معاهده به ئې څنګه معتبره وي چې دوی په کې د پوښتل کېدو وړ هم نه وي ګڼل شوي؟!

نقاد د وړې نجلۍ د نکاح د جواز په اړه دوه نور نادر روایات وړاندې کړي: ۱- دا چې په قریشو کې دا کار یو عام دود وو؛ او د دې ادعاء د اثبات لپاره ئې ۲- د یوه امریکایي راوي پر روایت استناد کړی:

## د امریکايي ویل دورانت پر روایت د معترض باور او استناد!!

دې معترض لیکلي: "له کومه خبر، یا له کومه پوه شوئ چه دا د قریشو د عام دود او دستور خلاف وو؟؟!!!... (امریکایی مستشرق ویل دورانت په خپل نامتو کتاب (قصة الحضارة ۱۳/۱۳ ) کی داسی وایی: (د رسول الله نه مخکی د عربی ښځی ژوند د هغی سره د خاوند د مینی نه آن د عبادت تر کچی رسیده...او پلار یی که غوښتی وای کولای یی شول چه د زیږیدنی په وخت کی یی ښخه کړی، که دا کار یی نه کاوه نو کم له کمه یی پیدا کیدلو ته خواشینی کیده، او له شرمه د خلکو نه مخ پټولو...، او د هغی په ښکلی وړکتوب یی یو څو کاله په زړه کی ځای درلودلو، خو کله چه به د عمر ( ۷) یا ( ۸) کلنئ ته ورسیدله نو پلار به یی د قبلی هر ځوان ته چه د ناوی بیه (مهر) پری کړی ورکوله). فکر کووم چه همدا به کفایت کوې چه د لیکوال صاحب ددعوی صحت اوسقم تری ثابت شي..."

دا د ښاغلي دکتور نقاد!! د استدلال او د ادبیاتو له پلوه د ده د ګڼ شمېر اشتباهاتو یوه بېلګه ده!! هغه ته وایو:

هو تاسو اوس دې ته مجبور شوي یئ چې د امریکایي ویل دورانت روایت هم د قرآن تر وینا معتبره وګڼئ!! وېرېږم کله داسي ونه لیکئ: سیدنا ویل دورانت رضي الله عنه ویلي!! حیف ستاسو په بد حال؛ خدای مو هدایت کړه، له دین سره ملنډې وهئ او د کافرانو د خندا او تمسخر وړ ئې ګرځوئ؛ ویل دورانت د استهزاء او تمسخر لپاره دا خبره کړې؛ او د ده دا ټولې خبرې د تمسخر خبرې دي: "تر رسول الله وړاندې د عربې ښځې ژوند له هغې سره د خاوند مینه آن د عبادت تر کچې رسېده، ... او پلار ئې که غوښتي وی نو کولی ئې شو د زېږیدنې په وخت کې ئې په زمکې کې ښخه کړې، .... خو کله چې به د عمر ( ۷) یا ( ۸) کلنۍ ته ورسېدله نو پلار به ئې د قبیلې هر ځوان ته چې  د ناوې بیه (مهر) پرې کړې؛ ورکوله"!!. هیڅ عقلمن انسان به په داسې خبرو استناد ونه کړې؛ ستا دا متن او نقل قول؛ هم له ادبي پلوه مسخره دئ او هم د محتواء له پلوه؛ د ویل دورانت هدف دا دئ چې وښیې د رسول الله امت اوس هم هغه څه کوي چې د دوی پلرونو په جاهلیت کې کولو!!

## آيا بلوغ ته رسېدا؛ د نكاح د صحت يو شرط دئ؟

دې مهمي پوښتني ته هم بايد دقيق او د قرآن د وينا مطابق ځواب ووايو چي آيا د نكاح د جواز لپاره د جانبينو بلوغ شرط دئ كه نه؟ ځوان هلك او پېغلي نجلۍ ته د خپل ځان او ازدواج په اړه د پرېكړې واك وركړى شوى كه نه؟؛ كه وركړى شوى له دې واك كله استفاده كولى شي؛ تر بلوغ وړاندي كه وروسته؛ يوازي بلوغ شرط دئ او كه په څنگ كې ئې رشد هم؟

د النساء سورې له شپږم آيت په څرگنده توگه معلومېږي چي د نكاح لپاره يوازي بلوغ نه بلكي رشد هم شرط دئ؛ كه يتيم ته د ده خپل مال سپارلو په اړه د قرآن لارښوونه دا وي او هغه د يتيم په رشد پوري مشروطوي؛ نو د ازدواج په اړه به ئې لارښوونه او غوښتنه څه وي او الله تعالى به په څه راضي كېږي؟ يقيناً چي د ازدواج موضوع تر دې ډېر ډېر ارزښت او اهميت لري چي د هغوى مال كله او په كوم عمر كې وروسپارل شي؛ كه په مال كې د تصرف صحت؛ (بلوغ او رشد) ايجابوي؛ نو په دې كې هيڅ شك نشته چي د نكاح لپاره لومړى شرط بلوغ دئ او دوهم ئې رشد او له دې آيت په واضح او پرېكنده توگه همدا معلومېږي؛ ځكه چي د نكاح پړاو ته رسېدا ئې له رشد سره تړلې؛ هلته چي وايي:

وَٱبْتَلُواْ ٱلْيَتَـٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ...﴿٦﴾ النساء

او يتيمان تر هغه وآزمويئ چي د نكاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو كه دا مهال مو په دوى كې هوښيارتيا احساس كړه؛ مالونه ئې وروسپارئ....

د دې لپاره چي د دغه آيت په معنى ښه پوه شو؛ غوره ده تر دې وړاندي آيت هم له نظره تېر كړو:

وَلَا تُؤْتُواْ ٱلسُّفَهَآءَ أَمْوَٰلَكُمُ ٱلَّتِي جَعَلَ ٱللَّهُ لَكُمْ قِيَـٰمًا وَٱرْزُقُوهُمْ فِيهَا وَٱكْسُوهُمْ وَقُولُواْ لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٥﴾

او كمعقلو ته خپل هغه مالونه مه سپارئ چي الله ستاسو لپاره د قيام ذريعه گرځولي؛ (بلكي) په هغه كې ئې د رزق، روزي او جامو انتظام وكړئ او غوره

وينا ورته وکړئ.

يعني دا مالونه چې په حقيقت کې د ټولو ګډ مال دئ؛ که څه هم ځيني په يوه پورې او ځيني په بل پورې مربوط دي؛ ستاسو د ژوندانه د قيام او سمبالولو ذريعه ده، کمعقلو ته ئې مه سپارئ، تر هغه ئې يتيم ته له سپارلو ډډه وکړئ چې هغه بلوغ او د عقل پوخوالي ته ورسېږي، تر هغه د دوی اموال په داسې غوره طريقه په کار واچوئ چې له ګټې ئې د يتيمانو د خرڅ، خوراك او جامو انتظام وکړئ. په دې دوران کې د دوی روزنې ته خاصه توجه وکړئ، نېکې خبرې او نېك کارونه ورښيئ، که هغوی د خپل مال تر لاسه کول غوښتل او تاسو ئې تنګولئ؛ نو په ښه توګه ئې پوه کړئ، زور زياتی ورسره مه کوئ؛ د نامناسبو خبرو له کولو ځان وساتئ.

په آيت کې د يتيمانو پر ځای د سفهاءو له راوړو معلومېږي چې نه يوازې ماشوم يتيم ته به د دوی مال نه سپارئ بلکې هغو ته به ئې هم نه سپارئ چې د کمعقلۍ له کبله مال ترې ضائع کېږي، يا مبذر دئ او په غلطو لارو ئې مصرفوي. بيا فرمايي:

وَٱبۡتَلُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا فَٱدۡفَعُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ وَلَا تَأۡكُلُوهَآ إِسۡرَافٗا وَبِدَارًا أَن يَكۡبَرُواْۚ وَمَن كَانَ غَنِيّٗا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرٗا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ فَإِذَا دَفَعۡتُمۡ إِلَيۡهِمۡ أَمۡوَٰلَهُمۡ فَأَشۡهِدُواْ عَلَيۡهِمۡۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبٗا ﴿٦﴾

[٦]- او تر هغه يتيمان آزموئ چې د نکاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو که د دوی هوښيارې مو احساس کړه نو مالونه ئې وروسپارئ؛ او په دې موخه د دوی مالونه په اسراف او تلوار سره مه مصرفوئ چې ستر به شي؛ او څوك چې غني وي نو پرهېز دې وکړي او څوك چې نېستمن وي په مناسبه توګه دې مصرف کړي او کله چې دوی ته خپل مالونه مسترد کوئ نو شاهدان پرې ونيسئ او الله د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

دلته د يتيم اولياءو ته څو لارښوونې شوې:

- د يتيمانو د روزنې په دوران کې دوی پر له پسې امتحانوئ، کله يو کار ورته وسپارئ او کله بل، د وړو وړو شيانو په پېر- پلور ئې وګمارئ، په دې

سره به د هغوی ښه روزنه وشي، بلوغ ته له رسېدو وروسته به د خپل مال د ښه پاللو لپاره ذهناً او عملاً تیار وي او کافي تجربه به ئې تر لاسه کړې وي.

• دا کار به تر هغه کوئ چې یتیمان تر نکاح پوري ورسېږي، دا نه دي ویل شوي چې تر ځوانۍ یا پېغلتوب پوري ورسېږي؛ قرآن ځوانۍ ته رسېدا په دې صیغه یادوي: (وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ: او کله چې ستاسو ماشومان ځوانۍ ته ورسېږي)؛ پر دې هم اکتفاء نه کوي بلکې د نکاح پړاو ته د رسېدو مزید وضاحت کوي؛ فرمايي:(فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ: نو که په دوی کې مو د عقل او درایت پوخوالی احساس کړ؛ نو مالونه ئې وروسپارئ)؛ د آیت له الفاظو معلومېږي چې (فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا) د نکاح پړاو ته د رسېدو نښه ده؛ یعني ماشوم که یتیم وي او که نه؛ هغه مهال د نکاح وړتیا تر لاسه کړې چې د هغه په افکارو او کړنو کې د رشد او عقلي پوخوالي نښې ولیدل شي؛ د یتیم اولیاء به دا په پام کې نیسي چې آیا هغه د رشد او درایت له پلوه دا وړتیا تر لاسه کړې چې موفقه او سلیمه کورنۍ جوړه کړي او د سم پاللو له عهدې ئې ووځي؟ آیا هغه د دې وړتیا لري چې مال ئې ورو‌سپاري او که نه؛ یوازي بلوغ معیار ونه ګڼي؛ بلکې د بلوغ تر څنګ د ده هوښیارتیا هم په پام کې ولري. دلته رشد او درایت د نکاح د صحت او د طرفینو د وړتیا د یوه شرط او نښې په توګه معرفي شوی.

دا باید په پام کې ولرو چې یتیم هغه ماشوم ته وایي چې پلار ئې وفات شوی او دی لا بلوغ او پېغلتوب ته نه دئ رسېدلی؛ د یتیم ولي به همدا یتیم تر هغه پالي، روزي او آزمویي چې بلوغ ته ورسېږي؛ نو له دې آیت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې نکاح یوه خاصه مرحله او وخت لري؛ دا وخت یوازي بلوغ (ځواني او پېغلتوب) نه دئ؛ بلکې د نکاح وړتیا؛ د کورنۍ جوړولو استعداد او توانمني؛ او د قرآن په اصطلاح رشد؛ شرط دئ. د قرآن دا وینا (...حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ: تر هغه چې د نکاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو که په دوی کې مو درایت او هوښیاري احساس کړه؛ مالونه ئې وروسپارئ...)؛ دلته د (بَلَغُوا النِّكَاحَ) فقره له (آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا) سره داسي تړل شوې چې ښیي (آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا) د (بَلَغُوا النِّكَاحَ) نښه، پایله او نتیجه ده؛ ځکه دواړه فقرې په (فَإِنْ: نو که) سره وصل شوې او په ګډه خاص مطلب بیانوي؛ او هغه دا چې د نکاح د صحت او

جواز شرط دا دئ چې د نكاح كوونكې او نكاح كېدونكې په تصرفاتو، ويناوو او پرېكړو كې د هغوى ولي او پالونكى دومره رشد، درايت، پوهه او پوخوالى احساس كړي چې كولى شي په ګډه يوه بريالۍ او موفقه كورنۍ جوړه كړي.

- مبادا له دې وېري د دوى مال په اسراف او تلوار سره مصرف كړئ چې ستر به شي او خپل مال به درنه واخلي.
- غنيانو ته په كار ده چې د يتيم د مال له مصرف ډډه وكړي او په خپلو شتمنيو اكتفاء وكړي.
- فقير ولي ته دا اجازه وركړى شوې چې له دې مال په مناسبه او غوره توګه څه مصرف كړي، خو دا به هومره وي چې يوه مستخدم ته په ټولني كې وركول كېږي.
- يتيمانو ته د دوى د مالونو د سپارلو په وخت كې شاهدان ونيسئ.
- دې ته مو پام وي چې الله حسيب دئ؛ د هر څه حساب به درسره كوي.

آيا ډېره عجيبه نه ده چې څوك په قرآن ايمان لري؛ دا څرګند آيت او الهي لارښووني هم ګوري چې د نكاح لپاره ئې خاص پړاو او حد ټاكلى؛ په بلوغ جمع رشد پوري ئې تړلى؛ او همدا ئې يتيمانو ته د دوى د مال سپارلو لپاره ضروري شرط ګڼلى؛ خو بيا هم د همدې صريح آيت خلاف د وړو ماشومانو نكاح جائز ګڼي؟! نه پوهېږم دا څنګه عقل دئ او څنګه ايمان؟!

... بِئۡسَمَا يَأۡمُرُكُم بِهِۦٓ إِيمَٰنُكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٩٣﴾ البقرة

... كه تاسو مؤمنان ياست؛ دا ايمان خو مو په ډېرو بدو شيانو ګماري!!

زه حيران يم دا خلك څنګه د دې صريح او كاملاً څرګند آيت له صحيح فهم عاجز دي!! په دې آيت سره خو الله تعالى غوښتي موږ ته لارښوونه وكړي چې د يتيمانو مال كله هغوى ته وسپارل شي؛ تر ټولو آسان، واضح او عام فهم الفاظ په كې كارول شوي؛ د نكاح پړاو ته رسېدل (حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ)؛ يعني تر هغه به ئې نه ورسپارئ چې د نكاح كولو جوګه شوي نه وي؛ او د دې پړاو يوه نښه ئې هم موږ ته ښودلې (فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدًا: نو كه په هغوى كې مو د رشد او عقلمنۍ نښې احساس كړې) اموال ئې وروسپارئ. نو جنابه! نكاح نه له ولادت وړاندې ده، نه په ورځې كې ده او نه تر بلوغ مخكې؛ او حتى بلوغ هم كافي نه دئ بلكې بل او اساسي شرط ئې رشد

دئ.

د قرآن په دې ځلانده لارښوونې کې دا هم ګورو چې د يتيم متولي او کفيل دا حق نه لري چې د هغوى په مال کې په خپلسر تصرف وکړي؛ غني به هيڅ څه نه ترې اخلي او غريب ئې فقط دومره ترې اخيستى شي چې په ټولني کې معمولاً يوه اجير او مأمور ته ورکول کېږي؛ خو آيا تاسو خبر يئ چې ع ع او هممسلکيان ئې؛ ولي او کفيل ته دا حق هم ورکوي چې يتيمه نجلۍ په ماشومتوب؛ حتى ورنې کې هم چا ته په نکاح ورکړي؟!

ښاغلي ع ع د څو تفسيرونو او فقهاءو نومونه اخيستي او د دوى دا رأى ئې رانقل کړې چې د بلغوا النکاح معنى بلوغ دئ!! دا ئې د ده ليکنه:

"د امت علماء وايى چه دلته د بلوغ نکاح څخه مراد ځواني او پيغلتوب دي، چه انسان شرعا د تکليف مرحلې ته داخليږي. دا تفسير د ابن عباس، مجاهد، ابن زيد او نورو مفسرينو څخه ثابت دي - که هغه په احتلام او حيض وى، اوکه هغه نه وي د عمر په کلونو- او ما ته پکى داسى اختلاف معلوم نه دى چه چا دى کوم بل شي ګڼلي وي. زه به د بيلګى په توګه د څو علماوو اقوال ددرنو لوستونکو مخې ته کښيږدم: أحکام القرآن لابن الفرس (٢/ ٦٣) وقوله تعالى: {حتى إذا بلغوا النکاح}: وهو الحلم في الرجال بلا خلاف في ذلك، تفسير الرازي = مفاتيح الغيب أو التفسير الکبير، تفسير العز بن عبد السلام، الکليات (ص: ٨٨٦): [النکاح]، تفسير الطبري = جامع البيان، تفسير القرطبي (٥/ ٣٤)، فتح القدير للشوکاني"

نه پوهېږم دا ئې د ځان قانع کولو لپاره راوړي که ئې هدف دا دئ چې وښيي ما د دې خلاف خبره کړې؟! جنابه! زما ټول ټينګار پر دې وو او دئ چې د نکاح د صحت لپاره نه يوازې بلوغ بلکې تر څنګ ئې رشد هم ضروري دئ؛ او ستا ټول اصرار او ټينګار پر دې وو چې د نکاح لپاره نه بلوغ شرط دئ او نه رشد!! د يتيم ولي؛ په ځانګړې توګه پلار ئې په ماشومتوب کې د خپلې خوښې کس يا د هغه زوى او لمسي ته ورکولى شي. څه وشول چې اوس وايې: د امت علماء وايي چې دلته د بلغوا النکاح مراد ځواني او پېغلتوب دئ؟! د ګڼ شمېر مفسرينو نومونه دې هم اخيستي؛ نو د دې معنى خو دا ده چې د امت د ټولو علماءو رأى دا ده چې د نکاح لپاره بلوغ شرط دئ؛ بلغوا النکاح= بلغوا الحلم؛ نو په دې صورت کې مو د وړې او غير بالغې نجلۍ

نکاح ته جواز له کومه راایستلی؟! او ولې هغه روايت صحيح ګڼئ چې له دې متفقه تفسير سره تعارض لري؟

## د زينب رضي الله عنها د نکاح په اړه دروغجن روايات

تا د طبري پر تفسير استناد کړی؛ خو آيا پوهېږې چې هغه د رسول الله صلی الله عليه و سلم او له زينب رضي الله عنها سره ئې د نکاح په اړه څه ويلي؟ وينا ئې د قرآن ضد او د رسول الله صلی الله عليه و سلم په اړه دومره کرکجنه چې د اسلام سخت زړي دښمنان ئې هم له ويلو حياء کوي؛ زينب د رسول الله صلی الله عليه و سلم ترورزۍ وه؛ د ده په وړاندي ستره شوې وه؛ غوښتل ئې زيد بن حارثه ته چې هغه هم د ده تر لاس لاندي ستر شوی او آزاد شوی وو؛ په نکاح کړي؛ خو له دې نکاح سره د زينب وروڼه او کورنۍ موافق نه وو؛ وجه ئې د دواړو کورنيو تر منځ پراخ اجتماعي توپير وو؛ يوې خوا ته آزاد شوی غلام او بلې خوا ته د قريشو يوه آزاده درنه کورنۍ، خو دې ته په پام سره چې زيد اوس د رسول الله صلی الله عليه و سلم د زوی په نامه يادېدو او پر هغه ډېر ګران وو؛ زينب رضي الله عنها او کورنۍ ئې له دې نکاح سره توافق وکړ؛ نکاح ترسره شوه او د دوی دواړو ګډ ژوند يو کال يا څه باندي يو کال دوام وکړ؛ اجتماعي توپيرونو پر اړيکو اغېز درلود؛ پايله ئې دا شوه چې زيد رضي الله عنه مجبور شو رسول الله صلی الله عليه و سلم ته شکايت وکړي؛ داسي چې هغه کبر کوي، ده ته په سپکه سترګه ګوري او خبر ئې نه مني؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم هر ځل هغه ته د صبر، تقوی او د دې اړيکي د ساتلو او سمولو سپارښتنه کوله؛ د قرآن له وينا همدا معلومېږي هلته چې فرمايي:

وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِيٓ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَٱتَّقِ ٱللَّهَ...﴿٣٧﴾ الاحزاب

او کله چې تا هغه کس ته چې هم الله پرې انعام کړی وو او هم تا پرې پېرزوينه کړې وه؛ ويل: خپله مېرمن درسره تم کړه او له اللهووېرېږه؛...

د آيت له فحوی او الفاظو؛ په ځانګړي ډول له (تَقُولُ: تا ويل) او (ٱتَّقِ ٱللَّهَ: د الله پروا وکړه) په وضاحت سره معلومېږي چې رسول الله صلی الله

عليه و سلم څو ځله هغه ته له طلاق ډډه کول او په خپل چلن کې د تغيير او تقوى سپارښتنه کړې؛ خو زيد دومره ستومانه او جلالي شوى وو چې زينب ته ئې طلاق ورکړ.

په دې مبارکو آيتونو کې د جاهليت د دور يوه داسې دود ته گوته نيول شوې چې تصحيح او له منځه وړلو ئې لويه غوغا رامنځته کړه، په جاهليت کې معمول دا وه چې چا به څوك په زوى ولۍ ونيو نو هغه به له هره پلوه د رښتيني او اصلي زوى په توگه گڼل کېدو، په ميراث کې به ئې د زامنو په څېر برخه وه او مېرمن به ئې رښتينې گڼل کېده او د ده له کونډې يا مطلقه سره به نکاح حرام تلقي کېده. دا يوه اجتماعي معضله وه او ډېرې ستونزې ئې زېږولې وې، بايد تعديل شوې وى؛ داسې تعديل چې هيڅ مخالفت، تأويل او توجيه ته مجال پرېنږدي او تر قيامته پورې ئې ټغر ټول شي؛ همدا راز خلکو په قومي او نسبي شرافت او اصالت باور درلود، ځينو به د ځينو نورو په پرتله له نسبي پلوه ځان لوړ گڼلو او هغه ته به ئې د خپل سيال په سترگه نه کتلو، د نکاح او ازدواج په چارو کې به دې ته جدي پاملرنه کېده؛ او دا هغه څه وو چې په الهي دين کې هيڅ ارزښت نه لري، د دين له نظره د ټولو انسانانو نسب يو دئ، هيڅ قوم پر بل او هيڅ انسان پر بل له نسبي پلوه هيڅ امتياز نه لري، قرآن د دې جاهلي دودونو د اصلاح لپاره همغه تگلاره غوره کړه چې د نورو کچه دودونو د اصلاح او تصحيح لپاره ئې غوره کړې، الله تعالى غوښتل چې د رسول الله صلى الله عليه و سلم په عملي کړنلارې سره او د ده په خپل ټبر کې د يوې معاملې په ترڅ کې د دې جاهلي دود الغاء اعلان کړي، بايد د رسول الله صلى الله عليه و سلم په عملي ژوند کې داسې څه خلکو ته وروښيي چې د الله تعالى له لوري او په الهي دين کې د دې دود بشپړه الغاء تلقي شي، نو ځکه ئې داسې شرائط برابر کړل چې رسول الله صلى الله عليه و سلم د خپل هغه آزاد کړي غلام مطلقه مېرمن په نکاح کړي چې په زوى ولۍ ئې نيولى وو، خلکو به تر هغه دى د زيد بن محمد په نامه ياداوو چې قرآن امر وکړ: دوى خپل اصلي پلار ته منسوبوئ؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم وغوښتل چې ده ته د خپلې ترور لور؛ زينب بنت جحش په نکاح کړي، خو د رسول الله صلى الله عليه و سلم له وړانديز سره نه زينب رضى الله عنها موافقه کوله او نه ئې ورور او د کورنۍ نورو غړو، هغه ئې د

قریشو سیال نه ګڼلو، خو د قرآن لارښوونو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم ارشاداتو ته په پام سره هم زینب رضی الله عنها له دې وړاندیز سره موافقه وکړه او هم ئې کورنۍ؛ نو له زید رضی الله عنه سره د دې نکاح تر سره شوه؛ خو څه موده (شاوخوا یو کال) وروسته؛ د دوی دواړو مناسبات دومره خړپړ شول چې زید رضی الله عنه غوښتل دې ته طلاق ورکړي، رسول الله صلی الله علیه و سلم له ستونزي خبر شو، زید ته ئې توصیه وکړه چې له طلاق ډډه وکړي او خپله مېرمن له ځان سره وساتي، خو هغه د خپلي مېرمني له چلن تنګ شوی وو او له طلاق پرته ئې بله چاره نه لیده، رسول الله صلی الله علیه و سلم نه غوښتل د دوی ستونزه په طلاق منتج شي، دا ځکه چې دا نکاح د ده په وړاندیز او هڅو تر سره شوې وه، زینب رضی الله عنها د ده د غوښتني په احترام دې نکاح ته چمتو شوې وه، دا اندېښنه هم ورسره وه چې که زید رضی الله عنه خپلي مېرمني ته طلاق ورکړي او په دې توګه د هغې حیثیت ته صدمه ورسېږي؛ له کومي لاري او څنګه به دا صدمه جبرانېږي، معلومه نه ده چې بل څوك به له دې سره نکاح ته چمتو شي که نه، په داسي حال کې چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم زوی بوللي هغې ته طلاق ورکړی بل مسلمان به څنګه دې ته حاضر شي چې هغه نکاح کړي، که ئې رسول الله صلی الله علیه و سلم ځان ته نکاح کړي نو دښمنان به له دې ستره غوغا جوړه کړي، په همدغه حالت کې زید رضی الله عنه خپلي مېرمني ته طلاق ورکړ، همغه څه وشول چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ترې وېرېدو، رسول الله صلی الله علیه و سلم ته له دې پرته بل بدیل نه وو پاته چې زینب رضی الله عنها ځان ته په نکاح کړي. په پورتنیو آیتونو کې دغي پېښي ته په دې توګه اشاره شوې: هغه مهال درپه یاد کړه چې تا هغه کس ته چې هم الله پرې انعام کړی وو او هم تا پرې پېرزوینه کړې وه؛ ویل: خپله مېرمن درسره تم کړه او له الله ووېرېږه، الله تعالی زید ته د ایمان سعادت، د رسول الله صلی الله علیه و سلم د نژدې مصاحبت شرف او ښه استعدادونه ورپه برخه کړي وو، رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه له غلامۍ آزاد کړ، په زوی ولۍ ئې ونیولو او خپله د ترور لور ئې هغه ته په نکاح ورکړه، د دې پېرزوینو تقاضا دا وه چې د زینب رضی الله عنها په اړه له بشپړ احتیاط، زغم او حوصلې کار واخلي، نو ځکه رسول الله صلی الله

عليه و سلم ورته ويل له الله ووېرېږه او مېرمن دي درسره وساته، د قرآن له دې لفظ (تقول) معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په پر له پسې توگه او په وار وار زيد رضي الله عنه ته همدا خبره کړې چې له الله ووېرېږه او خپله مېرمن درسره وساته؛ ورپسې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي: هغه څه چې تا په خپل زړه کې پټ ساتل؛ الله تعالی غوښتل هغه ځرگند کړي، له تا سره دا وېره وه چې دښمنان به ستره غوغا جوړه کړي، حال دا چې وېره دي بايد يوازي له الله تعالی وی، د دښمنانو د غوغا او تبليغاتو هيڅ پروا دي نه کولی، ته له دې وېرېدې چې که زيد رضی الله عنه هغې ته طلاق ورکړي او ته دې ته اړ شې چې هغه په نکاح کړې نو دښمن به غوغا جوړه کړي، خو الله تعالی غوښتل همدا کار وشي، له طلاق وروسته ته هغه په نکاح کړې، چې په دې سره د جاهليت هغه غلط دود ستا په لاس په بشپړه توگه لغو شي، نو کله چې زيد رضی الله عنه خپل حاجت له زينب رضی الله عنها پوره کړ هغه مو تا ته په نکاح درکړه، د دې لپاره چې پر مؤمنانو په دې اړه کومه تنگسه نه وي چې د خپلو زوی بوللو مېرمني هغه مهال په نکاح کړي چې هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي او طلاق ئې ورکړی وي؛ او په دې توگه د جاهليت دغه جاهلانه دود د تل لپاره لغو شي، الله تعالی چې د کوم کار پرېکړه کړې وي هغه هرو مرو تر سره کېږي، هيڅوك ئې د تحقق مخه نه شي نيولی، د الله تعالی له لوري چې څوك د پيغمبر په توگه غوره شي په هغه څه کې به هيڅکله زړه تنگوالی نه احساسوي چې الله پرې مأمور کړی، همدا د ټولو پيغمبرانو په اړه د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت دئ. د قرآن له دغو فقرو د پېښې ډېري برخي معلومېږي: (وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا؛ مَّا كَانَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ ٱللَّهُ لَهُۥ ۖ سُنَّةَ ٱللَّهِ فِي ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا): (او د الله امر تر سره کېدونکی وو؛ پر پيغمبر په هغه څه کې هيڅ حرج نشته چې الله ورته ټاکلي؛ دا د الله هغه سنت دئ چې په وړاندي تېر شوو (انبياءو) کې هم وو؛ او د الله امر يوه ټاکلې عملي کېدونکې پرېکړه ده)؛ يعني دا د الله تعالی پرېکړه وه چې دا کار وشي، رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په يو ډول تفهيم شوي چې دا کار وکړي او په دې کې کوم حرج نشته؛ همدا د مخکينيو پيغمبرانو د سنت مطابق کار دئ؛ الله چې کوم څه

مقدر کړي حتماً تر سره کېږي؛ د الله تعالی هر کار په خپلي ټاکلې نېټې او له الهي مقدراتو سره سم تر سره کېږي، انبیاءو ته د الهي رسالت رسولو دنده سپارل کېږي، دوی د خپل مأموریت په تر سره کولو او خلکو ته د الهي رسالت په رسولو کې یوازي له الله تعالی وېرېږي او له الله پرته له هیچا وېره نه لري؛ الله تعالی د حساب کوونکي په توګه کافي دئ.

دا آیتونو په ډېر وضاحت سره ښیي چي دا هر څه؛ د الله تعالی په اراده او خوښه او د یوه جاهلي دود له منځه وړلو په موخه تر سره شوي؛ خو متأسفانه طبري د احزاب سورې د ۳۷م آیت په تفسیر کې داسي روایات راوړی چي ګواکي رسول الله صلی الله علیه و سلم په ناڅاپي او غیر مترقبه ډول زینب رضی الله عنها ولیده، خوښه ئې شوه او زړه ئې غوښتل چي زید رضی الله عنه ئې طلاقه کړي او دی ئې په نکاح کړي!! هغه لیکي: "رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَعْجَبَتْهُ"، "يُحِبُّ أَنْ تَكُونَ قَدْ بَانَتْ مِنْهُ لِيَنْكِحَهَا" حال دا چي دا وینا هم په بشپړ ډول د قرآن خلاف ده او هم د حقائقو خلاف.

دې ته مو باید پام وي چي د اسلام دښمنانو له همدې غلطو روایاتو او ناسمو تفسیرونو ستره غوغا جوړه کړې، پر رسول الله صلی الله علیه و سلم ئې ډول ډول تورونه لګولي، مستشرقینو په خپلو لیکنو کې پر دې قضیې ډېر ترکیز کړی او له هغې ئې ستره تبلیغاتي حربه جوړه کړې، ځینو ویلي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه ورځ زینب رضی الله عنها په داسي حال کې لیدلې چي زړه ئې پرې بایللی... زید رضی الله عنه دې ته متوجه شوی او د همدې لپاره ئې هغې ته طلاق ورکړ!!... دا په داسي حال کې چي زینب رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه و سلم تر نظر لاندي ستره شوې، که رسول الله صلی الله علیه و سلم غوښتلی نو هغه به ئې له زید رضی الله عنه سره تر نکاح وړاندي په نکاح کړې وه، که زینب رضی الله عنها له یوه آزاد شوي غلام سره چي نه ئې مال او دولت درلود او نه دې خپل سیال ګڼلو نکاح ته چمتو کېږي نو آیا له رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د دې د نکاح په وړاندي څه خنډ او مانع وو؟! دښمنان په خپلو معاندانه تبلیغاتو کې دې ته هم اعتناء نه کوي چي ادعاء ئې هم د عقل خلاف ده او هم د تاریخي واقعیتونو خلاف، بس له هر فرصت په استفادې سره د خپل خیرن

زړه بړاسي باسي او دروغجن تورونه لګوي.

## د الطلاق سورې د څلورم آيت ناسم تفسير

کله چې د وړې نجلۍ د نکاح جواز لټوونکي؛ صريح نص په قرآن کې نه مومي نو هڅه کوي چې يا کوم ضعيف روايت پيدا کړي، يا د کوم مفسر ناسم تفسير او يا په ډېر تکلف سره د کوم آيت له الفاظو داسې څه راوباسي چې د دوی مستمسك شي؛ لکه دا چې د الطلاق سورې څلورم آيت چې په اصل کې د عدت په اړه دئ؛ نه د نکاح په اړه؛ خو دوی په تکلف سره د وړې نجلۍ د نکاح حکم ترې راباسي؛ ما ليکلي وو: ځيني د الطلاق سورې په څلورم آيت؛ په غير موجه او ناسمه توګه استناد کوي او د آيت دغه فقره (وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) داسې تعبيروي چې ګواکې مراد ئې نابالغې نجونې دي؛ او ګواکې د هغوی نکاح جائزه ده؛ آيت داسې دئ:

وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا ٤ الطلاق

او ستاسې هغه مېرمنې چې له حيض ناهيلې شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې مياشتې دئ او د هغو هم چې حيض ئې ودرېدلی؛ او د حامله مېرمنو نېټه دا ده چې خپل حمل وزېږوي؛ او څوك چې له اللهووېرېږي هغه ته به په خپل کار کې آسانی وګرځوي.

د دې آيت په اړه بايد څو مهمې خبرې په پام کې ولرو:

- اسلام ولې دا شرط وضع کړی چې له طلاق يا د مېړه له مړينې وروسته بايد يوه مېرمن تر بلې نکاح وړاندې يوه موده انتظار وکړي؟ دا پوښتنه د شرعي ځواب تر څنګ عقلي او علمي ځواب ته هم ضرورت لري؛ علماءو دا ځواب ويلی: په عدت سره به دا معلومه شي چې مطلقه يا کونډه مېرمن له مخکيني مېړه په رحم کې اولاد لري که نه؛ خو طب او تجربي علومو پر دې سربېره يو بل جالب علت هم پېژندلی او وايي: هر لومړنی جنسي مباشرت په مېرمنې کې د ډېرو هورموني تغييراتو باعث کېږي؛ د دې لپاره چې د هغې

بدن او د جنسي چارو اړوند غړي له دغه نوي تحول سره ځان عيار کړي؛ دا يوه ډېره پېچلې عمليه او دروند کار دئ؛ په وينې کې خاص هورمونونه توليدېږي او په رحم کې د نوې نطفې د روغ او سالم ساتلو لپاره لازم تياری او چمتو والی نيول کېږي؛ خو که دا عمليه برياله او موفقه نه وه او د بچي نطفه رامنځته نشوه؛ نو د مېرمني په بدن او رحم کې چې شاوخوا يوه مياشت کوم تياری نيول شوی وو؛ او ډېر تغييرات راغلي وو دا به له منځه ځي او عادي حالت ته به ستنېږي؛ حيض د همدې تصفيې او تعديل رامنځته کولو يوه عمليه ده. کله چې د دې مېرمني مېړه يا وفات شي يا طلاق رامنځته شي نو بدن له مخکيني حالت د وتلو او نورمال او عادي حالت ته د ستنېدو لپاره کافي وخت ته ضرورت لري؛ دې وخت ته قرآن د عدة نوم ورکړی. په دې موده کې له جنسي مباشرت منع کړی شوې.

• په دې آيت کې د هغو مېرمنو د عدت په اړه بحث شوی چې ١- له حيض مأيوسه شوې؛ خو په ناڅاپي توګه ئې داسي څه ليدلي چې شکمني شوې دي؛ د کومي بيمارۍ يا کوم بل عامل له کبله ئې داسي وينه ليدلې چې د حيض ګمان ئې پرې کړی؛ ٢- هغه مېرمني چې د حيض لړۍ ئې له کوم شك پرته پای ته رسېدلې؛ د دوی دواړو عدت درې مياشتي ټاکل شوی؛ ٣- هغه مېرمني چې حامله (بلاربې او اميندواري) وي؛ د هغوی عدت د اولاد تر زېږون پوري دئ.

• د آيت له الفاظو او ترکيب او ترتيب ئې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا درې واړه مېرمني (ٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ)، (ٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) او (أُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ)؛ هغه مېرمني دي چې حيض ئې وو خو بند شوی؛ همدا د درې واړو تر منځ د اشتراك او يو ډول والي وجه ده؛ او عدت ئې هم سرۀ ورته او د مياشتو په حساب دئ؛ نه د حيض له مخي؛ د (ٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) داسي تعبير او تفسير راايستل چې ګواکې مراد ئې هغه نجونې دي چې پېغلتوب ته نه وي رسېدلې؛ اصلاً د آيت له جوړښت او روحيې سره اړخ نه لګوي؛ نه قرآن دومره مبهم دئ چې د ماشومې نجلۍ د نکاح جواز به د هغې د عدت د حکم له مخي معلوموو؛ او نه د آيت ترکيب د دې اجازه راکوي؛ «وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ» په دې دليل نه شو کولی هغه نجونې وانګېرو چې لا پېغلتوب ته نه دي رسېدلې؛ چې هغوی به ژر يا وروسته پېغلتوب ته رسي

او هغه مهال به ئې عدت درې حيضه وي نه درې مياشتي. اساساً د هغو مېرمنو چې د حيض پړاو ته رسېدلې دي يا د رسېدو په حال کې دي؛ عدت ئې درې حيضه ټاکل شوی؛ درې مياشتي د هغو لپاره ټاکل شوی چې حيض ئې متوقف شوی؛ ماشومي نجلۍ په دې ضمن کې نه شي شاملېدی؛ دا ځکه چې د چا د حيض احتمال وي نو د هغوی عدت درې حيض ټاکل شوی؛ قرآن فرمايي:

وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ .... ﴿٢٢٨﴾ البقرة

او طلاقې شوې ښځې دي د ځان په اړه تر درې واري حيض انتظار وکړي...

له دې آيت په ډاګه معلومېږي چې د عدت اصلي موده درې قروء (حيضه) ده او درې مياشتي د هغو لپاره ده چې حيض ئې متوقف شوی. دلته دا مطلب هم توجه ايجابوي چې آيت وايي: د ټولو طلاق شوو مېرمنو عدت درې حيضه دئ؛ او د دې معنی فقط دا ده چې په دوی کې هيڅ نابالغه نجلۍ نشته؛ دا ځکه چې د نابالغي نجلۍ نښه دا ده چې حيض ته نه وي رسېدلې؛ نو ځکه ويل شوي چې د ټولو مطلقه مېرمنو عدت درې حيضه دئ.

ځوك چې وايي: د دې آيت دغه فقره (وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) د نابالغو نجونو په اړه دئ او په دې سره غواړي د ماشومانو د نکاح جواز ثابت کړي؛ هغوی ته وايو: ١- دا آيت (وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ) په وضاحت سره ښيي چې د اسلام له نظره په طلاق شوو مېرمنو کې د نابلغو نجونو د شتون تصور هم نشته؛ نو ځکه د ټولو مطلقه مېرمنو عدت په بلا استثناء ډول درې حيضه ټاکل شوی؛ دا قطعاً پر نابالغو نجونو نشي تطبيقېدلی. ٢- د واړه ماشوم نکاح يوازې په هغه صورت کې جائز ګڼلی شو چې د جواز په اړه ئې د قرآن صريح نص ولرو، داسي چې وايي: "له نابالغ سره نکاح جائزه ده"؛ حال دا چې په ټول قرآن کې په دې اړه نه يوازې هيڅ اشاره نه مومو بلکې په واضح توګه دا مومو چې قرآن د نکاح لپاره هم بلوغ شرط کړی او هم رشد او عقلي پوخوالی.

ښاغلي معترض ليکلي چې فلان عالِم ويلي: "د بخاري دغه روايت هغه نص دئ چې د وړې نجلۍ د نکاح جواز ترې ثابېږي"!! تعصب هم داسي آفت دئ چې انسان داسي ناسم استدلال ته اړ کوي!! دا روايت اصلاً د اعتبار

وړ نه دئ؛ نه د سند له پلوه او نه د متن له پلوه؛ دا د قرآن خلاف روايت دئ؛ قرآني نص دا دئ: (حتى إذا بلغوا النكاح: اى بلغوا الحلم). نو د هغه چا ادعاء مه منئ چي نه شي کولی د نابالغ ماشوم د نکاح د جواز لپاره د قرآن کوم صريح او څرګند آيت وړاندي کړي او په داسي روايت استناد کوي چي په خپله ثبوت ته ضرورت لري؛ لکه د بخاري دغه ناسم روايت. ۲- دې پوښتني ته بايد ځواب ووايئ چي د (حتى اذا بلغوا النكاح) معنى څه ده؟ دا دوه متعارضي او متضادي خبري به څنګه تلفيقوئ چي له يوې خوا د نکاح لپاره بلوغ شرط ګڼي او له بلي خوا د نابالغي نجلۍ نکاح جائز بولي؟ ۳- قرآن خو د نکاح د صحت لپاره (بلوغ) او (رشد) د شرط په توګه وړاندي کړي؛ تاسو ولي دا شرط له پامه غورځولی؟ په داسي حال کي چي نه په ټول قرآن کي داسي آيت مومو چي د نابالغ هلك او نجلۍ د نکاح جواز ترې ثابت شي؛ ولي کله په ضعيفو رواياتو استناد کوئ او کله په بلي مشخصي موضوع پوري مربوط آيت؛ په تکلف سره د خپل غرض لپاره غلط تعبيروئ ٤- له دې الهي لارښووني سره به څه کوئ چي خاوند ئې له بزګر او مېرمن ئې له پټي سره تشبيه کړې؛ او توصيه کوي چي د نکاح موخه به اولاد درلودل او د کورنۍ جوړول وي نه يوازي د جنسي غريزې اشباع؛ هلته چي فرمايي: نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡۖ وَقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُمۡۚ .... البقرة: ۲۲۳؛ د دې الهي امر او قرآني لارښووني په شتون کي به د وړې نجلۍ نکاح څنګه توجيه کوئ؟ په دغو دريو خبرو کي يوه منلی شو: ۱- د وړې نجلۍ نکاح جائزه ده، ۲- د نکاح د صحت لپاره بلوغ شرط دئ او ۳- پر بلوغ سربېره رشد بل مهم شرط دئ. په سل يقين سره ويلی شو چي د قرآن له نظره د نکاح د صحت لپاره پر بلوغ سربېره رشد هم شرط دئ؛ هر څوك چي له دې پرته بله خبره کوي؛ ادعاء ئې باطله او د دغو دوو څرګندو آيتونو خلاف ده: (حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ) او (وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ).

حقيقت دا دئ چي د الطلاق سورې په ٤ آيت کي د عدت په اړه دغه لارښووني شوې: ستاسي هغه مېرمني چي له حيض ناهيلي شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې مياشتي دئ. دلته څو خبري بايد په پام کي ولرو: ۱- له (وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ) هغه مېرمني مراد دي چي د زړښت له کبله له حيض ناهيلي شوې، دا ځکه چي د مېرمنو حيض

هم په زېږښت کې متوقف شي، هم د حمل په حالت کې او کله کله د خاص مرض له امله. نو د دغو مېرمنو د عدت لپاره د درې حیضونو پر ځای درې میاشتي ټاکل شوې. ۲- د (إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ) په اړه ځینو مفسرینو ویلي چي معنی ئې د اړوند حکم په ارتباط شك دئ، یعني که شکمن شوئ چي حکم به ئې څه وي؛ نو پوه شئ چي حکم ئې دا دئ، خو دا ډېره ضعیفه او ناسمه توجیه ده؛ د حکم په اړه د شکمن کېدو تعبیر قطعاً وارد او مناسب تعبیر نه دئ؛ دا د هغه چا تعبیر کېدی شي چي په تکلف سره د خپلي ناسمي ادعاء لپاره د یوه آیت داسي تأویل او تعبیر وړاندي کوي چي څرګند تحریف ته ورته وي. خو محققینو ویلي: معنی ئې دا ده: که شکمن شوئ او داسي وینه تر سترګو شوه چي نه پوهېږئ د حیض له کبله ده او که د کومي بیمارۍ له کبله؛ نو عدت ئې درې میاشتي دئ؛ داسي وینه انسان په شك کې اچوي چي دوی د عمر هغه حد ته رسېدلې که نه چي د حامله کېدو او زېږون امکان له منځه ځي او حیض متوقف کېږي؛ د آیت له فحوی په څرګنده توګه معلومېږي چي د دوهمي ډلي مفسرینو رأیه دقیقه ده، دا ځکه چي له یوې خوا د بحث موضوع هغه مېرمني دي چي ۱- یا له حیض مأیوسه شوې خو شکمني شوې دي او ۲- یا هغه چي په بشپړه او یقیني توګه پوهېدلې چي نور د حیض له پړاو تېري شوې؛ د دوی دواړو عدت درې میاشتي دئ؛ هغه چي د آیت له دې فقرې (وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) دا تعبیر وړاندي کوي چي ګواکې مراد ئې هغه نجوني دي چي لا د حیض سن (بلوغ) ته نه دي رسېدلې؛ نو د هغوی عدت هم درې میاشتي دئ؛ همغسي لکه چي د هغو مېرمنو هم درې میاشتي دئ چي حیض ئې ځنډېدلی او شکمني دي؛ د همدې ناسم تعبیر په استناد له داسي نجونو سره نکاح جائز ګڼي چي لا پېغلتوب ته نه وي رسېدلې؛ دوی یقیناً اشتباه کړې؛ د آیت له الفاظو او ترکیب په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چي دا هغه مېرمني دي چي حیض ئې په یقیني ډول او له کوم شك پرته متوقف شوی؛ نو ځکه الله تعالی د هغوی عدت درې میاشتي ټاکلی؛ که له (لم یحضن) مراد وړې نجوني وی نو د آیت ترکیب به داسي نه وو؛ یا به داسي ویل کېدل چي د دوی عدت به یا درې میاشتي یا درې حیضه وي؛ یعني که د عدت په دوران کې بلوغ ته ورسېدلې نو عدت به ئې د حیض له مخي وي او که نه نو د میاشتو له مخي؛ خو په

آيت کې دا احتمال منتفي شوی او په پرېکنده ډول وايي: عدت ئې فقط درې میاشتې دئ؛ يعنې چې دا هغه مېرمنې دي چې له کوم شك پرته ئې حيض متوقف شوی؛ هغه چې باور لري په قرآن کې د شك هيڅ مجال او مورد نشته؛ د هغوی تفسير به له دې آيت دا وي: په دې آيت کې د دريو مېرمنو د عدت څرنګوالی بيان شوی: ١- (وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ) هغه چې له حيض مأيوسې شوې؛ هغه چې د کوم خاص عامل له کبله د هغوی په مياشتنی حيض کې کوم خلل رامنځته شوی او شك ورته پيدا شوی چې دا موقتي خلل دئ که د حيض دائمي توقف؛ ٢- (وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) هغه چې حيض ئې په يقيني ډول متوقف شوی؛ د دوی دواړو عدت درې میاشتې ټاکل شوی؛ له همدې يو ډول عدت معلومېږي چې دواړه د حيض له پلوه يو ډول مېرمنې دي؛ توپير ئې يوازې په دې کې دئ چې لومړۍ ډله لا په يقيني توګه نه پوهېږي چې د دوی حيض متوقف شوی. خو راشئ وګورو چې د دې تفسير په اړه د ښاغلي (ع ع) تأويل څه دئ؛ زه خو ورته سخت حيران شوم؛ د الله تعالی له مبين کلام سره د دوی له چلن او په يوه آيت کې دوه کرکجن تصرفات او تأويلات؛ وايي: فقهاءو ورته د حل لار ايستلې؛ هغوی ويلې: که وړه نجلۍ د عدت په دوران کې پېغله شوه نو بيا به عدت د حيض له مخې وي نه د دريو مياشتو په حساب!! چې په دې سره د آيت دوه صريح وېناوې بدلوي (تحريفوي)؛ آيت وايي چې عدت ئې فقط درې مياشتې دئ خو دوی وايي درې حيضه هم کېدی شي!!؛ آيت وايي: (لم يحضن) هغه مېرمنې دي چې حالت ئې له (ٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ) سره ورته دئ او حيض ئې متوقف شوی؛ خو دوی وايي: حيض ئې پيل شوی نه دئ؛ يعني وړې نجلۍ!!؛ په داسې حال کې چې که مراد وړې نجلۍ وی نو قرآن به داسې الفاظ ورته راوړل چې عدم بلوغ افاده کړي لکه (ٱلَّٰٓـِٔي لَمْ يبلغن الحلم)؛ پر دې سربېره به دا وضاحت هم کېدو چې عدت به درې حيضه وي نه درې مياشتې؛ يعني چې دوی د يوه ناسم روايت لپاره ځان ته دا حق ورکوي چې د الله تعالی په صريح کلام او حکم کې تصرف وکړي او وايي: که (ٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ)؛ (ٱلَّٰٓـِٔي يَحِضۡنَۚ) شي نو بيا به ئې عدت هم له (ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ) (ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ: درې حيضه) ته واړوو؛ د شيطان کور دې وران شي چې پر خپلو ملګرو او اتباعو څه لوبې کوي!!؛ له يوه ضعيف روايت د دفاع لپاره دا حق ځان ته ورکوي چې د قرآن

په صریح آیتونو کې د تحریف او غلط تأویل مرتکب شي!! د دې شاغلي په ځواب کې وایو: په آیت کې په پرېکنده ډول او د بحث په پیل کې ویل شوي چې د دوی عدت درې میاشتې دئ؛ نو دا فقط هغه مېرمنې دي چې حیض ئې په یقیني ډول متوقف شوی؛ په نجونو او پېغلو ځکه نشي تطبیقېدی چې د هغوی عدت به درې حیضه وي نه درې میاشتې؛ قرآن په صراحت سره وایي: (وَٱلْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍۚ): او ټولې طلاق شوې ښځې دې د ځان په اړه درې حیضه انتظار وکړي)؛ په دې کې د نابالغو او تر حیض وړاندې نجونو شاملول؛ په هیڅ تأویل او تحریف سره ممکن نه دئ؛ ځوك چې حیض نه لري څنګه به ئې عدت درې حیضه ټاکل کېږي؟! د الله تعالی کلام بشپړ او کامل دئ؛ هیڅکله او په هیڅ مورد کې داسې الفاظ نه دي په کې کارول شوي چې مبهم او په عمل کې ئې تطبیق اشکال رامنځته کړي؛ لکه دغه ښاغلی چې وايي: که وړه نجلۍ پېغله شوه نو بیا به د الله دا کلام چې وایي (فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشْهُرٍ: نو عدت ئې درې میاشتې دئ) بدلوو او له هغه به (ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ: درې حیضه) جوړوو!! جنابه! آیا ته د دې وینا په تفاهت او سخافت نه پوهېږې؟

## آیا د نکاح موخه یوازې د اولاد درلودل دي؟

تا لیکلي چې د نکاح موخه یوازې اولاد درلودل نه دي!! په داسې حال کې چې قرآن په تأکید او تکرار سره وایي چې د نکاح موخه به د نسل دوام او د اولاد درلودل وي؛ نه فقط د جنسي غریزې اشباع؛ قرآن فرمایي:

.... فَٱلْـَٰٔنَ بَٰشِرُوهُنَّ وَٱبْتَغُواْ مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمْۚ .... البقرة: ۱۸۷

.... نو اوس له دوی سره مباشرت کوئ او هغه څه وغواړئ چې الله درته مقدر کړي (یعني د اولاد درلودو په نیت نژدې والی وکړئ)....

..نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُواْ حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْۖ وَقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُمْۚ ... البقرة: ۲۲۳

.... مېرمنې مو ستاسو لپاره یو کرځای دئ؛ نو چې څنګه مو خوښه وي همغسې خپل کرځای ته ورشئ او د ځان لپاره څه وړاندې ولېږئ: (یعني له مېرمنو سره ستاسو نژدې والی به داسې وي لکه بزګر چې خپل کرځې ته ورځي؛ د فصل او حاصل په غرض او نیت؛ چې په دې سره له یوې خوا نیت او موخه په ګوته کوي او له بلې خوا طبیعي او د انساني فطرت مطابق

مباشرت ته اشاره کوي.)

... أَن تَبۡتَغُواْ بِأَمۡوَٰلِكُم مُّحۡصِنِينَ غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَۚ .... النساء: ٢٤

.... چي په خپل مال سره ئې د نکاح کوونکو په توګه لټه وکړئ؛ نه د زنا کوونکو په توګه؛ ....

.... مُحۡصَنَٰتٍ غَيۡرَ مُسَٰفِحَٰتٖ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخۡدَانٖۚ ... النساء: ٢٥

.... د نکاح په حصار کې راتلونکې، نه زنا کوونکې او نه د پټي يار نيونکې،

دا څلور آيتونه وايي: له مېرمنو سره د مباشرت موخه بايد اولاد درلودل وي؛ نه فقط د جنسي غريزې اشباع. نو د قرآن له نظره له هغي ماشومي سره جنسي نژدېکت د دين او فطرت خلاف کار دئ چي بلوغ ته نه وي رسېدلې؛ خو دا ښاغلی معترض وايي: " دا دعوی قطعا غير دقيقه ده چه د نکاح موخه يوازې اولاد درلودل دي."؛ د دې څلورو آيتونو د مخالفت جسارت دي ښيي چي ستاسو معامله له قرآن سره څنګه ده!!

## د يتيم ولي کولی شي په ماشومتوب کې ئې چا ته واده کړي؟

همدا راز هغه وايي: "هو، ايجاب اوقبول د نکاح لپاره شرط دي، خو د صغير ولي د هغه نه نيابت کوي. لکه مالی عقود: اخستل او خرڅول او اجاره ... الخ. پدی ټولو کی ايجاب او قبول شرط دی، خو د صغير نه به يې ولی نيابت کوي." پوښتنه کوم: دا حق چا ولي ته ورکړی؟ تا ته چا ويلي چي ولي ئې په مال کې د هر راز تصرف حق لري؟ په داسي حال کې چي قرآن وايي: غني ولي به د يتيم له مال هيڅ څه نه مصرفوي او اجوره دي هم نه اخلي او فقير ولي يوازې د عرف مطابق مصرف کولی شي؛ تا ته چا ويلي چي ولي د يتيم له موافقې پرته د هغه داسي وکيل کېدی شي چي هم ئې پلورلی شي او هم ئې هر چا ته په نکاح ورکولی شي؟ دا واك د قرآن کوم آيت ورکړی که د بخاري کوم روايت؟ آيا د قرآن دا آيتونه دي کله لوستلي او په معنی ئې پوه شوی يې چي رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په خطاب کې وايي:

وَإِن كَادُواْ لَيَفۡتِنُونَكَ عَنِ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥۖ وَإِذٗا لَّٱتَّخَذُوكَ خَلِيلٗا۝٧٣ وَلَوۡلَآ أَن ثَبَّتۡنَٰكَ لَقَدۡ كِدتَّ تَرۡكَنُ إِلَيۡهِمۡ شَيۡـٔٗا قَلِيلًا۝٧٤

إِذًا لَّأَذَقۡنَٰكَ ضِعۡفَ ٱلۡحَيَوٰةِ وَضِعۡفَ ٱلۡمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيۡنَا نَصِيرًا ﴿٧٥﴾ الإسراء

۷۳- او نژدې وه په فتنه کې دې واچوي او له هغې وحې دې واړوي چې تا ته مو کړې، په دې موخه چې د وحې خلاف خبره له ځانه موږ ته منسوب کړې نو هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نیولې. ۷۴- او که مو مضبوط کړی نه وی نو یقیناً چې نژدې وه لږ شانته د دوی لوري ته متمایل شې؛ ۷۵- چې په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دې زمونږ په خلاف کوم ملاتړی نه شو موندلی.

باید متوجه وو چې دلته رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: (لِتَفۡتَرِيَ عَلَيۡنَا غَيۡرَهُۥ: چې ته د وحې (قرآن) له وینا پرته بل څه موږ ته منسوب کړې)؛ نو هغه مهال به ئې ته نژدې دوست نیولې او په هغه صورت کې به مو په ژوند کې هم دوه برابره عذاب درڅکلی وو او له مرګ وروسته هم دوه برابره، بیا به دې زمونږ په خلاف کوم ملاتړی هم نه شو موندلی. دلته د (تفتري) صیغه کارول شوې؛ افتراء هغه څه ته وایي چې څوك بل ته داسې وینا او عمل منسوب کړي چې د حقیقت خلاف وي او هغه نه دا خبره کړې وي او نه دا عمل؛ نو دلته ئې معنی دا ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د داسې څه له ویلو او کولو منع شوی چې په قرآن کې ورته څرګند شاهد ونه لري؛ نه به څه پر وحې (قرآن) اضافه کوي او نه به څه ترې کموي؛ هر کمی او زیاتی افتراء ده او الله تعالی ترې منع کړی؛ او سزا ئې هم په دنیا او آخرت کې دوه برابره عذاب دئ. یعنې رسول الله صلی الله علیه و سلم هیڅ څه نه پر قرآن اضافه کړي او نه ئې ترې کم کړي؛ حدیث ئې د قرآن شرح او تفسیر دئ نه بېله او مستقله وحې.

په دې آیتونو کې داسې له عتابه ډکې صیغې مومو چې نظیر ئې په ټول قرآن کې نه شو موندلی!! رسول الله صلی الله علیه و سلم ته ویل شوي: که د دښمن دا غوښتنه دې منلې وی چې په الهي وحې (قرآن) کې د لږ قدري تغییر مطالبه ئې کوله او له ځانه دې څه ویلي وی نو هم به مو په دنیا کې تا ته دوه برابره عذاب درڅکلی وو او هم په آخرت کې!! خو د الله تعالی د

پېرزویني له امله پر خپل دریځ ثابت او ټینګ پاته شوې او د دوی غلطې غوښتنې ته تسلیم نه شوې!! دا آیت د قریشو هغو مسلسلو غوښتنو ته اشاره کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به ئې په وار وار او په بېلو بېلو الفاظو ویل: زموږ د معبودانو په ضد له څه ویلو ډډه وکړه، داسې څه ووایه چې ټول پرې راغونډ شو، د تلفیق او روغې جوړې کوم مناسب صورت راپیدا کړه، لږ ته راکوز شه او لږ به موږ او په دې سره به د دښمنیو او مخالفتونو دا لړۍ پای ته ورسوو!! خو ګورئ چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په دې اړه الهي لارښوونه څنګه وه او په کومو الفاظو ئې له داسې روغې جوړې منع کړی؟! ګورئ چې د پیغمبرانو علیهم السلام دنده څومره حساسه ده او په دې دروند الهي مأموریت کې د معمولې اشتباه پایله څومره جدي او هیبتناکه؟! ګورئ چې د دښمن د خوشحالولو او ارضاء لپاره معمولي تنازل څنګه د الله تعالی د سخت غضب سبب ګرځي!! همدا راز ګورئ چې که د دښمن لوري ته ډېر لږ تمایل دومره جدي نیول کېږي او د داسې سختې مؤاخذې وړ ګڼل کېږي؛ له دښمن سره د مصالحې او سازش عاقبت به څنګه وي؟! له دې معلومېږي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم غوښتل څه وکړي؛ او یو ډول تفاهم رامنځته شي؛ خوالله تعالی ترې منع کړ. نو د دې آیتونو معنی دا ده چې رسول الله صلی الله علیه و سلم له بعثت وروسته په خپل ټول ژوند کې هیڅکله داسې خبره نه ده کړې او الله تعالی ته ئې داسې څه نه دي منسوب کړي چې په قرآن کې نه دي راغلي؛ هر څوك چې ده ته داسې روایت منسوبوي چې منشأ ئې په قرآن کې نه وي، په ټول قرآن کې هیڅ شاهد ورته نه مومي؛ یا له قرآن سره تعارض ولري؛ نو له شك پرته ئې ادعاء او انتساب دروغجن او د حقیقت خلاف دئ او روایت ئې قطعاً د منلو وړ نه دئ؛ څوك چې داسې روایت مني او بل ته ئې وایي؛ دی هم ستر دروغجن دئ او کار ئې د دې آیتونو خلاف.

حقیقت دا دئ چې د یتیم ولي ته نه د هغه د وړلو حق ورکړی شوی، نه ئې د پلورلو او نه ئې چا ته په زور او د هغه له موافقې او رضایت پرته په نکاح ورکولو؛ او که دا کار وکړي نو له بلوغ وروسته د نجلۍ په غوښتنه نکاح فسخه کېدی شي.

دا ښاغلی د ابن حزم رحمه الله دا وینا هم لیکي: "وَإِذَا بَلَغَتِ الْبِكْرُ

وَالثَّيِّبُ، لَمْ يَجُزْ لِلْأَبِ وَلَا لِغَيْرِهِ أَنْ يُزَوِّجَهَا إِلَّا بِإِذْنِهَا، فَإِنْ وَقَعَ فَهُوَ مَفْسُوخٌ أَبَدًا.": او کله چې پېغله بالغه شي او ښځه کونډه وي؛ نو نه پلار او نه بل څوک دا حق لري چې د هغې له اجازې پرته ئې چا ته په نکاح ورکړي؛ که داسي نکاح وشي؛ نو هغه د تل لپاره فسخ ده." ښاغليه! که ته د ابن حزم دا وينا منې؛ نو آيا ستا عقل او ايمان مني چې د بلوغ په صورت کې پلار حق نه لري چې خپله لور د دې له رضايت پرته په نکاح ورکړي؛ که ئې ورکړي نو نکاح ئې د تل لپاره فسخه ده؛ خو پلار ئې دا حق لري چې هغه په ماشومتوب کې په نکاح ورکړي؛ په داسي حال کې چې په ماشومتوب کې نکاح اصلاً جواز نه لري؛ د نکاح د جواز لپاره بلوغ شرط دئ؟! د عقل او ايمان حکم خو دا دئ چې کوم څه د بلوغ په حالت کې ناروا وي په اولی درجه به په ماشومتوب کې ناروا وي. اسلام چې د نکاح په اړه کومي لارښووني لري؛ مهمي برخي ئې دا دي:

- له بلوغ وروسته؛ د دواړو په موافقه او هغه مهال ترسره شي چې دواړه د رشد پړاو ته رسېدلي وي او د سمي پرېکړي او صحيح انتخاب جوګه وي.
- يو د بل کفو او سيال وي او اجتماعي حالت ئې سره ورته وي.
- د يوې کورنۍ جوړولو او اولاد پاللو په موخه وي؛ نه د جنسي غريزې د اشباع په موخه او موقته اړيکه.
- د دواړو تر منځ توافق ئې اصلي شرط او د کورنيو توافق ئې مفيد او غوره ګڼلی.
- مناسب مهر ټاکل؛ هومره چې د مېرمني مستقبل تضمين کړي او هغه پرې راضي شي. دا مهر په بشپړه توګه د نجلۍ حق دئ او مقدار ئې هم د دې په موافقې پوري تړلی دئ.
- لږ تر لږه دوه نارينه يا يو نارينه او دوه ښځي به د شاهدانو په توګه په منځ کې وي.
- دا نکاح به څرګنده وي او پټه به نه پاته کېږي.

لکه چې ګورئ قرآن د نکاح لپاره خاص پړاو ټاکلی؛ دا ټاکلی پړاو يوازي بلوغ (ځواني او پېلغتوب) نه دئ؛ بلکي د آيت له لارښووني په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د بلوغ تر څنګ بايد رشد او د عقل پوخوالی هم په پام کې وي.

## د قرآن د مدافعينو خلاف د ځينو عناد او کينه

جنابه! د شهيد منير شاکر په اړه ستا بې ربطه او له عقدې ډکه ليکنه مې هم ولوسته؛ ښايي د هغه د نامردو او ذليلو قاتلانو او تکفيريانو د شاباشي تر لاسه کولو لپاره دې دا ليکنه کړې وي؛ خو زه داسې انګېرم چې ستا او ستا د تکفيري ملګرو او د دغو نامردو قاتلانو د ټول ژوند نېك عملونه به د هغه د يوې هغې خطبې برابر هم نه وي چې د الله تعالی له سپېڅلي کتاب؛ قرآن د دفاع په موخه ئې کړې. د ده په څېر له نورو شخصيتونو سره ستا اختلاف هم دې ته ورته شاليد لري. ستا او ستا د ملګرو اصلي مشکل له قرآن سره دئ؛ ځوك چې له قرآن دفاع کوي، استناد پرې کوي، کامل او د اختلافاتو د حل وروستۍ مرجع ئې ګڼي؛ د روايت د صحت لپاره دا شرط ضروري ګڼي چې له قرآن سره به تعارض نه لري؛ نو تاسو هغه ته د اصلي دښمن په سترګه ګورئ او د هغه وينا ته مو وېښتان ځيږ او غوږونه څك شي؛ يا ئې تکفير کړئ يا ئې منکر حديث وګڼئ! تاسو د هغو په ډلې کې يئ چې رسول الله صلی الله عليه و سلم به د قيامت په ورځ د الله تعالی په وړاندې په دې صيغه ترې شکايت کوي:

وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوۡمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ مَهۡجُورٗا ۝٣٠ الفرقان

او پيغمبر وويل: اې زما ربه! يقيناً چې زما قوم دا قرآن د يوه متروك شي په توګه نيولی.

يعني د قيامت په ورځ به پيغمبر د الله تعالی په وړاندې دا شکايت کوي چې امت ئې قرآن ته اعتناء ونه کړه، هغه ئې شا ته وغورځاوو، داسې لکه کوم متروك شی؛ کوم قوم چې د الله په کتاب د پوهېدا هڅه ونه کړي، په لارښوونو ئې عمل ونه کړي، خپلې شخړې او منازعات د هغه په رڼا کې حل نه کړي، د هر اختلاف د حل لپاره هغه ته رجوع ونه کړي، د الله کتاب د هر اختلاف د حل وروستۍ مرجع ونه ګڼي، د حق او باطل پېژندو لپاره ئې وروستی معيار او ملاك ونه نيسي؛ هغه په حقيقت کې د الله کتاب مهجور او متروك پرېښی که څه هم د ايمان دعوی کوي او هره ورځ ئې د تبرك لپاره لولي او په خپلو منځونو کې د ښه قرائت مسابقې کوي!!

ځيني له قرآن سره همغه معامله کوي چې يهودانو او مسيحيانو له

تورات، انجیل او زبور سره وکړل؛ له تورات ئې د یهودانو د شجرې کتاب جوړ کړ؛ له زبور ئې د داسې ګنده شعرونو کتاب چې هیڅ شریف انسان ئې د خپلې مېرمنې او لور په وړاندې یوه مصرع نشي لوستلی، له انجیل ئې لومړی ځلور او بیا نه انجیلونه جوړ کړل؛ هر یو د مسیح د یو شاګرد له لورې د عیسی علیه السلام د شجرې او قصې کتاب؛ او د دې او هغه لیکونه؛ لکه د مَرقُس، متّی، لوقا او یوحنا انجیلونه او بیا د توما، پطرس، مریم، یهودا او د عبرانیانو انجیلونه؛ او په هغوی کې د یوحنا لیکونه، د پطرس لیکونه، د پولس لیکونه، د یعقوب لیك، د موسی سرود، د داؤد سرود، د داؤد مزامیر (عشقي شعرونه)، د سلیمان غزلونه؛ او په فني ئیل کې له خدای سره د یعقوب علیه السلام د غېږې او په زور له خدای برکت تر لاسه کولو خندوونکې قصه!!

دا ښاغلي له غریبو روایاتو د دفاع په ترڅ کې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د قرآن په څنګ کې د هغه مثل هم ورکړی شوی؛ راشئ دا مزعوم روایت ئې هم وڅېړو.

## د اوتیت القرآن و مثله روایت څېړنه

اهل حدیث چې له نامه ئې هم جوته ده؛ پر حدیث اکتفاء کوي؛ قرآن ئې هم له خپل نوم حذف کړی او هم ئې په عمل کې په بشپړه توګه داسې شا ته غورځولی لکه چې قرآن د اهل کتاب د مذهبي مشرانو په اړه فرمایي:

... نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ﴿١٠١﴾ البقرة

... نو د اهل کتاب یوې ډلې د الله کتاب داسې شا ته وغورځاوو لکه (په هیڅ) چې نه پوهېدل.

وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ وَٱشْتَرَوْاْ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ﴿١٨٧﴾ آل عمران

او کله چې الله له هغو چې کتاب ورکړی شوی؛ دا ژمنه تر لاسه کړه چې

هرومرو به ئې خلکو ته بيانوئ او نه به ئې پټوئ؛ خو خپلې شا ته ئې وغورځاوو او ناځيزه بيع ئې پرې وپېرله، څومره بد دئ هغه څه چې دوی ئې پېري.

دوی په حقيقت کې اهل حديث هم نه دي؛ بلکې اهل روايت دي؛ د بخاري هر روايت؛ متن او سند ته ئې له پام او قرآن ته له راجع کولو پرته او په پټو سترګو، مني، دفاع ترې کوي او قرآن هم د هغه په تله تلي؛ د رواياتو کتاب ته د قرآن د مثل نوم ورکوي او وايي: د قرآن په اړه به روايت د معيار په توګه منو؛ همغه خبره چې دارمي د عنوان په ډول ليکلې:

السُّنَّةُ قَاضِيَةٌ عَلَى الْقُرْآنِ وَلَيْسَ الْقُرْآنُ بِقَاضٍ عَلَى السُّنَّةِ

سنت (حديث) پر قرآن قاضي دئ او قرآن پر سنت قاضي نه دئ!!

يعني د قرآن په اړه به د روايت له مخې قضاوت کوو نه دا چې روايت د قرآن په تله وتلو!!

خو احمد حنبل د دې وينا په اړه وايي: دا جرأت نشم کولی چې ووايم: سنت پر آيت قاضي دئ؛ بلکې سنت د آيت تفسير او شرح وړاندې کوي.

دې روايت ته ځير شئ:

٤٦٠٤- حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرِو بْنُ كَثِيرِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ حَرِيزِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَوْفٍ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِى كَرِبَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «أَلَا إِنِّى أُوتِيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا يُوشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانُ عَلَى أَرِيكَتِهِ، يَقُولُ: عَلَيْكُمْ بِهَذَا الْقُرْآنِ، فَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَلَالٍ فَأَحِلُّوهُ، وَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوهُ أَلاَ لاَ يَحِلُّ لَكُمْ لَحْمُ الْحِمَارِ الأَهْلِىِّ، وَلاَ كُلُّ ذِى نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ، أَلاَ وَلاَ لُقَطَةٌ مِنْ مَالِ مُعَاهَدٍ إِلاَّ أَنْ يَسْتَغْنِىَ عَنْهَا صَاحِبُهَا، وَمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ، فَعَلَيْهِمْ أَنْ يَقْرُوهُمْ، فَإِنْ لَمْ يَقْرُوهُمْ، فَلَهُمْ أَنْ يُعْقِبُوهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُمْ...» سنن ابى داؤد، مسند احمد

د روایت خلاصه دا ده: له مقدام بن معدي کرب الکندي روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «پام چې ما ته دا کتاب راکړل شوی او له هغه سره ورته ئې؛ پام چې ښایي ژر به داسې موړ سړی پر خپل تخت تکیه کوونکی وایي: همدا قرآن درته بس دئ؛ څه چې په هغه کې حلال ومومئ حلال ئې وګڼئ او څه چې په هغه کې حرام ومومئ حرام ئې وګڼئ؛ پام چې تاسو ته د کورني خره غوښه حلاله نه ده، نه د انیاب غاښونو لرونکی هر څناور؛ پام چې د (غیر مسلمان) معاهد د ورک شوي مال کوم څه هم حلال نه دي؛ مګر دا چې خاوند ئې ترې بې نیازه شوی وي؛ او څوك چې کوم قوم ته د مېلمه په ډول ورشي، نو پر هغوی د ده مېلمه پالنه لازمه ده؛ نو که هغوی د ده مېلمه پالنه ونه کړه؛ هغه حق لري چې د خپلې مېلمه پالنې په اندازه عوض ترې واخلي.

دا روایت د سند له پلوه غریب دئ؛ په صحابه وو کې یوازې یو راوي لري؛ یوازې دغو کتابونو د راوړلو وړ ګڼلی: سنن ابي داؤد، مسند احمد او سنن الدارمي؛ د متن له پلوه څو جدي ستونزې لري؛ تر ټولو ستره ئې دا ده چې وایي: رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د دې قرآن تر څنګ بل ورته قرآن هم ورکړی شوی؛ او دا ادعاء نه یوازې د قرآن له ډېرو آیتونو سره جدي تضاد لري بلکې د واقعیت خلاف هم دئ؛ عملاً بل قرآن نه پرون وو او نه نن؛ یوازې یوه وړوکې جاهله او متعصبه مذهبي ډله وایي چې د مسلمانانو په لاس کې اوسنی قرآن اصلي قرآن نه دئ؛ اصلي قرآن له فاطمه رضي الله عنها سره وو، شاوخوا اتلس زره آیتونه ئې درلودل، اوس له امام زمان سره دئ او چې کله هغه له خپل غیابت راځرګند شي؛ له ځان سره به ئې راوړي!! په داسې حال کې چې حقیقت دا دئ: روایت یوازې هغه مهال د حدیث په توګه منلی شو چې صحت ئې د قرآن له مخې ثابت شي؛ قرآن د حق پېژندو لپاره لومړی او وروستی معیار دئ؛ خدای هم د قرآن په مرسته پېژندی شو، خپل ځان، کائنات، حق او باطل، ښه او بد، حلال او حرام او هر څه هم؛ د روایت د صحت لپاره له قرآن پرته بله جامع او کامله مرجع نه مومو.

قرآن یو دئ نه دوه، مثال ئې نشته، د رسول الله صلی الله علیه و سلم د رسالت او مأموریت اړوند هره وحي په قرآن کې راغونډه شوې، هیڅوك دا

نشي ثابتولی چي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته دوه قرآنونه ورکړی شوي او ډوله وحي پرې نازله شوې؛ یوه ئې مهمه او د لیکلو وړ او بله ئې عادي او د دې وړ نه چي ولیکل شي؛ که پر قرآن سربېره بله وحي نازل شوې وی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم به همغه څه ورسره کول چي د قرآن د هري وحي په اړه ئې کړي؛ د وحی په دوران کې سخت حالت پرې راغلی، د اورېدو په مهال ئې عجله درلوده او له ځان سره ئې تکراروله چي هېره ئې نشي، مګر هغه مهال چي الله تعالی ورته وفرمایل: عجله مه کوه، له ځان سره ئې مه تکراروه، په دقت سره ئې واوره، ستا په سینه کې ئې ساتل هم زموږ په ذمه دي او ستا په ژبه ئې بیانول هم، د وحي په پای کې به ئې د وحي خاص کاتبان راغوښتل، هغوی به نازل شوي آیتونه لیکل او همدا به ټولو مؤمنانو ته انتقالېدل؛ د مزیه اهتمام په ډول به ئې صحابه وو ته ویل: له ما پرته له قرآن بل څه مه لیکئ او چا چي بل څه لیکلي وي هغه دي له منځه یوسي!! د بعثت شاوخوا شلم کال کې ابوهریره وایي: موږ (د حدیث لیکونکو) خپلي لیکني په یوه ځای کې راغونډې کړلې او ټولي مو وسوزولې. نو حقیقت دا دئ چي د رسالت اړوند ټوله وحی په قرآن کې خلاصه شوې. دې آیتونو ته ځیر شئ:

لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾ القیامة

ژبه دي پرې مه خوځوه، د دې لپاره چي تلوار پرې کوې. ۱۷- راغونډول او ویل ئې زموږ په ذمه دي. ۱۸- نو چي کله ئې لولو د لوستلو متابعت ئې کوه. ۱۹- بیا ئې بیانول هم زموږ په ذمه دي.

ګورئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به د هري نوې وحي په اورېدو سره داسي په وجد کې شو او هڅه به ئې کوله چي په تلوار سره ئې زده او حفظ کړي، څه ترې پاته نه شي، هیڅ لفظ ئې هېر نه کړي؛ او دا احساس ورسره راپیدا کېدو چي که د ده مخاطبینو تر اوسه د ده هیڅ مخکینۍ خبره نه ده منلې خو اوس او د دغو آیتونو په اورېدو سره به خامخا ایمان راوړي، د خپلو ټولو پوښتنو ځواب به په کې مومي، باید ژر ئې تر لاسه کړي او ژر ئې د خپلو مخاطبینو مخي ته کښېږدي. عجله او تلوار ئې دومره

چي الله تعالی ورته د تلوار نه کولو توصيه کوي او فرمايي: د قرآن د نويو آيتونو د تر لاسه کولو په اړه ډېره عجله مه کوه، کله چي ئې د وحي فرشته پر تا لولي ته ئې په تلوار له ځان سره مه تکراروه، پرېږده چي فرشته خپل پيغام بشپړ کړي، د وحي له القاء فارغ شي، په تأني او دقت سره ئې واوره، د هېرېدو تشويش ئې مه کوه، موږ د دې ذمه وال يو چي هغه ستا په حافظې کې خوندي کړو، ستا په ژبه ئې جاري کړو او شرح او تفصيل ئې بيان کړو. يعني چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د هري وحي تر لاسه کولو په مهال؛ د هغې د خوندي کولو او خلکو ته ژر او په بشپړ ډول د رسولو په اړه جدي اهتمام کولو؛ دومره چي الله تعالی ورته وفرمايل: ډېره عجله مه کوه. همداراز فرمايي:

... وَلَا تَعۡجَلۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مِن قَبۡلِ أَن يُقۡضَىٰٓ إِلَيۡكَ وَحۡيُهُۥۖ وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا ﴿١١٤﴾ طٰهٰ

... او پر قرآن تر هغه وړاندي تلوار مه کوه چي تا ته ئې وحي بشپړه شي؛ او ووايه: اې زما ربه! علم مي زيات کړې.

گورئ چي دلته د وحي، قرآن او د علم زياتېدو دعاء؛ يو له بل سره متصل په يوه آيت کې راغلي. که د دين، رسالت، امر او نهي؛ حلال او حرام په ارتباط؛ د قرآن تر څنگ او د قرآن له شرحي او تفسير پرته؛ بله مستقله وحياني مرجع هم وی؛ نو د هغي وحي د حفظ، کتابت، د ثبت ترتيب، کاتبانو او امت ته د سپارلو تاريخي بهير بايد څرگند او نن د ټول امت په لاس کې وی؛ آيا په دې اړه له چا سره کوم سند شته؟! چا ويلي او ليکلي چي پر قرآن علاوه؛ په فلان وخت کې د فلانی موضوع په اړه پر رسول الله صلی الله عليه و سلم مستقله وحي نازله شوې او هغه د وحي کاتبان ورغوښتي او هغوی دا وحي ليکلې؟ ولي د قرآن په اړه د رسول الله صلی الله عليه و سلم جدي اهتمام په څرگنده وينو؛ خو د يوه بل موازي وحياني متن په اړه دې ته ورته بهير نه مومو؟!

آيا د دې آيتونو په اړه څوك څه ويلی شي چي وحي په قرآن کې راخلاصه کوي:

﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةً ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ شَهِيدٌۢ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِىَ إِلَىَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُل لَّآ أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَإِنَّنِى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ١٩﴾ الأنعام

ووايه: کوم شی به ستر شهادت ورکوونکی وي؟ ووايه: الله؛ زما او ستاسو تر منځ شاهد؛ او ما ته دا قرآن د دې لپاره وحي شوی چې تاسو هم پرې انذار کړم او هغه څوك هم چې ورورسېږي؛ آيا تاسو په دې شهادت ورکوئ چې له الله سره نور معبودان هم شته؟! ووايه: زه خو دا شهادت نه ورکوم؛ ووايه: حقيقت دا دئ چې هغه يوازينی معبود دئ او زه له هغه څه بېزاره يم چې تاسو ئې شريکوئ.

دلته څو خبري بايد په پام کې ولرو:

- د دې خبري معنی څه ده چې الله تعالی تر ټولو ستر شاهد دئ او هغه زما او ستاسو تر منځ شاهد دئ؟ معنی ئې فقط دا ده چې الله تعالی په خپلو ټولو مخکينيو کتابونو کې هم دا خبره کړې چې شريك نه لري او يوازينی معبود دئ او په دغه قرآن کې چې پر ما ئې نازل کړی هم؟ په داسي حال کې چې الله تعالی په خپلو ټولو کتابونو کې د دې خبري شهادت ورکوي؛ آيا بل شاهد ته ضرورت شته؟! د الله تعالی شهادت يعني د قرآن شهادت.
- له دې آيت هم معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته فقط دغه قرآن د ټولو انسانانو د انذار لپاره ورکړی شوی او د الله تعالی له لوري وحي په قرآن کې راخلاصه شوې (وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ).
- د دې آيت اصلي مطالب دا دي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم په دې گمارل شوی چې خلکو ته ووايي:
- زما او ستاسو تر منځ ستر شاهد الله تعالی او د هغه کتاب دئ؛ آيا تر دې ستر شاهد شته. راشئ وگورو چې الله تعالی په قرآن او خپلو نورو کتابونو کې څه ويلي؟
- د الله تعالی له لوري چې ما ته کومه وحي شوې؛ همدا قرآن دئ.
- د دې وحي (قرآن) رالېږلو موخه دا ده چې تاسو هم پرې انذار کړم او

پر تاسو علاوه ټول هغه چي دا قرآن وروړسېږي؛ تاسو او هر هغه څوك له شرك او د الله تعالی تر څنگ د بل معبود له عبادت ووېروم چي دا قرآن وررسېږي.

• او د دې معنی فقط دا ده چي رسول الله صلی الله علیه و سلم د خپل امت د انذار لپاره له قرآن پرته بل څه په اختیار کې نه درلودل؛ نه بل کتاب او نه بله وحي.

• که تاسو د خپل شرك په دفاع کې هر دلیل راوړئ، زما ځواب به یوازي دا وي چي له الله تعالی پرته بل معبود نشته او زه له هر هغه معبود بې زار یم چي تاسو ئې له الله سره شریکوئ.

قرآن وایي: محمد علیه السلام د الله تعالی رسول، د رسالت او وحي حامل او حافظ، د قرآن مبلغ، مفسر او مُبَيِنْ دئ؛ نه د قرآن د بدلولو حق ورکړی شوی او نه د کمولو او زیاتولو:

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَٰذَآ أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآيِٕ نَفْسِيٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ۖ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ یونس

او کله چي زموږ څرگند آیتونه پرې ولوستل شي؛ هغه چي زموږ د ملاقات هیله نه لري وایي: له دې پرته کوم بل قرآن راوړه یا ئې بدل کړه! ووایه: ما ته نه ښایي چي له خپلي خوا ئې بدل کړم، زه خو یوازي د هغه څه متابعت کوم چي ما ته ئې وحي کېږي؛ یقیناً چي زه خو د یوې ستري ورځي له عذابه وېرېږم که له خپل رب سرغړاوی وکړم.

دا خلك د الله تعالی د مقروء کتاب (قرآن) د آیتونو په اړه هم همغه چلن لري چي د مشهود کتاب (ټول عالم) د آیتونو او د تاریخي څرگندو پېښو په اړه ئې لري، لکه څنگه چي له هغو آیتونو او نښو پند نشي اخیستی چي د دې پراخ عالم په غېږ کې هري خوا ته ترسترگو کېږي او لکه څنگه چي د تاریخ له عبرتناکو پېښو عبرت نه اخلي؛ همدا راز د قرآن له څرگندو او حکیمانه لارښوونو گټه نه شي اخیستی، د دغو آیتونو پر عظمت له پوهېدو هم عاجز دي، پیغمبر علیه السلام ته وایي چي یا خو بل قرآن راوړه یا په

دې کې داسې بدلون راوړه چې موږ ته د منلو وړ شي، هغه برخې ترې حذف کړه چې موږ ئې نه شو منلی!! پيغمبر عليه السلام ته لاربښوونه شوې چې دوی ته ځو ځوابونه ورکړه:

- دا زما له شأن لرې ده چې د الله تعالى په کتاب کې له خپل لوري څه تبديلي راوړم، تبديلي هم په دې معنی ده چې دا قرآن په بل بدل کړي او دا هم چه څه پرې زيات يا ترې کم کړي.
- زه خو يوازې د هغه څه متابعت کوم چې ما ته ئې وحي کېږي.
- زه خو د يوې سترې ورځې له عذابه وېرېږم که د خپل رب له حکم سرغړاوی وکړم او د الله تعالى په کتاب کې کمی او زياتی وکړم.

نو د دې آيت پرېکنده او څرگنده معنی دا ده چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ټوله وحي په همدې قرآن کې خلاصه شوې؛ دښمن وايي: قرآن بدل کړه او رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويلي شوي؛ هغوی ته ووايه: زه يوازې هغه څه تاسو ته وايم چې ما ته ئې وحي شوې؛ کوم قرآن چې ما تاسو ته وړاندې کړی؛ د الله تعالى له لوري وحي ده؛ زه ئې د بدلولو حق نه لرم. او د همدې وحي د محتواء په اړه فرمايي:

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ

﴿٨٩﴾ النحل

او پرتا مو دا کتاب نازل کړی چې د هر څه لپاره څرگندوونکی دئ او د مسلمانانو لپاره لارښود، رحمت او زېری.

په دې مبارك آيت د ښه پوهېدا لپاره بايد دا خبرې په پام کې ولرو:

- دلته پر رسول الله صلى الله عليه و سلم نازل شوی قرآن د داسې کتاب په توگه معرفي شوی چې د دې عالم د هر څه بيانوونکی او د انسان ټولو پوښتنو ته ځواب ويونکی دئ؛ يعني هر څه ئې واضح کړي، سربېره پر دې هغه داسې لارښود کتاب دئ چې هر مسلمان ته سمه لار ښيي؛ دا کتاب د الله تعالى له لوري يوه ستره پېرزوينه ده، پر دې کتاب د تمسك له لارې د الله تعالى د رحمتونو دروازه د انسان په وړاندې پرانيستل کېږي، دا کتاب مسلمانانو ته د روښانه مستقبل زېری ورکوي. دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې آيا د دې خبرې معنی فقط همدا ده چې په دې کتاب کې د هر څه په اړه

لارښووني شوې، هري پوښتني ته ئې ځواب ويلی، ټول حقائق ئې بيان کړي او داسي څه پاته نه دي چي په قرآن کي نه وي بيان شوې او ښېلي وحي ته ضرورت وي؟ د دې عالم توکي او اسرار خو بې انتهاء دي؛ آيا دا ټول اسرار په قرآن کي راغلي؟ د انسان پوښتني خو بې شمېره دي او ستر ستر کتابونه ترې جوړېږي؛ آيا د قرآن په دې واړه کتاب کي دې ټولو پوښتنو ته ځواب ويل شوی؟ او دا څنگه؟ د دې پوښتني په ځواب کي بايد ووايو: هو؛ د قرآن د دغه آيت او دې ته ورته نورو آيتونو وينا همدا ده، له دې پرته بل هر ځواب ناقص او د قرآن د دغو ويناوو خلاف دئ، په قرآن کي د دې عالم په اړه ټول ضروري علوم او اړيني لارښووني زموږ مخي ته ايښودل شوي، په قرآن کي د هر هغه څه په اړه وضاحت شوی چي انسان ورته ضرورت لري، ځيني وضاحتونه دومره څرگند او ځلانده دي چي هر مخاطب پرې پوهېدی شي، په ځينو ئې د پوهي او بصيرت خاوندان پوهېدی شي، ځيني ئې داسي دي چي يوازي د رسول الله صلی الله عليه و سلم د تشريح او تبيين له لاري پرې پوهېدی شو، دا ځکه چي په قرآن کي د عالم د ځينو برخو په اړه وضاحتونه په مجمله توگه او اختصار او ايجاز سره راغلي او د ځينو په اړه په تفصيل سره. د ټولو په اړه تفصيلي او مشرح بحث داسي ستر او ضخيم کتاب ته ضرورت لري چي ډېری انسانان به ئې له لوستلو هم عاجز وي. د قرآن د بيان اسلوب داسي دئ چي انسان د خپل فهم او بصيرت په اندازه ترې برخمن کېږي، لکه هغه باران چي هره شېله او خوړ د خپل ظرفيت په اندازه ترې ډکېږي، هر څومره چي انسان له دې کتاب سره مزيد آشنا کېږي؛ همدومره به د هغه پر ابعادو، اسرارو او رموزو لا زيات پوهېږي. په دې مو بايد بشپړ يقين او باور وي چي دا کتاب هومره اسرار او رموز لري چي په دې ټول عالم کي دومره رموز نشته، دا چي الله تعالی فرمايي: قرآن (تبيانا لكل شئ) دئ؛ دا به مبالغه نه گڼو؛ د بلي وحي او مرجع لټه به نه کوو؛ دا ښېله خبره ده چي موږ له دې کتاب سره دومره نه يو آشنا شوي چي له هغه د هر څه د تبيين او پېژندني رڼا تر لاسه کړو، دا کتاب هومره جامع او له اسرارو ډك دئ چي که په جنت کي هم د تل لپاره په هغه کي تحقيق او څېړنه کوئ؛ انتهاء به نه مومي او د اسرارو د عميق بحر تل ته به ئې نه شئ رسېدلی. دا دنيا او ستا محدود عمر خو پرېږده چي هيڅکله ورته کفايت نه کوي؛ په جنت کي

هم که ستا د بحث او څېړنې موضوع همدا کتاب وي؛ نو تر پايه به د هغه اسرار او رموز نه ختمېږي.

... وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٤﴾ النحل

...او تا ته مو دا ذکر او پند (قرآن) درلېږلی چې خلکو ته روښانه کړې چې څه ورته نازل شوي او د دې لپاره چې تفکر وکړي.

دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- له (الذکر) مراد قرآن دئ او د همدې قرآن د لېږلو هدف داسې معرفي شوی (لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ) يعني ټول هغه څه چې د خلکو لوري ته لېږل شوي په دې قرآن کې بيان شوي.
- په دې مبارك آيت کې د پيغمبر د بعثت موخه او دنده په دې توګه ښودل شوې: ته د مخکينيو پيغمبرانو په څېر د دې الهي تذکار او ذکر حامل ګرځول شوی يې، ستا دنده دا ده چې خلك په دې حقيقت پوه کړې چې د الله تعالی له لوري د لېږل شوو ارشاداتو حقيقي معنی او تفصيل څه دئ. يعني د پيغمبر وينا او عمل د الهي ارشاداتو عيني تجسم، تشريح او تفصيل دئ، الله تعالی ځکه خپل کتاب د يوه پيغمبر په لاس خلکو ته لېږي چې د کتاب د محتوی په اړه خلك بېل بېل تعبيرونه ونه کړي، د اصلي حامل په وينا او کړنو کې د هغه تعبير او تأويل وومي، د پيغمبر دنده دا ده چې الهي پيغام تر خلکو ورسوي او سم، صحيح او حقيقي تعبير ئې د هغوی په وړاندې کښېږدي او په دې توګه هم د الله تعالی د کتاب په اړه د شك هر مجال له منځه يوسي او هم د اختلاف عوامل او اسباب.

د آيت په پای کې ويل شوي: د دې لپاره چې تفکر وکړي؛ بايد وګورو چې د دې معنی څه ده او ارتباط ئې له مخکينيو مطالبو سره څنګه دئ. تر دې وړاندې ويل شوي چې الهي کتابونه د پيغمبرانو په لاس لېږل شوي، رسول الله صلی الله عليه و سلم د مخکينيو رسولانو په څېر د الهي وحي حامل او شارح دئ؛ يعني الهي کتابونه حامل او شارح ايجابوي، د دوی له لارې د وحي شرح او تفصيل خلکو ته وړاندې کېږي؛ خو دا الهي کتابونه داسې دي چې د پيغمبر، حامل او شارح تر څنګ تفکر ايجابوي، هغه څوك پرې

پوهېدی شي چې په مضامينو کې ئې غور او تفکر وکړي، د سطحي فکر خاوندان او هغه چې په مسائلو کې د غور او دقت استعداد نه لري؛ د دې الهي کتابونو د مطالبو په پراخو ابعادو نه شي پوهېدی، د کافرانو د انکار اصلي وجه دا ده چې هغوی د ړوند تعصب او تعنت لار غوره کړې، دا تعصب او تعنت ئې نه پرېږدي چې د قرآن په مطالبو کې غور وکړي او ايمان راوړي.

د قرآن له وينا هم او د رسول الله صلی الله عليه و سلم له صحيح حديث هم معلومېږي چې وحي څنگه پيل شوې، لومړي آيتونه کوم وو او آخري نازل شوی آيت کوم وو؛ نه له لومړي آيت وړاندې پر رسول الله صلی الله عليه و سلم کومه وحي نازله شوې او نه له آخري آيت وروسته؛ وروستی آيت دا دئ:

.... ٱلۡيَوۡمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمۡ فَلَا تَخۡشَوۡهُمۡ وَٱخۡشَوۡنِۚ ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ ... ۝٣ المائدة

... نن کافران ستاسو له دين مأيوس شول، نو له دوی مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ. نن مو ستاسو دين درته بشپړ کړ او خپل نعمت مي پر تاسو پوره کړ او اسلام مي د دين په توگه درته غوره کړ...

او رسول الله صلی الله عليه و سلم همدا مطلب په حجة الوداع او په خپلي وروستۍ مهمي خطبې کي په دې صيغه بيان کړ: د جابر رضي الله عنه د روايت له مخې رسول الله صلى الله عليه وسلم امت ته فقط قرآن پرېښودلی:

وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ: كِتَابَ اللَّهِ، وَأَنْتُمْ تُسْأَلُونَ عَنِّي فَمَا أَنْتُمْ قَايِلُونَ؟ " قَالُوا: نَشْهَدُ أَنَّكَ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ فَقَالَ بِأُصْبُعِهِ السَّبَّابَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى السَّمَاءِ وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ: «اللَّهُمَّ اشْهَدِ اللَّهُمَّ اشْهَدْ»؛ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ

«او يقيناً ما په تاسو کي هغه څه پرېښی چي که منګولي پرې ټینګي کړئ؛ تر هغه وروسته به هېڅکله بې‌لاري نه شئ: د الله کتاب. او زما په اړه به وپوښتی شئ؛ نو تاسو به د څه ویونکي يئ؟» هغوی وویل: «شاهدي ورکوو چي تا پيغام رسولی، خپله دنده دي ترسره کړې او زموږ ښېګڼه دي غوښتې» بيا ئې په داسي حال کي چي خپله د شهادت ګوته ئې د آسمان لوري ته پورته کوله او د خلکو لوري ته ئې راکښته کوله؛ درې ځله وفرمايل: «اې الله! شاهد اوسه؛ اې الله! شاهد اوسه.»

دا وروستی روايت چي په دې اړه یوازینی صحيح روايت دئ؛ وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم یوازي يو کتاب او هغه د الله تعالی کتاب خپل امت ته پرېښی؛ او د دې معنی دا ده چي د ده سنت او حديث د همدې کتاب شرح او تفسير دئ؛ نه بېل کتاب او مثال ئې. الله تعالی د قرآن د مثل او مثال راوړل په بشپړ ډول نفي کوي او فرمايي:

قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ الإسراء

ووايه: که ټول انسانان او پېريان پر دې راغونډ شي چي دې قرآن ته ورته (کتاب) راوړي؛ دې ته ورته به رانه وړی شي؛ که څه هم ځيني د ځينو نورو مرستندوی وي.

بايد متوجه وو چي دلته ټول انسانان او پېريان؛ بېل بېل او په ګډه له دې عاجز او ناتوان ګڼل شوي چي د قرآن بديل او مثل راوړی شي.

له دې ټولو صريح آيتونو او صحيح رواياتو په څرګنده او قطعي توګه معلومېږي چي دا قرآن کافي او نهائي نه ګڼل او په څنګ کي ئې د قرآن مثل او د وحي بلې بېلي او مستقلي تشريعي وحي ادعاء غلطه او بې بنسټه ادعاء ده. دا يا د هغو ادعاء ده چي له قرآن بې خبره دي يا د هغو چي په امت کي د ضعيفو او مشبوه رواياتو په مرسته د اختلافاتو راولاړولو مأمورين دي.

راشئ د یوه مشهور شيعه عالم او د ميزان تفسير ليکونکي؛ له شکوې ډک بيان؛ د دوی د مدرسو او د هغوی د نصاب په اړه او په دې مدرسو کي د روزل شوو چلن له قرآن سره وګورئ: محمدحسين طباطبايي، د الميزان تفسير

لیکوال، د حوزوي علومو په نقد کي وايي: «که د دغو علومو په اړه غور وکړې، درته څرګنده به شي چي دا علوم په داسي ډول تنظیم او تدوین شوي چي اساساً قرآن ته اړتیا نه لري؛ تر دې چي یو څوک کولی شي دا ټول علوم زده کړي: صرف، نحو، بیان، لغت، حدیث، رجال، درایة، فقه او اصول؛ په دغو علومو کي لوړو مرتبو ته ورسېږي، بشپړ مهارت په کي ترلاسه کړي او د اجتهاد درجې ته ورسېږي؛ په داسي حال کي چي اصلاً ئې قرآن نه وي لوستی او حتی یو ځل ئې هم مصحف ته لاس نه وي وروړی...»

متأسفانه زموږ د مدرسو او د نصاب حالت دې ته ورته دئ؛ تاسو ګورئ چي خبره دې پړاو ته رسېدلې چي سل سلنه د قرآن ضد روایات هم منل شوي او د صحیح حدیث په نامه وړاندي شوي؛ دا کار هغه هم کوي چي تر نامه وړاندي ئې د دکتور، شیخ القرآن او شیخ الحدیث علمي رتبه او القاب وینئ!! داسي معروف شخصیتونه هم مومو چي سنت ته د آیت د ناسخ او قاضي مقام ورکوي او وايي:

السُّنَّةُ قَاضِيَةٌ عَلَى الْقُرْآنِ، وَلَيْسَ الْقُرْآنُ بِقَاضٍ عَلَى السُّنَّةِ: سنت د قرآن په اړه قاضي دئ او داسي نه ده چي قرآن د سنت په اړه قاضي وي!! خو احمد بن حنبل د دې تعبیر په اړه وايي:

«مَا أَجْسَرُ عَلَى هَذَا أَنْ أَقُولَهُ: إِنَّ السُّنَّةَ قَاضِيَةٌ عَلَى الْكِتَابِ؛ إِنَّ السُّنَّةَ تُفَسِّرُ الْكِتَابَ وَتُبَيِّنُهُ.» : د دې وینا د ویلو جسارت نشم کولی چي سنت د قرآن په اړه قاضي دئ؛ بلکي سنت قرآن تفسیروي او بیانوي. دا ئې هم ویلي: «السُّنَّةُ تَدُلُّ عَلَى مَعْنَى الْكِتَابِ: سنت د کتاب پر معنی دلالت کوي»

قرآن معیار او ملاک دئ؛ هر اختلاف باید هغه ته راجع شي؛ که څوک ادعاء وکړي دا حدیث دئ او بل ئې ونه مني؛ نو پرېکړه به له قرآن پرته د څه شي له مخي کوو؟ نو د احمد حنبل وینا درنه ده چي سنت وروستی قاضي ګڼلو ته د داسي جسارت نوم ورکوي چي دی ترې ډډه کوي.

قرآن د روایت د صحت معیار دئ؛ روایت د قرآن د صحت معیار نه دئ؛ ثابت نبوي سنت د قرآن عملي بیان دئ، او ثابت نبوي حدیث ئې قولي بیان؛ خو د رسول الله صلی الله علیه و سلم په نامه هر منقول روایت تر تحقیق وړاندي او په صرف نسبت سره حدیث نه ګرځي.

## د بدر په جنګ کې د فرشتو شرکت د قرآن او رواياتو له مخې

په داسې حال کې چې قرآن د بدر د جګړې ځرنګوالې، د فرشتو شرکت او ځرنګوالی ئې، د دوی شمېر، د جګړې پايلې او نورو برخو په اړه کافي او تفصيلي بحث کړی؛ د الانفال سوره کې د دې جګړې ټولې مهمې برخې څېړل شوې؛ خو متأسفانه سره له دې؛ داسې ناسم روايات مومو چې د فرشتو د شمېر او د هغوی د شرکت ځرنګوالي په اړه هم له قرآن سره جدي تعارض او تناقض لري او هم د سند له پلوه ګڼ شمېر ستونزې؛ له اختلافاتو راولاړولو پرته؛ نه کومه ګټه لري او نه د مسلمانانو کومه ستونزه حل کوي.

### د بدر جګړې کې د فرشتو شرکت په اړه قرآن څه وايي؟

دې آيتونو ته ځير شئ:

إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ۝٩ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشۡرَىٰ وَلِتَطۡمَئِنَّ بِهِۦ قُلُوبُكُمۡۚ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ۝١٠ إِذۡ يُغَشِّيكُمُ ٱلنُّعَاسَ أَمَنَةٗ مِّنۡهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ لِّيُطَهِّرَكُم بِهِۦ وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ وَلِيَرۡبِطَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمۡ وَيُثَبِّتَ بِهِ ٱلۡأَقۡدَامَ ۝١١ إِذۡ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَنِّي مَعَكُمۡ فَثَبِّتُواْ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۚ سَأُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ فَٱضۡرِبُواْ فَوۡقَ ٱلۡأَعۡنَاقِ وَٱضۡرِبُواْ مِنۡهُمۡ كُلَّ بَنَانٖ۝١٢ الانفال

کله چې تاسو خپل رب ته په زاريو زاريو سره دعاء کوله نو ستاسو دعاء ئې ومنله، چې زه مو په زرو يوه په بلې پسې راتلکونو فرشتو مرسته کوم. ١٠- او الله خو دا يوازې د دې لپاره ګرځولی چې زېری وي او ستاسو زړونه پرې مطمئن شي. په داسې حال کې چې بريا خو يوازې د الله له لوري وي. بې شکه چې الله باحکمت عزتمن دئ. ١١- هغه وخت چې له خپل لوري ئې پرمښکی د ډاډېيني په ډول درباندې غوړولو او له آسمان ئې اوبه درباندې ورولې چې پرې پاك مو کړي او شيطاني اضطراب له تاسو لرې کړي، زړونه مو

مضبوط او په دې سره ستاسو قدمونه ټينګ کړي. ۱۲- هغه وخت چې ستا رب فرشتو ته وحي کوله چې زه درسره يم، نو هغه ثابت قدمه کړئ چې ايمان ئې راوړی، ژر به د هغو خلکو په زړونو کې وېره واچوم چې کافران شوي، نو سرونه ئې ووهئ او هر هر بند ئې ترې ووهئ.

دا آيتونه په جنګ کې د فرشتو د ونډې، اغېز او د شرکت څرنګوالي په اړه څو مهمي لارښووني زموږ مخي ته ږدي:

• مجاهدين پرېشان ول، د پرېشانۍ وجه ئې له يوه پلوه د دښمن د شمېر او تجهيزاتو زياتوالی وو او له بله پلوه د دوی په موقعيت کې د اوبو کمښت، دوی د ميدان په لوړې خو شګلني برخي کې ول او دښمن لاندي او کلکې خاوريني برخي کې. الله تعالی د دوی دا پرېشاني په دوو پېرزوينو سره رفع کړه: له يوه پلوه ئې پر دوی سکينه او ډاډېينه نازله کړه، دومره چې په همغه سخت حالت کې پر ډېرو پرمښکی راغی، دا د ډاډ او اطمئنان انتهاء په ګوته کوي، په انسان باندي هغه مهال خوب راځي چې ډېر ډاډه او مطمئن وي، د پرېشانۍ په حالت کې خوب ترې تښتي. له بله پلوه ئې پر سيمي باران وورولو، د دغو دوو پېرزوينو دا پايلي زموږ مخي ته ږدي: ۱- مسلمانانو ته اوبه په لاس ورغلې، د څښاك او اودس او ځان وينځلو لپاره، ۲- شيطان چې د اوبو د کموالي يا نشتوالي په اړه کوم رجز او اضطراب د دوی په زړونو کې راولاړ کړی وو هغه ختم شو، ۳- زړونه ئې ډاډه او مضبوط شول. ٤- او قدمونه ئې ټينګ شول؛ او د دې معنی يا دا ده چې الله تعالی په دې دواړو پېرزوينو سره صبر، ثبات او استقامت ستاسو په برخه کړ او يا دا چې د باران د ورېدو په سبب ستاسو تر پښو لاندي شګلنه زمکه کلکه شوه او د دې په خلاف د دښمن د پښو لاندي زمکه خټې او چکړ شوه، په پلي جنګ کې دا دواړه خاص اغېز لري.

• د نعاس او پرمښکي دا حالت د بدر او احد په جګړو کې پر صحابه وو راغلی، د افغانانو په جهاد کې هم د سختو جګړو په دوران کې په ډېرو مجاهدينو دا حالت راغلی، دلته ئې يوه بېلګه ستاسو مخي ته ږدم: شهيد مطيع الله د زېږوك اوسېدونکي مشهور قومندان راته وويل: له روسانو سره د هغي سختي نښتي په دوران کې چې زه په کې ټپي شوم، د يوې غونډۍ پر سر سنګر کې زما ملګري شهيدان شول، زه ټپي شوم، دښمن پورته راروان وو،

ما لاسي بم تیار کړ چي د دښمن له رانژدې کېدو سره سم ئې د دوی لوري ته وغورځوم، په همدې وخت کي خوب راباندي راغلی، کله چي راويښ شوم؛ ګورم چي خلاص بم مي په لاس کي او دښمن له صحنې وتلی، ما د قرآن د دغي وينا مصداق په خپلو سترګو ولید.

ځينو درنو مفسرينو په (وَيُذۡهِبَ عَنكُمۡ رِجۡزَ ٱلشَّيۡطَٰنِ) کي (رجز) د (رجس) په معنی نيولی او دا مطلب ئې ترې اخيستی چي ګواکي په ځينو مجاهدينو غسل لازم شوی وو او د دې باران په وجه د ځان وينځلو اوبه په لاس ورغلې!! دا توجيه په څو دلائلو ضعيفه ده: ۱- د رجز اصلي معنی اضطراب او پرېشاني ده او د رجس معنی ناپاکي، په قرآن کي د رجز لفظ څو ځلي د عذاب په معنی راغلی، رجز د ناپاکۍ په معنی نيول صحيح نه دي، ۲- که د ناپاکۍ په معنی ونيول شي د مخکيني مطلب تکرار راځي، د پاکي ذکر د آيت په مخکينۍ برخي کي په دې صيغه راغلی: (ليطهرکم به) بيا ئې تکرار ته ضرورت نشته.

د ۱۲ آيت اساسي لارښووني دا دي:

- الله تعالی د بدر په جګړي کي ملائکو ته امر وکړ چي زه درسره يم، درومئ د مؤمنانو قدمونه ټينګ او عزم ئې مضبوط کړئ او په دوی کي صبر او استقامت راپيدا کړئ.
- مؤمنان دي ډاډه وي چي الله تعالی به حتماً د کافرانو په زړونو کي وېره او خوف اچوي، د هري نښتي پايله د جنګياليو په وېري او زړه ورتيا پوري تړلې ده، هغه لوری به بريا تر لاسه کوي چي په ډاډه او مطمئن زړه سره د دښمن مقابله کوي او هغه لوری به له ماتي سره مخامخ کېږي چي وېره ئې په زړه کي راولاړه شوې.
- مؤمنانو ته ويل شوي چي د جګړي په مهال خپله ټوله توجه بايد دې خوا ته واړوئ چي د دښمنانو سرونه قلم کړئ او بندونه ئې قطع کړئ.

ځينو مفسرينو هغو رواياتو ته اعتبار ورکړی چي وايي: فرشتو د بدر په جګړي کي مخامخ او عملاً برخه اخيستې ده او د کافرانو د سرونو او بندونو په وهلو کي ئې ونډه درلوده، ځينو نورو ويلي چي دوی دا کار د مجاهدينو په لاس کړی، خو ځينو نورو دا روايات د اعتناء وړ نه دي ګڼلي، ځکه چي نه د آيت الفاظ دا مفهوم افاده کوي او نه دا د الله تعالی سنت دئ چي د

فرشتو په ذريعه د کافرانو مقابله وکړي، د قرآن د وينا له مخې فرشتې د عذاب نازلولو لپاره ګمارل کېږي، نه د دې لپاره چې د مجاهدينو په څنګ کې له کافرانو سره وجنګېږي، که داسې وی نو يوه فرشته د ټولې نړۍ د کافرانو د مقابلې لپاره کفايت کوي.

آيت په صراحت سره وايي چې د فرشتو دنده يوازې دا وه چې د مؤمنانو زړونه مضبوط او قدمونه ټينګ کړي. د الله تعالی سنت دا دئ چې کافرانو ته د مجاهدينو په لاس سزا ورکوي؛ لکه چې فرمايي:

قَٰتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ﴿١٤﴾ التوبة

ورسره وجنګېږئ؛ الله به ئې ستاسو په لاس تعذيب کړي، رسوا به ئې کړي، تاسو ته به پر دوی بری درکړي او د مؤمنانو سينو ته به شفاء ورکړي او د دوی د زړونو غيظ به ختم کړي؛ او د هغه چا توبه به قبوله کړي چې دی ئې غواړي؛ او الله باحکمت پوه دئ.

دلته الله تعالی له مؤمنو جنګياليو سره د څو خبرو وعده کړې ده:

- د دوی دښمنان به د دوی په لاس تعذيب کړي، دښمنان به ئې له ذلت او سپکاوي سره مخامخ کړي، پر دښمنانو به دوی ته بری ورکړي، د دوی سينو ته به شفاء ورکړي، چې له دې شفاء يا له سينو د هغو خيرو لرې کول او د دوی معنوي او اخلاقي روزنه ده چې الله تعالی به ئې د يوې سترې بريا په سبب د دوی په برخه کړي، يا هغه تمحيص او عيارول دي چې د الله د لارې د مجاهدينو په برخه کېږي. قرآن فرمايي چې د الله په لار کې له کړاوونو سره مخامخېدل د تمحيص او د ابرارو مقام ته د رسېدو سبب دئ. پدغو لوړو ژورو کې الله تعالی د مؤمنانو روزنه کوي، دوی د ايمان لوړو څوکو ته رسوي، د دوی ايمان او عقيدې ته مزيد پوخوالی او ځلا ورکوي، دا د دوی د تربيت او روزنې يوه مؤثره ذريعه ده. د دې مطلب تفصيل د آل عمران د سورې په ۱٤۱ او ۱٥٤آيتونو کې وګورئ.
- د دوی د زړونو غيظ او غصه به له منځه يوسي، د دښمن پر ماته به د دوی پرهر پرهر زړونه تسل شي.
- ځينو کافرانو ته به الله تعالی د توبې توفيق ورکړي او د ايمان راوړو

سعادت به ئې په برخه شي. په دې سره د جهاد یوه لویه او اساسي موخه بیان شوې او هغه دا چې د کافرانو هدایت او ایمان راوړل به د جهاد اصلي هدف وي، له مجاهدینو سره د دغو شپړو وعدو په پای کې د کافرانو هدایت او ایمان راوړل ښیي چې له جهاد به د مجاهد موخه دا وي چې مقابل لوری له کفر او بغاوت لاس واخلي، توبه وکړي، خدای ته مخه کړي او الله تعالی د خپل رب په توګه ومني.

- د قتال امر د هغه الله له لوري شوی چې د علم او حکمت خاوند دئ. پوهېږي چې په څه کې ستاسو خیر او ښېګڼه مضمر ده او له کومې لارې دې خیر او ښېګڼې ته رسېدی شئ. نو خپل خیر په همدې قتال کې ولټوئ.

دا آیتونه چې د بدر له جګړې وروسته د الانفال په هغې سورې کې نازل شوي چې د دې جګړې ټول مهم مسائل ئې په دقیقه توګه څېړلي؛ د فرشتو شمېر زر (١٠٠٠) بولي او توصیف ئې په مردفین (یو په بل پسې راتلونکي) سره کوي؛ نو هغه روایات قطعاً ناسم او د دې آیت خلاف دي چې یا وایي: لومړی ١٠٠٠ بیا ٣٠٠٠ او په پای کې ٥٠٠٠ فرشتې راغلې او یا دا چې لومړی د یو زر بیا د درې زرو او په پای کې د پنځو زرو وعده شوې؛ او ګواکې همدا ٥٠٠٠ فرشتو شرکت کړی او د دوی توصیف هم په مُسَوِّمِين یا مُسَوَّمِين سره بولي؛ او له دې ئې هم د فرشتو د لیدل کېدو روایات راایستلي، هم د پګړۍ او هم د قرآن داسې قرائت چې د امت د غوڅ اکثریت له منلې قرائت سره اختلاف لري؛ دا قرائتونه (مُسَوِّمِين او مُسَوَّمِين) دوه روایان او قاریان لري: عاصم او نافع قاریان دي، حفص او ورش ئې راویان؛ په امت کې په براخه پیمانه منلی روایت د حفص دئ او رائج قرائت د عاصم؛ راشئ وګورو چې حقیقت څه دئ او صائب رأی، روایت او قرائت کوم؟

د آل عمران سوره کې د بدر په اړه دا آیتونه راغلي:

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰٓ ۚ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا جَعَلَهُ ٱللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ لَكُمْ

وَلِتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُكُم بِهِۦۗ وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ۝١٢٦ آل عمران

او يقيناً چې الله په بدر کې تاسو ته نصرت او بريا درکړه په داسې حال کې چې تاسو کمزوري وئ؛ نو له الله ووېرېږئ چې شکر وکړی شئ. کله چې تا (اې محمده!) مؤمنانو ته ويل: آيا دا درته کافي نه ده چې ستاسو رب مو په دريو زرو رالېږل شويو ملائکو مرسته وکړي؟ هو! ولې نه؛ که صبر او تقوی وکړئ او دوی په همدې شور ځوږ دربانديي راشي، ستاسو رب به مو په پنځه زره نشاڼمن کوونکو ملائکو مرسته وکړي.

دلته صحابه وو ته ويل شوي چې الله تعالی تاسو ته د بدر په جگړې کې بريا درکړه؛ په داسې حال کې چې کمزوري او ضعيف وئ؛ نو پروا مو بايد يوازې له الله تعالی وي؛ او همدا د ده د پېرزوينو او نعمتونو د شکر اداء کولو غوښتنه ده؛ ورپسې په ۱۲٤ او ۱۲۵ آيتونو کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه وينا راوړل شوې چې د بدر جگړې تر پيل وړاندې ئې صحابه وو ته ويلې: که د دښمن فوځ درې زره وي؛ نو الله به ستاسو مرستې ته درې زره ملائکې راولېږي، که پنځه زره شو؛ پنځه زره به راولېږي، که هغوی له شور ځوږ او غرور سره او ناڅاپي پر تاسو بريد وکړي؛ الله تعالی به مو په پنځه زره نشاڼمن کوونکو ملائکو مرسته وکړي؛ يعني چې دا فرشتې به په جگړې کې د خپل گډون نښې او آثار تر شا پرېږدي؛ نو مه د دښمن له شمېر وېره کوئ او مه ئې له ظاهري شأن شوکت.

بايد متوجه وو چې دلته دا فرشتې د (مسوِّمين) په صفت ستايل شوې دي؛ چې دقيقه معنی ئې نشاڼمن کوونکې ده؛ کوم قرآن چې نن زموږ په واك کې دئ؛ د دې سپېڅلي او محفوظ کتاب پر هر سطر او لفظ د صحابه وو غوڅ اکثريت توافق کړی او په بشپړ امانت سره تر موږ پوري رارسېدلی؛ نن د نړۍ غوڅ اکثريت مسلمانانو ته په ټولو منل شوو معتبرو مصحفونو کې همدا د (مسوِّمين) لفظ ليکل شوی، خو متأسفانه ځيني وايي: فلان او فلان دا لفظ د مسوَّمين په بڼه قرائت کړی؛ چې معنی ئې نشاڼمن کړی شوي دي؛ نه پوهېږو له دې ئې هدف د مسلمانانو تر منځ يو بل اختلاف راولاړول دي؛

که د یوه خاص غرض لپاره او د خپلي شخصي رأی او نظر د اثبات په موخه د منل شوي قرائت پر ځای د شاذ او ځینو ته منسوب قرائت خبره وړاندي کوي؟! هغه په خپل پلرني موروثي مذهب کي اوربدلي چي د پګړۍ مذهبي اهمیت او ارزښت تر واجب هم اوښتی دئ؛ خو د دې ادعاء او انګېرني د اثبات لپاره هیڅ دلیل نه لري؛ نه له قرآن او نه له حدیث؛ هڅه کوي دا دلیل پیدا کړي؛ نو دا روایت په لاس ورغلی چي وایي: د بدر په جګړي کي ۵۰۰۰ نښانمنو فرشتو برخه اخیستې، پګړۍ ئې پر سر وې، ځینو ئې رنګ سپین او نورو تور، سور او ژړ ګڼلی، پر اسونو سپرې وې؛ رنګ ئې ځینو برګ او ځینو سپین ګڼلی، او دې ته ورته نور توپیرونه او تناقضات. په دې اړه څو وضاحتونه ضروري دي:

- د بدر په جګړي کي نه ۳ زره فرشتو شرکت کړی او نه ۵ زرو؛ بلکي د قرآن د صریح آیت له مخي الله تعالی د ۱۰۰۰ فرشتو لېږلو وعده کړې وه؛ او دا وعده ئې تر سره کړه.
- دا فرشتې ئې د مُرْدِفِین په صیغه توصیف کړې؛ چي معنی ئې یو په بل پسي راتلونکي ده.
- په قرآن کي د دریو جګړو په اړه ویل شوي چي الله تعالی په داسي لښکرو سره د مؤمنانو مرسته وکړه چي دوی نه لیدل؛ بدر، خندق او حنین؛ اړوند آیتونه ئې دا دي:

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ثَانِىَ ٱثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِى ٱلْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا تَحْزَنْ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَا ۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ٱلسُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِىَ ٱلْعُلْيَا ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾ التوبة

که ئې تاسو (اې مؤمنانو!) مرسته ونه کړئ نو یقیناً چي الله هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چي کافرانو په داسي حال کي وایست چي د دوو دوهم وو، هغه مهال چي دواړه په یوه غار (سوړي) کي ول، هغه مهال چي خپل ملګري ته ئې ویل: غم مه کوه، یقیناً چي الله له موږ سره دئ، نو الله خپله ډاډبینه پرې نازله کړه او په داسي لښکرو ئې د ده ملاتړ

وکړ چې نه مو ليدل؛ او د کافرانو شعار ئې ټيټ کړ او د الله شعار خو (تل) لوړ دئ؛ او الله باحکمت غالب دئ.

دلته څو خبرو ته ځير شئ:

• مسلمانانو ته ويل شوي چې که تاسو له جهاد لاس واخلئ، په جهاد کې د پيغمبر عليه السلام ملگرتيا پرېږدئ، نو پوه شئ چې په دې سره پيغمبر عليه السلام او د هغه دعوت ته هيڅ نشئ رسولی، الله تعالی به له داسي لارو د ده مرسته کوي چې تاسو ئې گمان هم نه کوئ، مگر په ياد مو نه دي چې الله تعالی هغه مهال هم د ده مرسته وکړه چې له دوو يو وو، له يوه ملگري پرته بل انسان ورسره نه وو، هغه ملگری هم غمجن او محزون او په دې اندېښنه کې چې دلته به څنگه د دښمن په لاس کې له پرېوتو خوندي پاته شو، که راپسي راشي او د غار خولې ته سر راټيټ کړي نو موږويني او نيسي؛ کينه کښو دښمنانو د ده د وژلو لپاره خپلي توري له تېکو ايستلې وې، د غره له يوې سمڅې پرته ئې د پناه بل ځای نه درلود، آيا الله تعالی په دغسي سخت حالت کې د ده د مرستي لپاره کفايت ونه کړ؟! که نن ئې تاسو يوازي پرېږدئ نو الله تعالی به له نورو لارو په نورو خلکو د ده مرسته وکړي.

• دلته په (فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ) کې ضمير ابوبکر رضی الله عنه ته راجع دئ؛ ځکه چې د آيت لومړی برخه وايي چې دی غمجن وو او پيغمبر عليه السلام ورته اطمئنان ورکولو، نو سکينه هم پر ده نازله شوې او تشويش ئې رفع شوی. د پيغمبر عليه السلام زړه لا د مخه ډاډه وو او الله تعالی سکينه ورپه برخه کړې وه او خپل ملگري ته ئې ويل: لَا تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ: غم مه کوه، يقيناً چې الله له موږ سره دئ.

• د (وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا) په اړه ځينو داسي انگېرلې چې ښايي مراد به ئې د همدې سفر په دوران کې د رسول الله صلی الله عليه و سلم تأييد وي؛ خو که ټول آيت ته په غور سره ځير شو نو په څرگنده توگه معلومېږي چې مراد ئې په بدر کې د ملائکو په لښکرو سره د ده تأييد دئ؛ په دې کې د (لَّمۡ تَرَوۡهَا) جمع صيغه کارول شوې؛ او ويل شوي: په داسي لښکرو ئې د ده ملاتړ وکړ چې تاسو نه ليدل؛ له تاسو مراد همغه دي چې د آيت په پيل کې ورته اشاره شوې ( که ئې تاسو مرسته ونه کړئ)؛ د آيت مخاطب دوی دي؛

نه محمد علیه السلام او ابوبکر رضي الله عنه؛ که مراد دوی دواړه وی نو د تثنیه صیغه (تاسو دواړو نه وې لیدلې: (لَمْ تَرَيَاهَا) ویل کېدل؛ پر دې سربېره د ثور غار په پېښې کې د لښکرو لېږلو ته ضرورت نه وو؛ ځکه نه جګړه وه، نه د لښکرو لېږلو ته څه ضرورت؛ او نه د قریشو شمېر دومره وو چې ماتول ئې لښکر ایجابولو؛ همدا راز د کفارو بیرغ نسکورول په بدر کې واقع شوي نه په دغه سفر کې او د پیغمبر علیه السلام په نیولو کې د قریشو ناکامي په دې صیغه یادول مناسب نه برېښي؛ نو ځکه په یقین سره ویلی شو چې دلته د بدر جګړې ته اشاره شوې.

خو د دې پوښتنې ځواب به څه وي: ولې ویل شوي چې که تاسو د ده مرسته ونه کړئ نو الله تعالی د هغه مرسته وکړه، په بدر کې خو مؤمنانو د هغه مرسته او ملګرتیا کړې وه؟! ځواب دا دئ چې د بدر په جګړې کې ډېرو غوښتل چې نښته ئې د لښکر په ځای له تجارتي قافلې سره وي، له لښکر سره د مخامخ کېدو رأیه د پیغمبر علیه السلام وه، نورو ډېر وروسته ورسره توافق وکړ، همدا راز په بدر کې بریا داسي وه چې چا ئې ګمان نه کولو او له شك پرته چې دا د الله تعالی له لوري له پیغمبر علیه السلام سره یوه ستره مرسته وه او دا ورسره ښايي چې وویل شي: که تاسو ئې مرسته ونه کړئ نو الله تعالی به ئې داسي مرسته کوي لکه په بدر کې. لکه چې په بدر کې د دښمن بیرغ نسکور شو او د اسلام بیرغ سرلوړی او رپانده او بری د پیغمبر علیه السلام په برخه شو؛ همداسي به تل د اسلام بیرغ لوړ او رپانده وي او الله تعالی به تل او په هر ډګر کې او پر هر دښمن خپل پیغمبر ته بری ورکوي؛ دا ځکه چې الله تعالی؛ عزیز؛ یعني برلاسی او غالب دئ او حکیم یعني د حکمت خاوند دئ؛ پوهېږي چې پیغمبر ته څنګه او له کومي لاري بریا ورپه برخه کړي.

او دا هم د خندق (احزاب) جنګ کې د داسي لښکرو شرکت چې هیچا نه لیدل:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ الاحزاب

اې هغو چې ایمان ئې راوړی! پر تاسو د هغه مهال الهي پېرزوینه دریاد کړئ

چي لښکري درته راغلې؛ نو موږ سیلۍ پرې ولېږله او داسي لښکري چي تاسو ونه لیدلې او الله د هغه څه ښه لیدونکی وو چي تاسو کول.

او دا هم د حنین د جګړي اړوند آیت:

لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍۢ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًۭٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًۭا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٦﴾ التوبة

یقیناً چي الله په ډېرو ځایونو کې ستاسو مرسته وکړه او د حنین په ورځ هم؛ هغه مهال چي خپل ډېرښت حیران کړي وئ؛ خو هیڅ څه ئې له تاسو دفع نه کړی شو او زمکه سره له پراخوالي ئې پر تاسو تنګه شوه؛ بیا (د تېښتي لپاره دښمن ته) شا اړوونکي شوئ. بیا الله خپله ډاډېینه پر خپل رسول او پر مؤمنانو نازله کړه او هغه فوځونه ئې راولېږل چي تاسو نه لیدل او هغه ئې تعذیب کړل چي کافران شوي وو او همدا د کافرانو سزا ده.

## د بدر جګړي اړوند روایات

باید متوجه وو چي په جګړو کې د فرشتو د شرکت څرنګوالی همداسي دئ چي هیڅوك ئې نه ویني؛ او دنده ئې د مؤمنانو تشجیع او تثبیت دئ؛ نه عملاً په جنګ کې توري وهل؛ که دوی په مجسمه بڼه او د انسانانو په څېر پر اسونو سپاره لیدل کېدی؛ نو لومړی به قرآن په مکرر ډول نه ویل چي دوی نه دي لیدل شوي او بیا به ۵۰۰۰ داسي جنګیالی ټولو بدریانو لیدلي وو او دې پېښي به دومره ډېر راویان درلودل چي تر ټولو زیات مشهور روایت به ترې جوړ شوی وو؛ خو په عمل کې ګورو د دې روایت سند او د راویانو شمېر او اعتبار داسي دي چي ضعیف او مشبوه روایت ترې جوړ شوی؛ لومړی ستونزه ئې له قرآن سره جدي تناقض دئ؛ دوهمه ستونزه ئې دا ده چي یوازې څلورو بدریانو ته او هغه هم په مختلفو صیغو او له کافي توپیرونو سره منسوب شوی، په وروستي راویانو کې ئې د واقدي په نامه هغه

کس دئ چي تقريباً د ټولو محدثينو او د رجال علماءو له لوري متروك، منكر الحديث او حتی کذاب ګڼل شوی. په ٣١٤/٣١٣ بدريانو کې يو داسي بدري صحابي هم نه مومو چي په قوي، بې‌اشکاله سند ئې په صراحت سره ويلي وي: «ما د بدر په ورځ فرشتې وليدلې.» په صحابه وو کې عبد الله بن عباس رضي الله عنه ته هم دا له اشکالاتو ډك روايت منسوب شوی؛ په داسي حال کې چي هغه نه يوازي د بدر جګړي کې شرکت نه دئ کړی بلکې هغه مهال ٥-٦ کلن وو او له خپل پلار عباس رضي الله عنه سره په مکه کې اوسېدو؛ د رسول الله صلى الله عليه و سلم په هيڅ جګړي کې ئې برخه نه ده اخيستې؛ دا هم نه دي ويل شوي چي ده له چا دا روايت اورېدلی؛ د روايت د صحت لپاره يوازي دا کافي نه ده چي کوم صحابي ته منسوب شوی وي؛ بلکې د راوي عمر، په پېښي کې عملي حضور او د وروستيو راويانو اعتبار هم ډېر مهم او ضروري دئ؛ که په سند کي مجهول، متروک او غير معتبر راويان وي؛ د صحابي يادونه هيڅ ارزښت نه لري؛ له صحابي تر مصنف پوري ټوله سلسله بايد وکتل شي او ډاډمنه وي؛ که په منځ کي متروک، مجهول او ضعيف راوي وي او روايت منقطع او مرسل وي؛ نو يوازي د صحابي نوم سند ته برائت نشي ورکولی. د بدر اړوند دغه روايات؛ ټول د سند له پلوه غريب دي، په صحابه وو کي يو يو راوي لري؛ په داسي حال کې چي د پنځه زره انسان ډول، په وسلو سمبال او پر اسونو سپرې فرشتي خو بايد ټولو بدريانو ليدلې وي؛ لږ تر لږه په لس ګونو ثقه راويان ئې درلودی!!

واقدي د دغو رواياتو يو راوي دئ چي ټول محدثين ئې غير معتبر ګڼي؛ بخاري، مسلم، نسائي او ابو زرعه ورته «متروك الحديث» وايي، احمد بن حنبل تر دې هم سخت تعبير لري او «کذاب: ډېر دروغجن» ئې بولي؛ ابو داود وايي د ده حديث نه ليکي او نه ئې روايت کوي او علي بن المديني وايي: «ولا أرضاه في الحديث ولا في الأنساب ولا في شيء: نه ئې په حديث کې خوښوي، نه په شجرو کې او نه په هيڅ څه کې». ذهبي او ابن حجر هم دې ته ورته نظر لري.

نو هغو ته چي د قرآن څرګند آيتونه نه مني، دغسي د عقل او قرآن خلاف روايتونه نه يوازي مني بلکې احکام او حلال او حرام ترې راباسي او د خاص قرائت لپاره مستمسك ترې جوړوي؛ هغوی ته وايو: په څه فتنه او

مصیبت اخته شوي يئ او ولې له خپل عقل او د نورو له عقل سره لوبې کوئ؟؟! قرآن وايي: کله چې فرشتې د جند او جنود په بڼه کې لېږل شوې نو هیڅوا نه دي لېدلې؛ تاسو د دغو روایاتو لپاره د قرآن آیتونه تکذیبوئ او وایئ: نه؛ لیدل شوې، قرآن وايي: شمېر ئې ۱۰۰۰ وو؛ تاسو وایئ: نه؛ ۵۰۰۰ وو، قرآن وايي: صفت ئې مردفین وو؛ تاسو وایئ: نه؛ صفت ئې مسوَّمین وو او پګړۍ ئې پر سر وې؟! تاسو دې ته هم اعتناء نه کوئ چې قرآن د هغو فرشتو په اړه چې د انسان په بڼه کې لېږل شوې نو په ټول صراحت سره ئې ویلي چې دوی انسان ته ورته صورت کې لېږل شوې؛ دا ئې موارد دي:

## د انسان په بڼه کې د فرشتو تجسم او موارد ئې

په قرآن کې هغه موارد هم ښودل شوي چې فرشتې د انسانانو په بڼه کې لېږل شوې؛ لکه دا:

وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ إِذِ ٱنتَبَذَتۡ مِنۡ أَهۡلِهَا مَكَانٗا شَرۡقِيّٗا ﴿١٦﴾ فَٱتَّخَذَتۡ مِن دُونِهِمۡ حِجَابٗا فَأَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرٗا سَوِيّٗا﴿١٧﴾ مریم

۱۶- او په دې کتاب کې د مریمې د هغه مهال خبره یاده کړه چې له خپل ټبر شرقي لوري ته ګوښې شوه، ۱۷- نو پرده ئې د دوی مخې ته جوړه کړه؛ نو موږ خپل روح (جبرئیل) ورولېږو چې کټ مټ د یوه انسان په څېر ورڅرګند شو، ۱۸- وئې ویل: زه رحمن رب ته له تا پناه وړم که (له الله) وېرېدونکی یې.

دلته ویل شوي چې الله تعالی خپله روح (جبرئیل) مریم ته ورلېږلی چې کټ مټ د یوه انسان په څېر ورڅرګند شوی. د آل عمران په سورې کې راغلي چې د مریمې مور هغه د الله تعالی په لار کې وقف کړې وه، په معبد کې د خپل ماما زکریا علیه السلام تر روزنې لاندې اوسېده، د معبد په محراب کې مېشت شوې، محراب د معبد د هغو خونو نوم وو چې عبادت کوونکي به په کې مېشت کېدل. همدلته د فرشتو یو ټولګی ورته راغلی او د زوی زېری ئې ورکړی. د دې معنی دا ده چې جبرئیل علیه السلام د یوې ډلې فرشتو په ګډون د دې خوا ته ورغلی او دا زېری ئې وراورولی. مریمې د انسان ګمان پرې وکړ او وئې ویل: زه رحمن رب ته له تا پناه وړم که له الله وېرېدونکی یې.

د ابراهیم علیه السلام خوا ته د فرشتو د تګ په اړه لولو:

هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ فَجَآءَ بِعِجۡلٖ سَمِينٖ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيۡهِمۡ قَالَ أَلَا تَأۡكُلُونَ ﴿٢٧﴾ فَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٢٨﴾ الذاريات

۲٤- آیا د ابراهیم د درنو مېلمنو خبر دررسېدلی؟ ۲۵- هغه مهال چې خوا ته ئې ورغلل او وئې ویل: سلام، ده (ورته) وویل: سلام، ناآشنا وګړي، ۲٦- نو غلی خپل ټبر ته ورغی او څورب سخوندر ئې (وریت کړی) راوړ، ۲۷- نو دوی ته ئې په داسي حال کې ورنژدې کړ چې وئې ویل: آیا نه ئې خورئ؟ ۲۸- نو له دوی ئې یو ډول وېره احساس کړه، وئې ویل: مه وېرېږه؛ او د یوه پوه ځوانکي زېری ئې ورکړ.

دلته ویل شوي: ابراهیم علیه السلام ته د درنو مېلمنو په بڼه کې د فرشتو یو ټولی ولېږل شو؛ سلام ئې پرې واچاوو، د سلام ځواب ئې په سلام سره ورکړ، نابلد او ناآشنا ئې وموندل، غلی خپل ټبر ته ورغی او وریت شوی څورب سخوندر ئې راوړ او د مېلمنو مخې ته ئې کښېښود، متوجه شو چې هغوی لاس نه وروړي، وئې ویل: آیا نه ئې خورئ؟ د دوی دا حرکت باعث شو چې پرې شکمن شي او له دوی یو ډول وېره احساس کړي، ګمان ئې وکړ چې ښايي د دښمنۍ اراده لري او له همدې امله له خوراك ډډه کوي، هغوی ورته وویل: مه وېرېږه؛ او ورپسې ئې د یوه پوه ځوانکي زوی زېری ورکړ.

همدغه فرشتې په همدې هيئت کې لوط علیه السلام ته ورغلې:

وَلَمَّآ أَن جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗاۖ وَقَالُواْ لَا تَخَفۡ وَلَا تَحۡزَنۡ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٣٣﴾ العنكبوت

او کله چې زموږ استازي لوط ته ورغلل؛ د دوی (د ورتلو) له کبله خوابدی شو او د دوی له کبله زړه تنګی شو، وئې ویل: مه وېرېږه او مه غمجن کېږه، موږ حتماً ستا او ستا د اهل ژغورونکي یو، ستا له مېرمني پرته چې هغه له وروسته پاته کېدونکو ده.

کله چې د فرشتو دغه ټولګی د تنکيو زلميانو په بڼې کې د لوط عليه السلام خوا ته ورغی؛ د دوی د ورتلو له کبله سخت خوابدی او ډېر زړه تنګی شو، پوهېدو چې د ده مفسد قوم به د همدغو زلميانو له کبله د ده پر کور بريد کوي، له کوره ايستل ئې د غيرت او شهامت خلاف کار دئ او قوم ته ئې سپارل د ايمان منافي عمل، له همدې کبله سخته پرېشاني پرې راغله، نه پوهېدو څه وکړي، نه د قوم د مقابلې وس لري او نه د خپلو مېلمنو د خوندي ساتلو امکانات، فرشتو ورته وويل: مه زموږ په اړه وېره لره او مه زموږ د ژغورنې انديښنه، موږ راغلي يو چې تا او ستا اهل وژغوروو، ستا له مېرمنې پرته چې هغه له وروسته پاته کېدونکو ده، موږ د دې کلي پر هستوګنو له آسمانه د لړزوونکي عذاب نازلوونکي يو، له دې کبله چې دوی فاسقان ول. همداسې وشول، کلی نسکور شو، زمکه ئې کښېنسته، لوط عليه السلام د خپلې کورنۍ له مؤمنانو سره وژغورل شول.

په دغو مثالونو کې دا مهم مطلب هم ځلېدلی چې له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي؛ ابراهيم عليه السلام او لوط عليه السلام فرشتې ونه پېژندې او د هلکانو ګمان ئې پرې وکړ؛ ابراهيم عليه السلام سخوندر ورته حلال او وريت کړ او کله چې ګوري دوی خوراك ته لاس نه غځوي؛ نو وېره ئې په زړه کې راپيدا شوه او لوط عليه السلام د دوی په ورتلو دومره خفه او مشوش شو چې سينه ئې تنګه شوه؛ هغه مهال ئې وپېژندل چې پخپله ئې ځان معرفي کړ او وئې ويل: موږ ستا د رب له لوري لېږل شوې فرشتې يو.

دا درې مثالونه کافي دي چې پوه شو؛ کله چې الله تعالی فرشتې د انسان په بڼه کې لېږلې؛ نو بشپړ وضاحت ئې کړی؛ خو کله چې ئې په جنګ کې د مؤمنانو د مرستي لپاره لېږلې؛ دا وضاحت ئې هم کړی چې مؤمنانو هغوی نه دي ليدلې. په نه ليدلو کې ئې دا حکمت مضمر وو چې مؤمنانو ته وښيي: بايد د خپل رب د محتوم نصرت په اړه ډاډه او مطمئن اوسي، فرشتې به ئې د مرستي لپاره لېږل کېږي؛ همداسې به ئې مرسته کوي لکه د رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه وو مرسته؛ سره له دې چې دا مرستندوی فرشتې به نه ګوري.

## اسلام ضد کړۍ او د مختلفو قرائتونو ادعاء او تبليغ

په دې اونۍ کې ځينو رسنيو؛ تر دې عنوان لاندې (د قرآن د ۳۱ بېلابېلو نسخو موندل)؛ يوه ليکنه خپره کړه چې تر شا ئې يو اسلام ضد مسيحي بنسټ لاس لري؛ مشره ئې مېرمن تاش ترکي‌الاصله بريتانوۍ مسيحي مبلغه او د اسلام منتقده ده، هغه په ترکيه کې زېږېدلې، وروسته بريتانيا ته تللې او مسيحيت ته اوښتې؛ اوس د يوه داسې تبليغاتي بنسټ مشره ده چې نوم ئې دا دئ: (Defend Christ, Critique Islam) : (له مسيحيت دفاع وکړئ او پر اسلام نقد)؛ د دې ډلې عمده فعاليت د مسيحيت تبليغ او پر اسلام، قرآن او اسلامي رواياتو نيوکې دي. مېرمن تاش د Jay Smith (جي سميت) له افکارو او ويناوو متأثره شوې؛ او له اسلام مسيحيت ته اوښتې؛ ځيني سرچيني ئې د سميت شاگرده گڼي.

په رسنيو کې د خپرې شوې ليکنې پښتو ژباړه دا ده: "مېرمن تاش د جي سميت په څېر د ځينو اسلام‌څېړونکو په ملتيا؛ د مراکش، يمن، اردن او سعودي عربستان په څېر بېلابېلو اسلامي هېوادونو کې د قرآن څو چاپ شوې نسخې پېرلې او د عامو خلکو د ليدلو لپاره ئې نندارې ته وړاندې کړې. دوی ادعا کوي چې د عربي قرآن له ۲۶ تر ۳۱ زياتې مختلفې نسخې ئې موندلې چې يوه له بلې سره ډېر توپيرونه لري. هغوی د دغو توپيرونو په ستر ښودلو سره؛ هڅه کړې چې د مسلمانانو دا ادعاء تر پوښتنې لاندې راولې چې قرآن د تاريخ په اوږدو کې کټ مټ او له هر ډول بدلون پرته خوندي پاته شوی".

دا ښيي چې اسلام ضد تبليغاتي بنسټونه دا خوښوي او گټور ئې گڼي چې د متعارضو رواياتو د لانجې تر څنگ؛ د مختلفو شاذ او متروك قرائتونو لانجه هم راولاړه کړي او په امت کې د تفرق وسيله ترې جوړه کړي؛ نو د ځينو کلماتو د ترکيب، د ځينو د اعراب او نښو توپيرونه او اختلاف؛ داسې جدي انځوروي چې ثابته کړي؛ د مسلمانانو قرآن هم يو نه دئ او دوی د قرآن په ارتباط هم متحد نه دي.

په داسې حال کې چې نن ښايي د نړۍ نژدې ۹۵ سلنه مسلمانان؛ د عاصم قرائت او د حفص روايت معتبر گڼي او عملاً ئې کاروي. خو مېرمن تاش

هڅه کړې داسي وښيي چي نور قرائتونه او روايتونه هم شته؛ لکه د ورش په روايت د نافع قرائت چي په شمالي افريقا کي رائج دئ او د دوري په روايت د ابو عمرو قرائت چي د سوډان په ځينو برخو کي خپور شوی. د يادوني وړ ده چي مسلمانان باور لري د قرآن تر ټولو زړې خطي نسخې؛ لکه د برمنګهم قرآني پاڼې؛ د ننيو چاپ شوو قرآنونو له متن سره په خپل ادبي جوړښت کي بشپړ مطابقت لري.

خو حقيقت بيا دا دئ چي قرآن يو کتاب او يو متن دئ؛ مختلف قرائتونه تر هغه ځايه د منلو وړ دي چي د همدې ثابت متن د اداء او تلفظ اختلاف وي؛ خو که اختلاف د کلمې، ضمير، فعل، فاعل وي يا د معنا د بدلون سبب کېږي؛ نو دوه متعارض شکلونه په يوه وخت او هممهاله د يوه آيت اصلي متن نشي کېدی. په داسي مواردو کي بايد د امت متواتر او ثابت مصحف معيار وګرځول شي؛ نه دا چي په ناسمو رواياتو ولاړ هر قرائت د قرآن مستقل او مساوي‌الاعتبار متن وګڼل شي. هغه کړی، مراجع، مفسرين، قاريان، مبلغين او ... چي شاذ، متروك او حتی په يو دوه سلنه امت کي رائج او مقبول قرائتونه تبليغوي او احياء کوي؛ دوی يا د دې ناسم اسلوب بدو پايلو ته متوجه نه دي؛ نه پوهېږي چي په دې سره د جي سميت او مېرمن تاش په څېر اسلام ضد کړيو تېرونو ته لاستي برابروي؛ او يا په شعوري توګه او د يوه مأموريت په ډول دا کار کوي.

کوم قرآن چي د عثمان رضي الله عنه په خلافت کي د صحابه وو د يوه درانه هيئت له لوري نهائي او د امت لپاره د واحد مصحف په توګه تثبيت شو؛ په دې کار کي هغو صحيفو ته خاصه اعتناء وشوه چي د ابو بکر رضي الله عنه په خلافت کي د زيد بن ثابت رضي الله عنه له لوري راغونډې شوې وې، له ابو بکر رضي الله عنه وروسته عمر رضي الله عنه او بيا د رسول الله صلی الله عليه و سلم درنې او په دين پوه مېرمني حفصې رضي الله عنها ته سپارل شوې وې. عثمان رضي الله عنه همدا صحيفې له حفصې رضي الله عنها وغوښتې او د ليك د ځرنګوالي له پلوه د ټولو نسخو د توحيد، نهائي کولو او استنساخ لپاره ئې د اساسي معيار په توګه وکارولې؛ تر استنساخ وروسته ئې بېرته هغې ته وسپارلې.

اسلام او د امت وحدت ته ژمن هر مخلص مسلمان بايد هڅه وکړي چي

د وحدت دې واحد رمز ته هيڅوك په هيڅ نامه صدمه ونه رسوي. څوك چې د دې خلاف ادعاء عنوانوي او تبليغوي؛ هغوی د مېرمن تاش او جي سميت مرسته كوي.

## له ام كلثوم سره د عمر رضي الله عنه د نكاح غلط روايت

يوه جناب چې د سعودي له سلفي مدرسې فارغ شوی؛ د صحيح بخاري له يوه ضعيف روايت ئې دفاع ته ملا تړلې؛ په خپل مستعار نامه پاڼي كې ئې د همدې روايت د دفاع په موخه په داسي منكر روايت استناد كړی چې نه يوازي د متن او سند له پلوه اصلاً د استناد وړ نه دئ؛ بلكي د ګڼ شمېر آيتونو خلاف دئ؛ روايت ئې دا دئ:

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: «إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: كُلُّ سَبَبٍ مُنْقَطِعٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا سَبَبِي، فَأَرَدْتُ أَنْ يَكُونَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَبُ صِهْرٍ »....

له عمر بن الخطاب روايت دئ چې وايي: له رسول الله صلى الله عليه و سلم مي اورېدلي چې د قيامت په ورځ هر سبب (اړيكي) قطع كېږي مګر زما اړيكه؛ نو ما وغوښتل چې زما او رسول الله صلى الله عليه و سلم تر منځ د خسر ګنۍ اړيكه وي... (يعني د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لمسۍ ام كلثوم په نكاح كولو سره به هغه زما خسر شي او همدا اړيكه به ما وژغوري)

دې ادعاء دومره حيران كړم چې له ځان سره مي وويل: آيا ليكونكی به ئې دا مهال په سد وو كه نه؟ بيا مي وويل: راشه وګوره چې د ده په څېر كوم بل كس هم پيدا كېږي؟ له الشامله مي وپوښتل: دا متن د حديث په تولو وړو او لويو كتابونو كې ولټوه (كل سبب منقطع يوم القيامة إلا سببي) الشامله د حديث په نژدې ۴۰۰ كتابونو كې ولټولو؛ او يوازي په دې غير معروف كتاب (الأحاديث العامة الواردة في فضائل اهل البيت)!! كې همدا متن ئې ومونډلو؛ حيرت مي لا زيات شو؛ مجبور شوم د روايت يوه خاصه او محوري برخه بيا ولټوم؛ په نتيجه كې ئې له څو محدود آدرسونو دې ته ورته

روايات زما مخې ته کښېښودل:

أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ، أَخْبَرَنِي حَسَنُ بن حَسَنٍ، عَن أَبِيهِ، أَنَّ عُمَرَ بن الخَطَّابِ رَضِىَ الله عَنه خَطَبَ إِلَى عَلِيٍّ رَضِىَ الله عَنه أُمَّ كُلْثُومٍ، فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ رَضِىَ الله عَنه: إِنَّهَا تَصْغُرُ عَن ذَلِكَ، فَقَالَ عُمَرُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلى الله عَلَيهِ وَسَلمَ يَقُولُ: كُلُّ سَبَبٍ وَنَسَبٍ مُنْقَطِعٌ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلاَّ سَبَبِي وَنَسَبِي فَأَحْبَبْتُ أَنْ يَكُونَ لِي مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَلَيهِ وَسَلمَ سَبَبٌ وَنَسَبٌ، فَقَالَ عَلِيٌّ رَضِىَ الله عَنه لِحَسَنٍ، وَحُسَيْنٍ زَوِّجَا عَمَّكُمَا، فَقَالاَ: هِيَ امْرَأَةٌ مِنَ النِّسَاءِ تَخْتَارُ لِنَفْسِهَا، فَقَامَ عَلِيٌّ رَضِىَ الله عَنه مُغْضَبًا فَأَمْسَكَ الحَسَنُ رَضِىَ الله عَنه بِثَوْبِهِ وَقَالَ: لاَ صَبْرَ عَلَى هِجْرَانِكَ يَا أَبَتَاهُ قَالَ: فَزَوَّجَاهُ. السنن الكبرى للبيهقى

د روايت خلاصه دا ده: عمر بن الخطاب رضي الله عنه له علي رضي الله عنه د ام کلثوم کوژده کولو غوښتنه وکړه؛ علي رضي الله عنه ورته وويل: «هغه تر دې (نکاح) ډېره کوچنۍ ده.» عمر رضي الله عنه وويل: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم اورېدلي چي ويل ئې: «د قيامت په ورځ به هره سببي او نسبي اړيکه پرې شي، پرته زما له سببي او نسبي اړيکي»؛ نو ما خوښه کړه چي له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مي سببي او نسبي اړيکه وي. بيا علي رضي الله عنه حسن او حسين ته وويل: «خپل تره ته مو [ام کلثوم] په نکاح ورکړئ.» دواړو وويل: «هغه هم د نورو ښځو په څېر يوه ښځه ده؛ د ځان لپاره به پخپله انتخاب کوي.» نو علي رضي الله عنه په غوسه پاځېد، حسن رضي الله عنه ئې جامه ونيوله او وئې ويل: «اې پلاره! ستا د بېلتون زغم نه لرم.» راوي وايي: نو دواړو هغه عمر رضي الله عنه ته په نکاح ورکړه.

تر دې وړاندي چي دا روايت په تفصيل سره وڅېړم؛ غوره راته برېښي چي د روايت ځېلو په اړه د يوه دردمن عرب ورور دا ليکنه ستاسو په وړاندي کښېږدم:

وَاللَّهِ إِنَّ فِينَا طَائِفَةً يَنْبَغِي أَنْ تُسَمَّى أَعْدَاءَ الْقُرْآنِ، مِنْ شِدَّةِ حِرْصِهِمْ عَلَى الطَّعْنِ بِكِتَابِ اللَّهِ تَعَالَى دِفَاعًا عَنْ رِوَايَاتٍ مُضْطَرِبَةٍ مَكْذُوبَةٍ. فَهُمْ يُؤْمِنُونَ بِقُرْآنِيَّةِ الْبُخَارِيِّ أَكْثَرَ مِنْ إِيمَانِهِمْ بِكِتَابِ اللَّهِ تَعَالَى، ثُمَّ يَعْبَثُونَ بِكَلَامِ اللَّهِ تَعَالَى، وَيَصْرِفُونَ آيَاتِهِ الْوَاضِحَاتِ عَنْ ظَاهِرِهَا؛ مِنْ أَجْلِ إِثْبَاتِ رِوَايَةٍ تَطْعَنُ فِي كَمَالِ كِتَابِ اللَّهِ تَعَالَى وَتَمَامِهِ.

په الله قسم! په موږ کې يوه داسې ډله هم شته چې په کار ده د قرآن د دښمنانو په نامه ياده شي؛ ځکه د الله تعالى پر کتاب اعتراض او نيوکو ته دومره شديد حرص لري چې غواړي له همدې لارې له مضطرب او دروغجنو رواياتو دفاع وکړي. دوی د بخاري پر قرآنيت تر هغه زيات ايمان لري چې د الله تعالى پر کتاب ئې لري؛ بيا د الله تعالى له کلام سره لوبې کوي او د هغه روښانه آيتونه له خپلې ظاهري او ځرګندې معنى اړوي، د دې لپاره چې هغه روايت صحيح ثابت کړي چې د الله تعالى د کتاب پر کمال او بشپړوالي نيوکه کوي.

څه چې دې دردمن ورور ليدلي، ليکلي او د دوی د سلوک په اړه کومې پايلې ته رسېدلی؛ زما احساس ئې منعکس کړی؛ يقيناً چې دوی له منکر روايت د دفاع لپاره چمتو دي د قرآن له صريح آيتونو سره لوبې وکړي؛ او رسول الله صلى الله عليه و سلم او درنو صحابه وو ته د قرآن ضد روايات منسوب کړي، دا ئې يو مثال دئ؛ راشئ وګورو چې په دې روايت کې څه دي:

په دې روايت کې رسول الله صلى الله عليه و سلم او عمر رضي الله عنه ته دا خبره منسوب شوې چې د قيامت په ورځ به د رسول الله له نسبي اړيکي پرته نوري ټولې اړيکې قطع شي!! حال دا چې دا خبره له ګڼ شمېر صريحو قرآني اصولو او لارښوونو سره جدي تعارض لري؛ لکه دا:

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿١٠١﴾ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿١٠٣﴾ المؤمنون

نو کله چې په شپېلۍ کې پو شي بيا به په دې ورځ نه د دوی تر منځ خپلوي وي او نه به يو بل پوښتي شي. نو د چا چې تلل شوي درانه وختل؛ همدا

دوی بریالي دي او د چا چي تلل شوي سپك وختل نو همدا دوی خپل ځانونه تاواني کړل؛ په دوزخ کې به تلپاته وي.

روایت ځېلو ته وایو: د قرآن دا آیتونه منځ که دا روایت؟ دا آیات د هر انسان بریا د ده د موازین (تلل شوو) په دروندوالي او سپکوالي پوري تړلې ده، یعني بریالی هغه دئ چي تلل شوي (اعمال) ئې درانه وي، داسي عملونه ئې کړي وي چي د الله تعالی په وړاندي او د حقیقت له مخي قدرمن او ارزښتمن وي، دا (حق) او (حقیقت) دئ چي د انسان عمل ته دروندوالی، قدر او ارزښت ورکوي، کوم عمل چي له (حق) او (حقیقت) تش وي؛ هغه به سپك او بې ارزښته وي. په روایاتو کې هم راغلي چي د (لا إله إلا الله) وزن به د زمکي او آسمانونو تر وزن زیات وي:

فَإِنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا فِيهِمَا لَوْ وُضِعَتْ فِي كِفَّةِ الْمِيزَانِ، وَوُضِعَتْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ فِي الْكِفَّةِ الْأُخْرَى، كَانَتْ أَرْجَحَ، ... مسند احمد

نو که آسمانونه، زمکه او څه چي په دواړو کي دي؛ د تلي په یوې خوا کي کېښودل شي او «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ» په بلي خوا کي کېښودل شي؛ نو همدا به درنه وي.

د دې معنی دا ده چي د قیامت په ورځ به پرېکړه د چا د نسب له مخي نه؛ بلکي د هغه د عمل له مخي وي؛ بریالی فقط هغه دئ چي عملونه ئې درانه وي؛ هلته به حقیقت وزن او دروندوالی وي. د قیامت په ورځ به هر ثوك د ځان په غم کي وي، هغه ورځ به نه یو له بل مرسته غوښتی شي، نه به یو د بل حال پوښتی شي او نه به له الهي عذاب د ژغورني د لارو چارو په اړه له چا پوښتنه کولی شي. همدا راز قرآن فرمایي:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا لَا يَجْزِي وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَالِدِهِ شَيْئًا.... ﴿٣٣﴾ لقمان

اې خلکو! د خپل رب پروا وکړئ او له هغي ورځي ووېرېږئ چي نه به کوم پلار د خپل زوی بدله ورکولی شي او نه به کوم زوی د خپل پلار د څه بدلې ورکوونکی وي، ....

قرآن دلته د پلار او زوی تر منځ نسبي اړیکه هم د قیامت په ورځ د انسان په ژغورنې کې بې اغېزه ګڼي؛ د دې لارښوونې په شتون کې به رسول الله صلی الله علیه و سلم څنګه دا خبره کوله او عمر رضي الله عنه به څنګه ګمان کولو چې د رسول الله له لمسۍ سره نکاح به د قیامت په ورځ ده ته څه ګټه ورسولی شي؛ پر دې سربېره په دې نکاح سره خو د ده او رسول الله صلی الله علیه و سلم تر منځ نسبي اړیکه نه رامنځته کېدله؛ نسبي اړیکه خو د والدین او اولاد تر منځ وي!! په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فاطمې رضي الله عنها ته ویلي:

«يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ، سَلِينِي مَا شِئْتِ مِنْ مَالِي، لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا». بخاری

اې فاطمې د محمد لورې! زما له مال چې څه غواړې؛ وئې وغواړه؛ خو د الله په وړاندې له تا هیڅ څه نشم دفع کولی (هیڅ ګټه نشم دررسولی).

که رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ خپلې لور فاطمې رضي الله عنها ته وايي: «لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا»؛ نو دا به څنګه ومنل شي چې له بلې خوا ئې ویلي وي: «كُلُّ سَبَبٍ وَنَسَبٍ مُنْقَطِعٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا سَبَبِي وَنَسَبِي»؟!

دا روایت به منو که د قرآن دا صریح او پرېکنده وینا:

وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴿٣٩﴾ النجم

او دا چې له خپلې هڅې او عمل پرته؛ بل څه د انسان نه په برخه کېږي.

که نوح علیه السلام ونه توانېدو خپله مېرمن او زوی وژغوري؛ لوط علیه السلام ونه توانېدو خپله مېرمن او زومان وژغوري؛ او که قرآن د رسول الله صلی الله علیه و سلم مېرمنو ته وايي:

يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ﴿٣٠﴾ الأحزاب

اې د نبي مېرمنو! که له تاسو څوک کوم څرګند فحش کار ته اقدام وکړي نو عذاب به ئې په دوه ځلي زیاتوالي سره زیات کړی شي؛ او الله ته دا کار آسان دئ.

په دې قرآني لارښووني سره دوی ته ويل شوي: اې د پيغمبر مېرمنو! په دې دي پوه وئ چي که له تاسو څوك کوم څرگند فحش کار ته اقدام وکړي نو عذاب به ئې تر نورو دوه ځلي زيات وي، گمان مه کوئ چي ستاسو حيثيت او مقام او له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره اړيکي به تاسو له الهي عذاب وژغوري او له دې امله به له الهي مؤاخذې وژغورل شئ چي د پيغمبر مېرمني يئ؛ الله تعالی ته دا کار آسان دئ چي تاسو ته په دنيا او آخرت کي داسي عذاب درکړي چي د نورو په پرتله دوه برابره زيات وي، د زياتوالي سبب ئې دا دئ چي تاسو بايد د رسول الله صلی الله عليه و سلم د مصاحبت او ملگرتيا له امله له گناه ډېري لري وئ، د ده د مسلسلي روزني په سبب بايد د تقوی هغه پړاو ته رسېدلې وئ چي شيطان ستاسو خوا ته له نژدې کېدو او د خپلو وسوسو په دام کي ستاسو له غورځولو عاجز وی، داسي چا ته بايد هم د خپلي گناه سزا ورکړی شي او هم د خپل لارښود مسلسلو لارښوونو ته د بې اعتنائي سزاء، له بلي خوا ستاسو غلطي او گناه اسلام او د رسول الله صلی الله عليه و سلم دعوت ته صدمه رسوي، ناپوه او په غرض او مرض لړلي کسان له دې غلطه استفاده کوي او د ساده وگړو په زړونو کي شکوك او شبهات راولاړوي. يعني له رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سره تر ټولو نژدې سببي اړيکي هم د عمل له حسابه څوک نه ژغوري؛ برعکس مسئوليت ئې زياتوي.

په روايت کي دا ستونزه هم گورو چي له يوې خوا علي رضي الله عنه ته دا وينا منسوب شوې چي عمر رضي الله عنه ته ئې وويل: ام كلثوم ماشومه او د نكاح وړ نه ده او له بلي خوا حسن او حسين رضي الله عنهما ته دا وينا چي (هِيَ امْرَأَةٌ مِنَ النِّسَاءِ تَخْتَارُ لِنَفْسِهَا: دا د نورو مېرمنو په څېر يوه مېرمن ده د خپل ځان اختيار لري)؛ په دې دواړو کي کومه يوه صحيح ده؟!

گمان نه کوم چي دا خلك دي له قرآن دومره بې خبره وي چي دا آيتونه ئې يا لوستلي نه دي يا پرې پوهېدلي نه دي؛ د دوی اصلي مشكل؛ د خاص مسلك او د روايت خاص كتاب په نسبت شديد او ړوند تعصب دئ؛ مگر دوی په دې نه پوهېږي چي د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ په نسب کي خو يوازي اولاد او نژدې اهل بيت نه دي؛ که د اولادونو او نسب لړی ښکته وغځول شي نو تر قيامته به ئې شمېر څومره شي او که بر وغځول شي نو

بني هاشم، بني عبدالمطلب، قريش او تر هغوی وړاندې ګڼ شمېر قبيلې احتواء کوي؛ په دواړو کې ستر ستر کافران او مشرکان شته؛ له ابو لهب سره به څه کوئ چې قرآن د هغه په اړه خپله پرېکړه داسې اعلان کړې: (سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ: ژر به ننوځي لمبه ناك خاص اور کې). ستاسو په روايت کې خو داسې څه نه مومو چې ابو لهب ترې مستثنی شي؛ په اسلام کې تره د پلار حيثيت لري؛ قرآن وايي هغه ته له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره نسبي تعلق هيڅ ګټه نه رسوي؛ ځای به ئې له شك پرته جهنم وي.

قرآن د رسول الله صلى الله عليه و سلم او مؤمنانو په اړه فرمايي:

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن يَسۡتَغۡفِرُواْ لِلۡمُشۡرِكِينَ وَلَوۡ كَانُوٓاْ أُوْلِي قُرۡبَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ۝١١٣ التوبة

پيغمبر او مؤمنانو ته دا نه ښايي چې مشرکينو ته له هغه وروسته بخښنه وغواړي چې ورته څرګنده شوه دوی دوزخيان دي؛ که څه هم خپلوان (ئې) وي.

دلته له مشرکينو سره د مسلمانانو د مقاطعې او پرېکون او له دوی او د دوی له شرك د برائت او بې زارۍ څرنګوالی انځور شوی؛ وايي: له پيغمبر او مؤمنانو سره دا نه ښايي چې مشرکينو ته له هغه وروسته د مغفرت او بخښنې غوښتنه وکړي چې د دوی شرك ورته جوت شي او پوه شي چې دوی دوزخيان دي او له خپل شرك لاس اخيستو ته چمتو نه دي، که څه هم دا مشرکين د دوی نژدې خپلوان وي.

روايت وايي: د قيامت په ورځ به نور ټول نسبتونه او تړاوونه قطع کېږي؛ پرته له رسول الله صلى الله عليه و سلم سره نسبي تړاو؛ خو قرآن وايي: له خپلې سمې عقيدې او صالح عمل پرته به بل څه چا ته ګټه ونه رسوي؛ د قرآن له صريح وينا سره د دې روايت جدي تعارض؛ څه عادي خبره نه ده؛ ژوره اعتقادي مسئله ده.

## بخاري او پر سليمان عليه السلام د ۱۰۰ مېرمنو درلودو تور

په بخاري کې سليمان عليه السلام ته د ۷۰، ۹۰، ۹۹ او ۱۰۰ مېرمنو درلودو

متعارض روایات لرو. راشئ دا روایات هم له نظره تېر کړو:

۲۸۱۹ - وَقَالَ اللَّيْثُ: حَدَّثَنِي جَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ هُرْمُزَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ: لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى مِائَةِ امْرَأَةٍ، أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ كُلُّهُنَّ، يَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ، فَلَمْ يَقُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ، جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ قَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ، لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ " بخاری

او لیث وویل: جعفر بن ربیعه ما ته ویلي چي له عبدالرحمن بن هرمز ئې روایت کولو او هغه ویلي: ما له ابو هریره رضي الله عنه واورېدل چي له رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې داسي روایت کولو چي وئې فرمایل: «سلیمان بن داود علیهما السلام وویل: نن شپه به حتماً پر سلو مېرمنو یا نه نوي (۹۹) وگرځم؛ هره یوه به داسي سپور وزېږوي چي د الله په لار کي به جهاد کوي؛ نو ملگري ئې ورته وویل: إن شاء الله (که الله وغواړي) ووایه؛ خو ده إن شاء الله ونه ویل. نو له هغوی یوازي یوه مېرمن حامله شوه او هغې هم نیمگړی انسان وزېږاوو؛ قسم په هغه ذات چي د محمد نفس د هغه په لاس کي دئ! که ده إن شاء الله ویلي وی؛ نو ټولو زامنو به ئې د الله په لار کي د سپرو جنگیالیو په توگه جهاد کړی وو.»

دا روایت په بخاري کي شپږ ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۲۸۱۹، ۳٤۲٤، ۵۲٤۲، ٦٦۳۹، ٦۷۲۰ او ۷٤٦۹؛ د سند له پلوه غریب دئ، د ټولو لومړی راوي یو کس او ابو هریره دئ؛ خو په متن کي ئې جدي توپیرونه دا دي: په ځینو کي د مېرمنو شمېر ٦۰ په ځینو کي ۷۰، په ځینو کي ۹۰، په ځینو کي ۹۹، په ځینو کي ۹۹ یا سل راغلي؛ یعني یو روایت شپږ ځله تکرار شوی خو له پنځو بېل بېل او یو د بل خلاف ارقامو سره؛ او متن ئې داسي چي هم د قرآن له لارښوونو سره جدي تعارض لري او هم د عقل او انساني فطرت خلاف مطالب؛ هیڅوك نشي کولی د دې روایت په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ووایي:

• ولې له ابو هريره پرته بل هيڅ صحابي دا خبره نه ده کړې؟ ابو هريره څه باندې درې کاله له رسول الله صلی الله عليه و سلم سره پاته شوی؛ آيا دا منلې شو چې د رسالت په ۲۰ کلونو کې؛ له زرګونو صحابه وو هيڅ له رسول الله صلی الله عليه و سلم داسې خبره؛ نه په مکه کې اورېدلې او نه په مدينه کې او په پاته دريو کلونو کې يوازې ابو هريره اورېدلې؟!

• آيا په داسې روايت او سند ئې باور کولی شو چې په ارقامو کې ئې دومره پراخ (له ٦۰ تر ۱۰۰) پورې اختلاف وي؟ اختلاف ئې د پسونو او وزو د شمېر په اړه نه بلکې د منکوحه مېرمنو په اړه!!

• که امام بخاري د ۹۰ رقم «أصح» ګڼې، نو ولې ئې په «صحيح بخاري» کې د ٦۰، ۷۰، ۹۹ او ۱۰۰ مېرمنو اړوند روايات هم راوړي؟ که ۹۰ تر نورو اصح دئ؛ نو د نورو ناسمو او متعارضو ارقامو اړوند روايات د څه لپاره په داسې کتاب کې راوړل شوي چې پلويان ئې ګمان کوي په بخاري کې هيڅ ناصحيح روايت نشته؟ آيا دا متعارض او يو د بل خلاف روايات؛ همهماله ټول صحيح ګڼل؛ عجيبه او د عقل او منطق خلاف خبره نه ده؟

• د داسې رواياتو د راوړلو او هغه هم په مکرر ډول؛ ګټه څه ده؟ آيا داسې متعارض روايات راوړل؛ د اختلاف له راولاړولو پرته بله نتيجه او ګټه لري؟

• په داسې حال کې چې د سليمان عليه السلام سيمې؛ فلسطين کې؛ شپه د ماښام او ماخستن له لمانځه وروسته؛ د سحر تر لمانځه پورې؛ تر ۱۲ ساعتونو نه زياتېږي؛ آيا په دومره لنډ وخت کې يو انسان؛ که هر څومره قوي، ځواکمن او چابك وي؛ د داسې کار کولو تصور هم کېدی شي؟

• سليمان عليه السلام د الله تعالی ستر او نوميالی رسول وو؛ هغه پوهېدو چې د اولاد ورکړې پرېکړه له الله تعالی پرته د هيچا په واك کې نه ده؛ هغه هم پوهېدو او رسول الله صلی الله عليه و سلم هم چې هيڅوك نه پوهېږي د مور په رحم کې څه او څوك وي؛ هلك که نجلۍ، ښه انسان که بد، مجاهد که منافق، روغ که ناروغ، څنګه ومنو چې دوی به د دې ديني لارښوونو خلاف خبرې کړې وي؟ نوح عليه السلام د خپل زلمي زوی د پټ شخصيت له حالت خبر نه وو؛ داسې ئې انګېرله چې دی به هم په کشتۍ کې ورسره سپرېږي؛ خو داسې ونه شول!!

• هيڅ شريف او باحياء انسان؛ بل ته دا خبره نه کوي چې زه نن شپه له

خپلي مېرمني سره يو ځاى کېږم؛ په قرآن کي په دې ارتباط ټول الفاظ غير صريح دي او د (مس) په څېر صيغې کارول شوې؛ څنګه ومنو چي سليمان عليه السلام به داسي خبره کړې وي او څنګه ومنو چي رسول الله صلى الله عليه و سلم به د ده په اړه داسي څه ويلي وي؟!؛ رسول الله صلى الله عليه و سلم خو د مخکينيو پيغمبرانو په اړه دومره محتاط وو او د هغوى درناوى ئې کولو چي تر ځان ئې وړاندي ګڼل؛ د يوسف عليه السلام د ستايني او همت په اړه ئې وويل: که زه د ده پر ځاى وى نو ښايي د پاچا هغه بلنه به مي منلې وه چي يوسف عليه السلام ونه منله او قصر ته تګ ئې په دې پوري مشروط کړ چي لومړى بايد د هغو مېرمنو پېښه وڅېړل شي چي خپل لاسونه ئې غوڅ کړل.

- آيا په ټول قرآن کي داسي څه؛ صراحتاً يا اشارتاً مومو چي دا روايت ترې ثابت شي؟ البته د داؤد عليه السلام په اړه داسي څه ويل شوي چي اصلاً د بايبل د يوه تور تکذيبولو لپاره راغلي خو ځينو جاهلانو غلط او د اصل مطلب خلاف تعبير او تأويل ترې جوړ کړى؛ اصلي مطلب داسي دئ:

## پر داؤد عليه السلام د ۱۰۰ مېرمنو درلودو تور

راشئ دا هم وڅېړو چي ځينو د داؤد عليه السلام اړوند هغه قصه چي په قرآن کي راغلې؛ په غلطه توګه تعبير او تفسير کړې؛ په قرآن کي لولو:

وَهَلْ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُواْ ٱلْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ إِذْ دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ ۖ قَالُواْ لَا تَخَفْ ۖ خَصْمَانِ بَغَىٰ بَعْضُنَا عَلَىٰ بَعْضٍ فَٱحْكُم بَيْنَنَا بِٱلْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَٱهْدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ هَٰذَآ أَخِى لَهُۥ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ نَعْجَةً وَلِىَ نَعْجَةٌ وَٰحِدَةٌ فَقَالَ أَكْفِلْنِيهَا وَعَزَّنِى فِى ٱلْخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦ ۖ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ ٱلْخُلَطَآءِ لَيَبْغِى بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ ۗ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسْتَغْفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ۩ ﴿٢٤﴾ فَغَفَرْنَا لَهُۥ ذَٰلِكَ ۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ

وَحُسْنَ مَـَٔابٖ ﴿٢٥﴾ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٦﴾

٢١- او آيا د هغو شخړه كوونكو خبر دررسېدلى چي محراب (عبادت ځاى) ته له دېواله واوښتل، ٢٢- كله چي د داؤد خوا ته داخل شول؛ نو ترې ووېرېدو، وئې ويل: مه وېرېږه! موږ دوه دعوى كوونكي يو چي يوه پر بل تېرى كړى، نو زموږ تر منځ په حقه سره پرېكړه وكړه، ظلم مه كوه او د سمي لاري لارښوونه راته وكړه، ٢٣- دا زما ورور دئ چي نه نوي مېږي لري او زما يوه مېږه ده، نو ما ته ئې وويل: دا هم ما ته وسپاره او په خبرو كې ئې زور زياتى راسره وكړ، ٢٤- وئې ويل: يقيناً چي په خپلو مېږو سربېره ستا د مېږي په غوښتلو سره ئې ظلم درباندي كړى او يقيناً چي ډېرى شريكان يو پر بل تېرى كوي؛ پرته له هغو چي ايمان ئې راوړى او نېك عمله دي او دوى څومره لږ دي؛ او داؤد گمان وكړ چي موږ آزمويلى نو له خپل رب ئې بخښنه وغوښته، په سجده پرېوت او خداى ته ئې مخه كړه، ٢٥- نو موږ دا ورته وبخښله او يقيناً چي ده ته زموږ خوا كې نژدېوالى وو او غوره پايله، ٢٦- اې داؤده! يقيناً چي ته مو په زمكي كې خليفه گمارلى يې، نو د خلكو ترمنځ په حقه پرېكړه كوه، د هوى او هوس متابعت مه كوه چي د الله له لاري به دي تېرباسي؛ يقيناً هغه چي د الله له لاري منحرف شي؛ دوى ته له دې امله سخت عذاب (تياكل شوى) دئ چي د حساب ورځ ئې هېره كړې.

دا آيتونه په دې ارتباط راغلي چي داؤد عليه السلام ته د ستر او عادلانه نظام رامنځته كولو سعادت ورپه برخه شوى وو؛ مضبوط پر عدالت ولاړ حكومت ئې وو، الله تعالى ورته پوهه او حكمت وركړى وو او د پېچلو شخړو او منازعاتو د عادلانه او حكيمانه حل و فصل استعداد ئې ورپه برخه كړى وو. د دې عادلانه قضاوت يوه بېلگه ئې دا ده چي الله تعالى دوه فرشتې د دوو مدعيانو په بڼه كې ورولېږلې، له دېواله هغه ځاى ته ورواوښتلې چي داؤد عليه السلام به په كې په تلاوت او عبادت مصروف وو، دى ووېرېدو، هغوى ورته وويل: مه وېرېږه؛ موږ د يوې شخړې د حل و فصل لپاره درته

راغلي يو، يوه ئې وويل: دا نه نوي مېږي لري او زه يوه، په زور سره غواړي دا هم رانه واخلي، ته زموږ تر منځ عادلانه او سمه پرېکړه وکړه او سمه لار راوښيه؛ هغه له دې مخکې چې د دوهم کس دلائل واوري او بيا فيصله وکړي؛ د مدعي د دعوی له مخي ئې پرېکړه وکړه او وئې ويل: ده درباندې تيری کړی، خو د دغي خبري له کولو سره سم او متصل متوجه شو چې غلطي ئې وکړه، د عادلانه قضاوت تقاضی دا وه چې د مدعی عليه دلائل مي هم اورېدلي وی او بيا مي قضاوت کړی وی؛ له الله تعالی ئې بخښنه وغوښته او په سجده پرېوت!!

• ورپسې ويل شوي چې الله تعالی د دې اشتباه په اړه بخښنه ورته وکړه، د الله تعالی مقرب بنده وو او غوره پايله ئې ورپه برخه کړه.

• هغه ته ئې وويل: اې داؤده! يقيناً چې ته مو په زمکي کې خليفه گمارلی يې، نو د خلکو تر منځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چې د الله له لاري به دې تېرباسي، يقيناً هغه چې د الله له لاري کاږه شي؛ په دې سبب به ئې سخت عذاب په برخه شي چې د حساب ورځ ئې هېره کړې؛ يعنې د حساب ورځ ئې هېره کړې له همدې کبله له سمي لاري منحرف شوي او په الهي عذاب اخته شوي.

• قرآن په دې وينا سره نه يوازې د داؤد عليه السلام ستر شخصيت موږ ته معرفي کوي بلکې موږ ته د دې لارښوونه هم کوي چې عادل او له الله تعالی وېرېدونکی قاضي بايد هغه وخت هم يوازې د مدعي د وينا له مخي پرېکړه ونه کړي چې په سلو کې نه نوي ځان په حقه گڼي او بل ملامت او پړ ثابتوي، بايد په سړه سينه د بل دلائل هم واوري او په پای کې قضاوت وکړي.

• دې ته مو بايد پام چې د داؤد عليه السلام په اړه دا وينا په حقيقت کې د بايبل د هغې دروغجني ادعاء په رد کې راغلې چې هغه ئې په دې تورن کړی چې گواکې نه نوي مېرمني ئې درلودې او سَلَمَه ئې هم وکړه، خو دا سلمه د يوه مخلص جنگيالي مېرمن وه، ده د خپل قصر له بامه هغه د خپل کور په تشناب کې بربنډه ليدلې وه او زړه ئې پرې بايللی وو، دا جنگيالی ئې د جنگ داسي کرښي ته ولېږو چې ووژل شي او مېرمن ئې ده ته په لاس ورشي!! ښه به وي چې دا دروغجنه قصه په بايبل کې وگورو، بايبل تر دې عنوان (داؤد او بتشبع) لاندې د داؤد عليه السلام په اړه داسي ليکلي چې

هغه د يوه دروند پيغمبر په توګه نه بلکې (نعوذ بالله) د يوه عياش پاچا په څېر انځوروي او ليکي:
(يوه ورځ مازديګر داؤد په خپل قصر کې د بام سر ته وخوت چې آزاده هوا تنفس کړي، قدم ئې واهو چې ناڅاپه ئې سترګې په يوې ښکلې ښځې ولګېدې چې لمبېده، داؤد يو څوك ولېږو چې پوښتنه وکړي دا ښځه څوك ده، معلومه شوه چې نوم ئې بتشبع او د اوريا مېرمن ده، نو داؤد څو کسان ورولېږل او دا ښځه ئې د ده قصر ته راوستله او داؤد ورسره څملاست... بتشبع ولمبېده... او کور ته ولاړه... څه وخت وروسته پوه شوه چې حامله ده، نو داؤد ته ئې د دې خبرې اطلاع ورکړه... داؤد د ښځې مېړه اوريا راوغوښت، (دی د جنګ له ميدانه راستون شوی وو)، داؤد د جنګ د وضعيت په اړه څه پوښتنې ترې وکړې... بيا ئې رخصت کړ او د ده له تلو وروسته ئې څه تحفې هم کور ته ورولېږلې... اوريا شپه د قصر په خوله کې له ساتونکو سره تېره کړه... داؤد خبر شو او دی ئې راوغوښت او ترې وئې پوښتل: ولې دې شپه په کور کې تېره نه کړه؟ ... ده ورته وويل: فوځ د عهد له صندوق سره په بېديا کې دئ؛ زه څنګه کور ته ولاړ شم او شپه له خپلې مېرمنې سره تېره کړم!! داؤد ورته وويل: ډېر ښه! نن شپه دلته پاته شه او سبا بېرته د جنګ ميدان ته ولاړ شه، داؤد دی ماښامنې ته وبالو، په شرابو ئې مست کړ، خو سره له دې کور ته د تلو په ځای په هملته پاته شو... سهار داؤد د يوآب په نامه خط وليکو او د اوريا په لاس ئې ورولېږو...په خط کې ئې ليکلي وو: کله چې جګړه تونده شي اوريا د جنګ لومړي خط ته ولېږه او يوازې ئې پرېږده چې ووژل شي!! يوآب همداسې وکړل او اوريا ووژل شو!! ... يوآب اطلاع ورکړه او ده په ځواب کې خبر ورولېږو چې ستا له کاره راضي يم!! بتشبع د ماتم ورځې تېرې کړې، بيا داؤد قصر ته راوسته او په نکاح ئې کړه...خدای په دې کار ناراضه شو او ناتان نبي ئې داؤد ته له دې پيغام سره ولېږو: په يوه ښار کې دوو کسانو ژوند کاوو، يو فقير وو او بل غني، شتمن ډېر څاروي درلودل او نېستمن يوازې يوه سېرلۍ درلوده... يوه ورځ د شتمن کور ته مېلمه راغی خو ده د دې په ځای چې خپل کوم څاروی ورته حلال کړي د فقير سېرلۍ ئې ورته حلاله کړه...داؤد وويل: په خدای قسم چا چې دا کار کړی وي بايد ووژل شي!! په دې وخت کې ناتان نبي ورته وويل: هغه شتمن ته يې!! ... تا

اوريا وواژو او د ده مېرمن دې ځان ته نكاح كړه... نو زه به هم ستا په مېرمنو همداسې حالت راولم، د ګاونډيو په لاس كې به پرېوځي او هغوی به په رڼا ورځ ورسره څملي... داؤد اعتراف وكړ... ناتان ورته وويل: خدای هم ته وبخښلې او د دې ګناه په سبب به تا نه هلاكوي خو ستا دا زوی به ومري!! همداسې وشول... ماشوم مړ شو، خو بتشبع بيا حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو او نوم ئې سليمان پرې كېښود...

بايبل د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام په اړه دې ته ورته تورونه لګولي، د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه د بايبل له دې تورونو او د هر يوه په ضد د داسې كركجني ژبې له كارولو معلومېږي چې دا كار ئې عمداً او په دې موخه كړی چې د دغو پيغمبرانو عليهم السلام شخصيت داغجن كړي، د خلكو پام او توجه له هغوی راوګرځوي او په دې ئې قانع كړي چې يوازينی د منلو وړ شخصيت مسيح عليه السلام دئ!! له دې پرته د بايبل د دې عمدي تورونو او الزاماتو لپاره بله معقوله توجيه نه شو موندلی. دا نن چې په مسلمانانو كې يوه ډله د پيغمبر عليه السلام له نژدې يارانو او د ده په مباركو لاسونو روزل شوو صحابه وو يوازې علي رضي الله عنه او د ده درې څلور ملګري تأييدوي او د نورو په اړه حتی د دې خبرې له كولو ډډه نه كوي چې وايي: هغوی ټول له اسلامه واوښتل او منافق شول!! دوی هم د بايبل د ليكونكي په بيمارۍ اخته شوي.

دلته د بايبل له ليكوال څو پوښتني لرو:

- د اوريا كور د داؤد عليه السلام له قصر په څومره واټن كې وو؟ طبيعي ده چې د يوه عادي عسكر كور بايد د پاچا له قصر ډېر لرې وي، كه دا كور نژدې وی نو داؤد عليه السلام به حتماً پېژاندو او له نورو به ئې دا پوښتنه نه كوله چې دا څوك دئ؟ نو داؤد څنګه وتوانېدو چې د خپل قصر له بامه د اوريا د كور په حمام كې د ده ښځه د لمبېدو په حال كې داسې وګوري چې ښكلا ئې هم ورته معلومه شي؟ د يوه انسان ښكلا خو په سل ګزه واټن كې هم نه شي تشخيصېدی، سل ګزه خو به يوازې د قصر دېوالونه له دې بامه لرې وو!!
- د كوم پاچا چې عسكر دومره مذهبي جذبه لري چې د جنګ له ميدان راغلی خو خپل كور ته له تلو او له خپلې مېرمنې سره د شپې له تېرولو له

دې امله ډېره کوي چې د عهد صندوق د جنګ په ميدان کې او د ده ملګري په سنګر کې د دښمن مقابله کوي!! نو د پاچا ديني او مذهبي جذبه به څنګه او څومره لوړه او قوي وي؟ په کار خو دا ده چې پاچا ئې لړ تر لږه د دغه عسکر په څېر وي!! موږ ته خو قرآن داؤد عليه السلام د يوه ستر عابد، ذاکر، مجاهد، خداى پالونکي، له الله تعالى وېرېدونکي او د بصيرت او کمال خاوند په توګه معرفي کوي او پيغمبر عليه السلام ته فرمايي چې د دښمنانو د ناروا تبلغياتو په مقابل کې د داؤد عليه السلام په څېر صبر وکړه.

- د قرآن له وينا معلومېږي چې د داؤد عليه السلام په اړه په اصلي تورات کې همدا مطلب راغلى خو د بايبل ظالم او دروغجن ليکوال يوه کرکجنه، ناروا او غلطه قصه ترې جوړه کړې.

متأسفانه زموږ ځيني مفسرين هم د اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندي تللي او د قرآن د دغو مبارکو آيتونو په تفسير کې ئې د بايبل دا دروغجنه او بې بنسټه قصه رانقل کړې؛ او حتى ځينو له همدې قصې داسي روايات جوړ کړي چې بې خبره خلك د حديث په سترګه ورته ګوري، په داسي حال کې چې دلته په قضاوت کې د (عدالت) موضوع څېړل کېږي، فرشتې هم داؤد عليه السلام ته وايي چې زموږ تر منځ سم او عادلانه قضاوت وکړه او الله تعالى هم ورته فرمايي چې د قضاوت په دوران کې د خپل هوس متابعت مه کوه، د خپلو احساساتو په حکم قضاوت مه کوه، د مدعي او مدعى عليه تر منځ عدالت مراعات کړه، د يوه خبره دي واورېده بل ته هم موقع ورکړه چې خپله خبره وکړي، داسي نه چې عدالت تر پښو لاندي کړې، په قضاوت کې عجله وکړې او د شخړې د يوه لوري د وينا له مخي پرېکړه وکړې، دوى دا ټول صراحتونه له پامه غورځولي او د بايبل قصې ته ئې اعتبار ورکړى!! دا مفسرين هغه دي چې بايبل ئې په دقت سره نه دئ لوستلى او دې ته ئې توجه نه ده کړې چې قرآن د بايبل تأييد او تصديق نه بلکي ترديد او تصحيح کوي، بايبل هغه انجيل او تورات نه دئ چې قرآن ئې تصديق کوي!! بايبل په تورات او انجيل کې ژور او نه بخښونکى تحريف کړى، په بايبل کې د دې الهي کتابونو ډېره لږه برخه؛ هغه هم په کچه الفاظو کې تر سترګو کېږي، قرآن راغلى چې د دې محرف کتاب ټولي دروغجني خبري بربنډې او حقائق خلکو ته څرګند کړي، په بايبل استناد او د قرآن د آيتونو په تفسير کې د هغه

مطالب رانقلول او دا هڅه کول چې دواړه سره تلفيق شي؛ لويه او کرکجنه اشتباه ده!!

ما د بايبل هغه قصې په دقت سره لوستلې دي چې په قرآن کې هم د هغوی يادونه شوې، دې ته متوجه شوی يم چې قرآن د بايبل ډېری هغه قصې رانقل کړې چې تصحيح ئې ضروري وه، بايبل په غلطي بڼې کې راوړې او قرآن هغه تصحيح کړې؛ ما په ټول قرآن کې يوه داسي قصه ونه موندله چي له بايبل سره په بشپړه توگه ورته والی ولري او هغه ئې نه وي تصحيح کړې، قرآن د آدم، نوح، ابراهيم، لوط، اسحاق، يعقوب، موسی، ايوب، يوسف، يونس، داؤد، سليمان او زکريا عليهم السلام؛ قصې راوړې دي چې ټولي ئې د بايبل له قصو سره نه يوازي ژور توپيرونه لري بلکي د دوی په اړه ئې د بايبل قصې تصحيح کړې دي، د داؤد عليه السلام د قصې دغه برخه هم په قرآن کې په داسي توگه راغلې چې د ده په اړه د بايبل دروغجن تورونه ئې ترديد کړي، بايبل ويلي چې ناتان نبي د ده قصر ته ورغی او د يوه مالدار او نيستمن قصه ئې ورته وکړه ... قرآن وايي: دوه فرشتې د مدعي او مدعی عليه په بڼه له دېوال وراواښتې، محراب ته ورغلې او د خپلي شخړي عادلانه پرېکړه ئې ترې وغوښتله، بايبل وايي: ده د اوريا په نامه يو مخلص جنگيالی د جنگ جبهې ته په دې موخه لېږلی وو چې ووژل شي او د ده مېرمن ځان ته نکاح کړي، قرآن وايي: ده د مدعي ادعاء واورېدله او وړاندي تر دې ئې پرېکړه وکړه چې د مدعی عليه دلائل هم واوري، ژر خپلي اشتباه ته متوجه شو او له الله تعالی ئې بخښنه وغوښته، هغه کمعلمه کسان چې محرف او له خرافاتو ډك بايبل ته د يوه سپېڅلي کتاب په سترگه گوري همدا غلطي قصې رااخلي او د قرآن آيتونه د هغوی په تأييد کې په تکلف سره تأويلوي.

د قرآن له وينا په څرگند ډول معلومېږي چې د سليمان عليه السلام په اړه دا تور له دې کبله هم غلط دئ چې دا تور اصلاً د ده پر پلار داؤد عليه السلام لگېدلی وو؛ ما ته ووايئ: رسول الله صلی الله عليه و سلم به څنگه دا خبره کوله؛ هغه ته خو د قرآن وينا هم معلومه وه او د بايبل هم؟!

د بخاري محبانو ته وايم؛ د بخاري يوازي د هغو رواياتو سمه دفاع وکړئ چي صحت ئې درته ثابت شوی وي؛ دا ومنئ چي د رواياتو کتابونه تنقيح ته ضرورت لري؛ بايد د امت د خداپالو او په قرآن پوه منصف علماءو يوه

درنه شورى دا كتابونه وڅېړي، ناسم، مشبوه، په خپلو منځونو کې متعارض او د قرآن خلاف روايات تشخيص او حذف کړي او د ټول امت لپاره د صحيح رواياتو يو دروند او معتبر كتاب تيار کړي؛ همغه كار وكړي چې عثمان رضي الله عنه د قرآن د مختلفو نسخو د توحيد په ارتباط وکړ.

يقيناً غير معتبر روايات هم د مخکنيو امتونو لپاره فتنه وه او هم د رسول الله صلى الله عليه و سلم د امت فتنه؛ موضوعي، جعلي، غيرمؤثق، د سند له پلوه غريب او ضعيف او د متن له پلوه د قرآن خلاف روايات؛ له شك پرته يو ستر آفت او لويه فتنه ده؛ هغه ستره المیه او فتنه چې اسلام او امت ته ئې بې ساري ستونزي زېږولې؛ شخړي، جګړي، يو د بل تكفير او واجب القتل ګڼل ئې رامنځته کړي؛ د جعلي رواياتو ترويج پرون هم فتنه وه او نن هم؛ په مخکنيو امتونو کې هم او په اسلامي امت کې هم؛ د وړو نجونو نكاح، رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ئې منسوبول، د جواز لپاره ئې په داسي رواياتو استناد كول چې په قرآن کې هيڅ شاهد ورته نه مومو، روايت ته پر آيت ترجيح وركول، قرآن له روايت پرته ناقص ګڼل، د متعارضو او مشبوه رواياتو په استناد درنو پيغمبرانو عليهم السلام ته د ۷۰، ۹۰، ۹۹ او ۱۰۰ مېرمنو درلودل منسوبول؛... دا ستر ستر مصيبتونه او آفتونه دي؛ د وړو نجونو ځان وژني، له كور تېښتي، مېړه او د خسر كورنۍ ته زهر وركول او نوري فتنې ترې زېږېدلې... علاج ئې دا دئ چې نكاح له بلوغ او رشد وروسته او د هلك او نجلۍ په خوښه او رضايت وي او د زور نكاح بندول. همغسي چې قرآن فرمايي:

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْاْ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْآخِرِۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾ البقرة

او كله چې مو مېرمنو ته طلاق وركړ او دوى د خپل عدت پاى ته ورسېدې؛ نو دوى له دې مه راګرځوئ چې د خپلي خوښي مېړه سره نكاح وكړي؛ كه په ښه توګه په خپلو کې سره راضي شوي وي؛ په دې سره ستاسو هغه چا ته پند وركول كېږي چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري؛ دا درته غوره او د

تزکيې او پاکۍ سبب ده او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

يعني مؤمنانو ته ويل شوي: طلاقې شوې ښځې د خپلې خوښې له مېړه سره له نکاح مه منع کوئ؛ که دا د دې پخوانی مېړه وي او که نوی؛ نه ئې د کورنۍ غړي بايد دا کار وکړي او نه ئې پخوانی مېړه؛ په ټولنې کې د اخلاقي مفاسدو د مخنيوي لپاره همدا طريقه تر ټولو غوره ده چې پرېږدئ دا کونډې د خپلې خوښې له مېړه سره نکاح وکړي؛ په زور نکاح کول او د خپلې خوښې له خاوند سره له نکاح مخنيوی؛ په ټولنې کې د فتنو او اخلاقي مفاسدو باعث کېږي.

د يهودانو او مسيحيانو په اوسنيو مذهبي کتابونو، په ځانګړي ډول په بايبل کې؛ د نکاح لپاره کوم مشخص عمر په واضح ډول نه دئ ټاکل شوی؛ البته د يهودانو په تلمودي او فقهي متونو کې د نابالغې نجلۍ د نکاح بحث شوی؛ او په تلمود کې پلار ته په صراحت سره ويل شوي چې خپله لور دې په ماشومتوب کې په نکاح نه ورکوي؛ بلکې تر هغه دې انتظار وکړي چې لويه شي او پخپله ووايي: له فلاني سره نکاح خوښوم.

اسلام له يوې خوا د کونډې اولياءو ته ويلي چې هغه د خپلې خوښې له خاوند سره له نکاح مه منع کوئ؛ خو له بلې خوا ئې ښځه په دې مکلفه کړې چې د نکاح په اړه د خپل ولي رضايت په پام کې ولري؛ دا د دې لپاره چې نکاح د کورنيو تر منځ د نژدې والي سبب شي نه د دښمنۍ او نفرت سبب. په دې اړه دوه اساسي خبري بايد په پام کې ولرو:

- د ښځې اولياء بايد خپله خوښه پر هغې تحميل نه کړي؛ له بې ځايه ځورولو او تنګولو ئې ډډه وکړي؛ هغه دې پرېږدي چې د خپلې خوښې له کس سره نکاح وکړي؛ دا هم په خدای او آخرت د ايمان تقاضی ده او هم له اخلاقي فساد د مخنيوي ذريعه.
- ښځه بايد په پټه او د اولياءو په غياب کې دا کار ونکړي؛ له دې فتنې راولاړېږي؛ د کورنيو تر منځ کرکه او نفرت راپيدا کوي؛ که څه هم د وروستۍ پرېکړې واك کونډې او پېغلې نجلۍ ته ورکړی شوی.

ښاغليه! تا چې دا روايت او له هغه رغنده او سمه دفاع؛ پرېښې او نورو رواياتو ته دې لاس غځولی؛ دا له اصلي موضوع تېښته ده؛ که دې زړه غواړي او موږ وخت ولرو؛ هغه روايات به هم وڅېړو؛ اوس مهرباني وکړه له دې

کمزوري او غلط روايت دفاع او زموږ سوالونه ځواب کړه. تا د علمي او منطقي دفاع په ځای؛ داسي څه ليکلي چي د حقيقت کاملاً خلاف دي؛ دا ئې ستا ليکنه؛ محتواء ئې هم وګوره او عجيب ليکدود ئې هم؛ ما ئې ټول غلط موارد؛ ستا لپاره په سره رنګ په نښه کړي: "او مصادر پدی ډک دي چه خديجه رضی اللّه عنها د هجرت نه دری کاله مخکی وفات شوې وه. او هجرت د بعثت په ديارلسم کال وو. يعنی رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم د خديجی – رضی اللّه عنها- د وفات نه وروسته هماغه شاوخوا دوه کاله بی واده وو، بيا يی تقريبا دری کاله د سودی سره يوازی تير کړل بيا يی عائشه – چه نکاح يی مخکی د سودی نه يوه مياشت وروسته شوی وه - واده کړه."

جنابه! دا ليکنه دي د محتواء له پلوه هم غلطه او د حقيقت خلاف ده او له ادبي پلوه هم حيرانوونکې؛ په دې لنډ پنځه سطره پراګراف کې تر ۲۰ زياتي غلطۍ!! ته چي په خپلي مورنۍ ژبي سمه ليکنه نه شې کولی نو عربي او ديني پوهه به دي څنګه وي؟! تا ته سپارښتنه کوم چي حکمة البارئ ولوله؛ هم به په بخاري سم پوه شې، هم به د عربي معياري پښتو ترجمه زده کړې او هم پښتو ليکدود. باور وکړه څو ځلي مي ذهن ته راغلي چي ستا دا ليکنه اصلاً په ځواب نه ارزي؛ کله چي مي ستا ليکني کې د شهيد منير شاکر له لوري ستا مسلسل ټيلفون ته ځواب نه ويل؛ ولوستل نو غوښتل مي زه هم ځواب درنه کړم؛ خو ما ستا په ليکني کې داسي څه وموندل چي بايد بحث پرې وشي؛ نه ستا لپاره بلکې د نورو لپاره.

راشه د مصادرو اصلي وينا هم واوره: "رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم له ام المؤمنين سودې بنت زمعه رضي اللّه عنها سره په مکه مکرمه کې؛ د ام المؤمنين خديجې رضي اللّه عنها تر وفات لږ وروسته او مدينې ته تر هجرت وړاندي نکاح وکړه. د نکاح وخت د بعثت لسم کال وو؛ يعني تر هجرت نږدې دري کاله وړاندي، شاوخوا ۶۲۰ ميلادي کال؛ رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم له سودې رضي اللّه عنها سره په مکه کې ګډ ژوند پيل کړ؛ بيا ئې د ده د هجرت په وخت کې مدينې ته هجرت وکړ؛ دا د خديجې رضي اللّه عنها تر وفات وروسته لومړۍ مېرمن وه چي رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم په نکاح کړه؛ دا ئې هم د مصدر عربي متن:

سَوْدَةُ أُمُّ المُؤْمِنِيْنَ بِنْتُ زَمْعَةَ بنِ قَيْسٍ العَامِرِيَّةُ القُرَشِيَّةُ، العَامِرِيَّةُ. وَهِيَ أَوَّلُ مَنْ تَزَوَّجَ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ خَدِيْجَةَ، وَانْفَرَدَتْ بِهِ نَحْواً مِنْ ثَلاَثِ سِنِيْنَ أَوْ أَكْثَرَ، حَتَّى دَخَلَ بِعَائِشَةَ؛ وَكَانَتْ سَيِّدَةً جَلِيْلَةً، نَبِيْلَةً، ضَخْمَةً. سير أعلام النبلاء ٢\٢٦٥

امالمؤمنين سوده؛ د زمعه بن قيس لور، د قريشو د عامريه له قبيلې وه؛ دا لومړۍ مېرمن وه چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم له خديجې رضي اللّٰه عنها وروسته ورسره نکاح وکړه؛ او نژدې درې کاله يا تر هغه زياته موده يوازې همدا د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم مېرمن وه؛ تر هغه چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم له عائشې رضي اللّٰه عنها سره ګډ ژوند پيل کړ. هغه يوه درنه، قدرمنه، اصيله او د دنګې ونې خاوند مېرمن وه.

دا عبارت د امام شمس‌الدين ذهبي رحمه الله له مشهور کتاب «سِيَرُ أَعْلَامِ النُّبَلَاءِ؛ دوهم جلد ٢٦٥ صفحه؛ نقل شوی»

نو اوس ستا له غوښتنې سره سم بيا درته وايم: ستا او د دې روايت خبره قطعاً غلطه ده؟! نه رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه و سلم دوه کاله مجرد پاته شوی؛ نه ئې له عائشې رضي اللّٰه عنها سره دوه کاله وروسته نکاح کړې؛ او د روايت تر ټولو ستر عيب دا چې د سودې رضي اللّٰه عنها د نکاح هيڅ يادونه ئې نه ده کړې؛ دې ته به څه توجيه وړاندې کوئ؟!

عالي جنابه! داسې څه دې هم ليکلي چې د اخلاق، ادب او صدق له ټولو پولو اوښتل دي؛ دا ئې ستا وينا "هو ولا، متأسفانه چه د يويشتمی پيړئ محققين(!!!) د ټول امت علماوو ته چه پدی حديث يی اجماع کړې ده عوام اود عوامو په خير ملايان وايي! ددوی په نزد کی به علماء هغه خلک دي چه صحيح البخاري ته کتاب الفتنه، او پدی مساله کی اجماع ته بويناکه اجماع وايي، لکه احمد عبده ماهر، سليمان بحيري، حسن فرحان المالکي، محمد شحرور، عدنان الرفاعي، جاويد غامدي، او نور!" د ادبي غلطيو په نښه کولو مې هم خپل وخت ضائع کړ.

اما محتواء او په هغې کې شکرور دروغ هم ناچار بايد ستا مخې ته کښېږدم:

- ستا او ستا د استادانو دا وینا چي (د ټول امت علماءو ته چه پدی حدیث یی اجماع کړې ده)؛ دومره ستر او ښکرور دروغ دي چي یوازي تاسو ئې د ویلو جسارت لرئ؛ له قرآن پرته په هیڅ کتاب هیڅ ډول اجماع نه مومو؛ او بیا د بخاري په اړه خو د هیڅ هېواد علماءو هم اجماع نه ده کړې؛ څه دا چي ټول امت اجماع کړې وي؛ ښایي سمه خبره به دا وي: هغه کتاب چي تر ټولو زیات متنازع فیه دئ؛ هغه صحیح بخاري دئ؛ له امام بخاري سره نه د ده استادانو او نه هم شاګردانو د بخاري په ټولو روایاتو توافق کړی او نه ډېرو مشهورو او نومیالیو محدثینو او علماءو؛ ډېره به عجیبه وي چي په علماءو کي داسي څوك پیدا شي چي په دې روایت کي له بخاري سره توافق وکړي؛ او که پیدا شي نو هغه به ستا په څېر وي؛ اجازه راکړه؛ تا ته د بخاري له سلګونو ئې لږ شمېر داسي روایات وړاندي کړم چي دفاع ترې محال ده:

## په بخاري کي پر رسول الله د سحر اړوند روایت

دا هم یوه بله اختلافي مسئله ده چي آیا پر رسول الله صلی الله علیه و سلم سحر او کوډي شوې وې که نه؟ آیا دې کوډو پر هغه اغېز کړی وو که نه؟ اغېز ئې څومره وو؟ آیا صحیح ده چي کوډګر کولی شي یو څوك په کوډو سره بیمار کړي یا ځان ته ګټه او بل ته تاوان یا ګټه ورسوي؟ آیا یو کوډګر کولی شي چي په خپلو کوډو سره د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر شخصیت ته تاوان ورسوي، بیمار ئې کړي او حافظه ئې مختل کړي؟ که دښمن ته دا کار ممکن وو نو ولي ئې په وار وار دا کار نه دئ کړی؟

په دې اړه نه یوازي په ټول قرآن کي نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي څه مومو چي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم یا بل پیغمبر یا بل انسان کوډې شوې او د کوډو د اغېز له کبله بیمار شوی؛ بلکي د موسی علیه السلام په ارتباط مونږ ته وایي: د مصر ټول ماهر جادوګران؛ د فرعون په امر راغونډ شول؛ خو ونه توانېدل موسی علیه السلام ته هیڅ ضرر ورسوي؛ د مقابلې په دوران کي ئې لومړی جادوګرانو ته وویل چي خپل کمال وښیئ؛ د هغوی ټول کمال دومره وو چي پړي او لکړي ئې وغورځولې او داسي لوبه ئې جوړه کړې وه چي خلکو ته دا پړي او لکړي خوځنده وبرېښي؛ دومره چي پر موسی علیه السلام ئې هم وېره راوستې؛ او الله تعالی هغه ته فرمایلي: عصا

دي وغورځوه؛ او هغې د جادوګرانو ټول پړي او لکړي شوی تېر کړي.

خو بل لوري ته د روایاتو په ټولو کتابونو کې یوازې یو روایت داسي مومو چې وایي پر رسول الله صلی الله علیه و سلم په مدینه کې د یوه یهودي له لوري کوډې شوې وې، دومره اغېز ئې پرې کړی وو چې دروندوالی او کسالت به ئې احساساوو او کله کله به ئې ګمان کولو چې فلان کار مې کړی خو حقیقتاً به ئې هغه کار نه وو کړی!! په بخاري کې د سحر او د سحر د اغېز په اړه مکرر خو په جدي ډول متعارض روایات مومو؛ پرته له دې چې ویل شوي وي کوم یو ئې غوره او اصح دئ؛ یو روایت چې لومړی او دوهم راویان ئې هم دوه کسان؛ پلار او زوی دي؛ او همدا روایت په بخاري کې اوه ځله راغلی؛ خو یو د بل ضد، او له بخاري پرته یوازې مسند احمد او صحیح حبان کې راغلی او بل هیڅ محدث په خپل کتاب کې د راوړلو وړ نه دئ ګڼلی، د امام بخاري استادانو هم نه دئ منلی او شاګردانو ئې هم؛ د قرآن له صریح آیتونو سره هم ژور تعارض لري؛ قرآن وایي چې ساحر په خپل سحر سره نه چا ته ګټه رسولی شي او نه تاوان؛ خو دا غلط روایت وایي: یو یهودي ساحر وتوانېدو په کوډو سره د الله معصوم رسول داسي بیمار کړي چې څو میاشتې ئې حافظه ګډه وډه شوې وه!! نه پوهېږو په دغو څه شوي او ولې ئې له دې معلول او مجعول روایت د دفاع لپاره کلکه ملا تړلې؟! ولې غواړي هغو ټګمارو کوډګرو ته د کوډو د جواز فتوی ورکړي چې کار ئې د بې وزلو او په مصیبتونو اخته جاهلانو غولول او له هغوی شکرانې تر لاسه کول دي؟! ولې له الله تعالی نه وېرېږي؟ ولې له غلطو روایاتو دفاع کوي؟ ولې پر هغو مظلومانو رحم نه کوي چې د دوی پر سپیني جامې باور کوي او غلطي خبري ئې هم مني؟ ولې د ټګمارانو او خائنانو مرسته کوي؟ راشئ د دې روایت په خوا کې لږ تم شو:

حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ عَائِشَةَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سُحِرَ، حَتَّى كَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ» بخاری ۳۱۷۵

محمد بن مُثَنّی له یحیی او هغه له هشام روایت کړی چې وئې ویل: پلار

مي راته وويل: له عائشې مي اورېدلي چي: "پر رسول الله صلی الله علیه و سلم کوډي وشوې؛ داسي چي خيال ته به ئې راتله: څه ئې کړي خو کړي به ئې نه وو".

دا روايت په بخاري کي شپږ ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۳۲٦۸، ۵۷٦۳، ۵۷٦۵، ۵۷٦٦، ٦۰٦۳، ٦۳۹۱، د سند له مخي داسي دئ چي په صحابه وو او تابعينو کي يوازي يو يو راوي لري؛ عروه رضي الله عنه او عائشه رضي الله عنها، دوی ته چي کومو ورپسې راويانو دا روايت منسوب کړی د هغوی په رواياتو کي داسي جدي توپيرونه او تعارضات تر سترګو کېږي چي تلفيق ئې محال دئ؛ لکه دا:

- رسول الله صلی الله علیه و سلم ته چا د سحر په اړه خبر ورکړ؛ جبرئيل عليه السلام که دوو نورو فرشتو؛ په خوب کي که په ويښه؟
- د سحر توکي د څاه له تل راوايستل شول که نه؟
- رسول الله صلی الله علیه و سلم پخپله راوايستل، که ئې د صحابه وو يوه ډله ولېږله او که ئې علي رضي الله عنه ولېږو او که هيڅوك نه دي تللي او عائشې رضي الله عنها ترې غوښتي ما پرېږده چي لاړه شم او دا توکي راوباسم؛ خو رسول الله صلی الله علیه و سلم دې ته هم اجازه نه ده ورکړې؟
- پر رسول الله صلی الله علیه و سلم د سحر اغېز څنګه وو؛ يوازي دا چي کله کله به ئې ويل: فلان کار مي کړی حال دا چي هغه به ئې نه وو کړی؛ يا دا چي کله به ئې ويل: خپلو مېرمنو ته ورغلی يم خو نه به وو ورغلی؟
- د سحر د اغيز دا حالت څومره دوام کړی؛ نه مياشتي که تر دې لږ يا زيات؛ او که ئې موده معلومه نه ده؟
- د سحر اغېز څنګه شنډ شو؟ له څاه د سحر د توکو رااېستلو، د سحر تار د يولسو غوټو پرانستلو سره او که د معوذتين په لوستلو سره؟
- د معوذتين د الفلق سورې د (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ: په غوټو کي ماهر پو کوونکي) معنی څه ده؟ کوډګري ښځي که ماهر کوډګر؟ او که هغه څوك چي په خپلو تبليغاتو سره د عقده منو عقدې پړسوي؟ همغه چي د الناس سورې په دې آيت کي معرفي شوي (ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ: هغه چي د خلکو په سينو کي وسوسې اچوي)؛ په دې کي هيڅ شك نشته چي د (ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ) معنی همدا ده نه بل څه؛ ځکه همدا د هغه بل شرح او تفسير دئ.

ښاغلیه! اوس مهرباني وکړه ته او ستا استادان دي؛ دې پوښتنو ته ځواب ووایئ؛ او دا وضاحت وکړئ چې د داسي غلط، د سند او محتواء له پلوه کمزوري روایت راوړلو او دفاع ترې کولو ګټه څه ده؟ آیا داسي غریب روایات؛ یو د بل ضد او متعارض؛ عقلاً او ایماناً منلی شو چې نه ئې راوي شاهد لري او نه په ټول قرآن کي داسي آیت مومو چې اشارتاً د دې روایت ادعاء ترې ثابته شي؟!

که واقعاً پر رسول الله صلی الله علیه و سلم کوډي شوې وې نو دا خو ډېره لویه حادثه وه، ولي په ټولو صحابه وو کي یوازي یوه کس دا خبره کړې ده، دا خبره خو باید ګڼ شمېر صحابه وو روایت کړې وی!! لږ تر لږه د رسول الله صلی الله علیه و سلم نورو مېرمنو هم باید دا خبره کړې وی، له صحابه وو باید ډېرو تابعینو ته هم رسېدلې وی؛ ولي په صحابه وو یو تن په تابعینو کي هم له هشام او د ده له پلار پرته بل راوي نه لري؟!

قرآن موږ ته وایي: د مصر ټول ماهر جادوګران په ګډه ونه توانېدل موسی علیه السلام ته ضرر ورسوي؛ یو یهودي ساحر څنګه وتوانېدو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته په خپل سحر سره صدمه ورسوي؟! قرآن خو وایي چې سحر د اشیاءو ماهیت نشي بدلولی، هسي د خلکو د غولولو یوه نندارہ او لوبه وي چې یو شی په بلي بڼې کي ګوري، آرام پراته شیان د خوځېدونکو په څېر ورته برېښي!! په ټول قرآن کي داسي آیت نه مومو چې د سحر داسي اغېز ترې ثابت شي چې یو انسان بیمار کړي، د هاروت او ماروت په قصې کي د سحر داسي اغېز په بشپړه توګه ردوي او وایي: دوی په کوډو سره چا ته ضرر نشو رسولی، ضرر یوازي د الله تعالی په إذن سره انسان ته رسېدی شي نه د جادوګر په کوډو سره.

## له خضر سره د موسی علیه السلام د لیدني متعارض روایات

د موسی علیه السلام او خضر قصه کي؛ بخاري څو مکرر روایات لري چې په ځینو کي ویل شوي: ۱- موسی علیه السلام ته وریت شوی کب د نښي په توګه ټاکل شوی او ورته ویل شوي وو چې کله دا کب ژوندی شي، سیند ته ټوپ کړي او ستا له نظره غائب شي؛ همهلته به خضر پیدا کړئ؛ ۲- په نورو کي ویل شوي: په سیند کي روان ژوندی کب د نښي په توګه ورته ټاکل شوی

او ورته ويل شوي وو: كله چې دا درنه ورك شو؛ هملته مجمع البحرين دئ او خضر به همدلته مومئ؛ پوښتنه كوو: په دغو متناقضو او متعارضو رواياتونو کې کوم يو صحيح دئ؟ ولې امام بخاري دا متضاد روايات راوړي؟ ولې ئې نه دي ويلې چې په دوی کې کوم صحيح دي او کوم غلط؟ ته راته ووايه: ژوندی کب که وريت کب؟ او زما ځواب دا دئ: له شك پرته هغه ژوندي كبان ورته د نښي په توګه ټاکل شوي وو چې د زېږېدو او په دوبي کې د اوسېدو سره او اصلي سيمه ئې د خرطوم په جنوب شرق کې د نيل د يوې ځانګې سرچينه وه؛ د نيل د دوو ځانګو كبان په ژمي کې له خپلې اصلي سيمې د مصر خوا کې بحر ته راځي او د دوبي (اوړي) په موسم کې له مصر د سودان او بيا په يوګندا او ايتوپيا کې د نيل د سرچينو په لوري درومي. داسې معلومېږي چې موسی عليه السلام ته د نيل ازرق كبان د نښي په توګه ټاکل شوي، دا نيل د خرطوم په شمال کې له نيل ابيض سره يو ځای کېږي؛ كله چې دا ماهيان همدغه مجمع البحرين سيمې ته ورسېږي نو خپل مسير بدلوي او د جنوب شرق په لوري د ايتوپيا درو ته او نور كبان مخامخ د يوګندا درو ته ځي. موسی عليه السلام د نيل په غربي ژۍ روان وو؛ د نيل ازرق كبانو په مجمع البحرين کې خپل مسير بدل کړی او له همدې پوه شوي چې ښودل شوي ځای ته رسېدلي. د دې تفصيل د سلفي شم که مذهبي پاته شم دوهم جلد کې تر دې عنوان لاندې (له خضر سره د موسی عليه السلام ليدنه) لوستلی شئ.

## د خضر مربوط روايات

٧٤ - حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ غُرَيْرٍ الزُّهْرِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَهُ أَنَّ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: هُوَ خَضِرٌ، فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ: إِنِّي تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى، الَّذِي

سَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ، هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ شَأْنَهُ؟ قَالَ: نَعَمْ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ؟ " قَالَ مُوسَى: لاَ، فَأَوْحَى اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى مُوسَى: بَلَى، عَبْدُنَا خَضِرٌ، فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ اللَّهُ لَهُ الحُوتَ آيَةً، وَقِيلَ لَهُ: إِذَا فَقَدْتَ الحُوتَ فَارْجِعْ، فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ، وَكَانَ يَتَّبِعُ أَثَرَ الحُوتِ فِي البَحْرِ، فَقَالَ لِمُوسَى فَتَاهُ: (أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الحُوتَ وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ)، قَالَ: (ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا)، فَوَجَدَا خَضِرًا، فَكَانَ مِنْ شَأْنِهِمَا الَّذِي قَصَّ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي كِتَابِهِ " بخاری: ۷۴

له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت دئ چي وايي: د ده او حر بن قيس تر منځ د موسی عليه السلام د ملګري په اړه مناقشه رامنځته شوه، ابن عباس وويل چي دا خضر وو، أبي بن كعب د دوی دواړو خوا ته تېر شو، نو ابن عباس ورغږ کړ او وئې ويل: زما او دغه ملګري تر منځ د موسی عليه السلام د هغه ملګري په اړه مناقشه راغله چي موسی له هغه سره د ملاقات د لاري موندو پوښتنه کړې وه، آيا له رسول الله صلی الله عليه و سلم دي د ده په اړه څه اورېدلي؟ وئې ويل: هو؛ له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي واورېدل چي ويل ئې: کله چي موسی عليه السلام د بني اسرائيلو په يوې غونډې کې وو يو سړی ورته راغی او وئې ويل: آيا داسي څوك پېژنې چي تر تا زيات پوه وي؟ موسی عليه السلام وويل: نه؛ نو الله تعالی موسی عليه السلام ته وحي وکړه چي ولې نه؛ زموږ بنده خضر؛ نو موسی له هغه سره د ملاقات د لاري په اړه پوښتنه وکړه؛ نو الله تعالی کب ورته د نښې په توګه وټاکلو او ورته وويل شول: کله چي دي کب ورك کړ نو راوګرځه او همهلته به ئې وګورې؛ او هغه به په نهر کې د روان کب تر شا (په استقامت) تلو، نو موسی ته خپل ځوانکي وويل: آيا پام دي وو چي کله مو هغه لوی کمر ته پناه يووړه نو ما کب هېر کړ، فقط شيطان رانه هېر کړ چي يادونه ئې وکړم،

موسی علیه السلام وویل: دا همغه څه دئ چي لټولو مو؛ نو پر خپلو پلونو بېرته راستانه شول؛ نو خضر ئې ومونډ. او بیا د دوی دواړو خبره همغسي ده چي الله تعالی ئې قصه په خپل کتاب کي راوړې.

دا روایت په بخاري کي دیارلس ځلي په دغو شمېرو راغلی: ۷٤، ۷۸، ۱۲۲، ۲۲٦۷، ۲۷۲۸، ۳۲۷۸، ۳٤۰۰، ۳٤۰۱، ٤۷۲٥، ٤۷۲٦، ٤۷۲۷، ٦٦۷۲، ۷٤۷۸، شپږ ځلي د پورتني روایت په څېر دئ؛ له ځینو توپیرونو سره؛ په دغو کي ویل شوي چي په ژوندي ماهي پسي روان ول؛ او پنځه ځلي داسي چي له پورتني سره ژور تعارض لري؛ او په کي راغلي چي موسی علیه السلام ته ویل شوي وو چي وریت شوی کب په ټوکرۍ کي درسره واخله، په دغو پنځو کي هم ژور توپیرونه او اضطرابات تر سترګو کېږي، دا په داسي حال کي چي د ټولو دیارلسو روایاتو لومړنی راوي یو او عبد الله بن عباس دئ! عبد الله بن عباس هم مخامخ له رسول الله صلی الله علیه و سلم نه دئ اورېدلی بلکي له أبي بن کعب ئې اورېدلی او هغه هم په یوه روایت کي داسي راغلي چي بل صحابي سره د خضر په اړه مناقشه کوي؛ أبي بن کعب ئې خوا ته تېرېدو او له هغه ئې پوښتنه کړې. په بل روایت کي داسي راغلي چي سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ وایي: ما عبد الله بن عباس ته وویل: نَوْف البَكَالِي وایي: دا موسی هغه د بني اسرائیلو موسی نه دئ؛ او ابن عباس ورته ویلي چي دا د خدای دښمن دروغ وایي؛ بیا هغه څه وایي چي له ابي بن کعب ئې اورېدلي. یعني چي: ۱- دا دواړه روایات ئې سره له ژور تعارض او تضاد له ده اورېدلي؛ ۲- او ګواکي د صحابه وو تر منځ هم د خضر په ارتباط اختلاف وو او هم د موسی علیه السلام چي دا کوم موسی وو. د دې خبري منل ګران دي چي په صحابه وو کي به د داسي شخصیتونو په اړه هم اختلاف وو چي په قرآن کي ئې یادونه شوې.

د بخاري د دغو دوه ډوله روایاتو د راویانو لړۍ له دوهمي طبقې سره بېله شوې؛ هغه چي د وریت شوي ماهی خبره کوي دوهم راوي ئې سعید بن جبیر دئ؛ او هغه چي وایي په سیند کي روان ماهي د نښي په توګه ټاکل شوی وو؛ دوهم راوي ئې عبید الله بن عبدالله دئ؛ د دواړو متضاد روایاتو هممهاله راوړل او دواړو ته صحیح ویل؛ د حیرانتیا وړ ده؛ سره له جدي تضاد چي په متن او مدعی کي ئې لیدل کېږي.

په بخاري کي نژدې ۷۰۰۰ روایات راغلي چي ٥۰۰۰ ئې تکراري دي؛ دا ئې

فقط يو مثال دئ؛ د بخاري له دې اوږد روايت د دې کتاب نژدې ۱۸ صفحې جوړي شوې؛ روايت يو دئ؛ لومړی راوي ئې هم يو کس؛ خو تر منځ ئې دومره جدي او ژور تضاد او تناقض چي تلفيق، تطبيق او توجيه ئې محال دئ؛ هيڅ شرعي، عقلي او منطقي توجيه نشو ورته موندلی؛ تر منځ ئې تضاد او تعارض دومره ژور چي يو ئې وايي: موسی عليه السلام ته ويل شوي وو چي په سيند کي د روان ژوندي ماهي تر شا به درومي؛ او په بل کي ويل شوي: وريت شوی ماهي په مکتل: ټوکرۍ کي درسره واخله؛ په هر ځای کي چي دا ماهي ژوندی شو، سيند ته ئې ټوپ کړل او درنه ورك شو؛ نو هملته مجمع البحرين دئ او خضر به ومومې!! پر دې سربېره به په دغو رواياتو کي گڼ شمېر نوري جدي ستونزي هم وگورئ؛ لکه دا چي وايي: په کوم ځای کي چي موسی عليه السلام او ملگري ئې دمه کړې وه؛ همهلته د حيات اوبو چينه وه؛ ناڅاپي د دې اوبو څاڅکي پر وريت شوي ماهي توی شوی او هغه راژوندی شوی او سيند ته ئې ټوپ کړي!! د حيات اوبه، د معرفت مېوه، د خضر دائمي ژوندون او دې ته ورته باورونه؛ د ديني لارښوونو خلاف او خرافات دي، د ځينو منشأ ئې بايبل دئ؛ بايبل وايي چي الله تعالی آدم او حواء په جنت کي د حيات او معرفت ونو د مېوو له خوړلو منع کړي وو؛ دوی د معرفت مېوه وخوړه نو کله چي ئې ځان ته وکتل پوه شول چي بربنډ دي، دا ئې د بايبل د اړوند برخي ترجمه: "... نو د دې وني مېوې ئې وشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې؛ په همدې سره د دوی دواړو سترگي پرانيستل شوې، په خپلي بربنډتيا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځي په مازديگر کي، آدم عليه السلام او ښځي ئې د خدای غږ واورېدو چي په باغ کي گرځېدو، نو په ونو کي پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چيري يې، ولي پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کي واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چي لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمايل: چا درته وويل چي لوڅ يې؟ آيا د هغي وني مېوه دي خوړلې ده چي ترې منع کړی مي وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغي ښځي چي تا زما ملگرې گرځولې؛ ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړله"؛ قرآن دا خرافات له بنسټه رد کړي؛ نه د حيات چينه شته او نه موسی عليه السلام ته وريت شوی کب د نښي په توگه ټاکل شوی وو؛ او

وريت کب په يوه څاڅکي اوبو راژوندی شوی؛ که داسي وی نو دا اوبه خو به موسی عليه السلام او ملګري ئې هم څښلې وې؛ ولې دوی ته دائمي ژوند ورپه برخه نه شو؟! د مرګ او ژوند په اړه د قرآن وينا داسي ده چي وايي: څه ته چي ژوند او عمر ورکړی شوی؛ مرګ هم ورکړی شوی؛ يعني هر ژوندی مخلوق مري (وَمَن نُّعَمِّرۡهُ نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِۚ أَفَلَا يَعۡقِلُونَ)- يس: ٦٨؛ انسان داسي پيدا شوی چي خامخا به مري، الله تعالی داسي اوبه او مېوه نه ده پيدا کړې چي د هغې په خوړلو سره انسان دائمي او ابدي ژوند ترلاسه کړي. په دغو رواياتو کي داسي د قرآن او عقل خلاف خبري هم مومو؛ دې ته ورته ستونزي به تاسو په اکثرو تکراري رواياتو کي وګورئ؛ د دې تفصيل په حکمة البارئ او د سلفي شم که مذهبي پاته شم کتاب دوهم جلد کي ولولئ.

## معراج د ويښي سفر وو که د رؤيا؟

ما ته ووايه: د بخاري د رواياتو له مخي د معراج سفر په ويښه تر سره شوی که په خوب کي، که ستا د خوښي روايت وايي چي معراج په ويښه وو نو د الإسراء سورې د دې آيت په اړه به څه وايې؟

وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِٱلنَّاسِۚ وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ فِي ٱلۡقُرۡءَانِۚ وَنُخَوِّفُهُمۡ فَمَا يَزِيدُهُمۡ إِلَّا طُغۡيَٰنٗا كَبِيرٗا ٦٠ الإسراء

او هغه مهال چي تا ته مو وويل: يقيناً چي ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې؛ او هغه رؤيا (خوب) چي تا ته مو دروښوده؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه ګرځولې؛ او په قرآن کي (ياده شوې) هغه لعنت شوې ونه؛ او دوی وېروو؛ نو (دغو خبرو) يوازي د دوی ستر طغيان لازيات کړ.

د دې مبارك آيت په ټولو فِقرو د ښه پوهېدو لپاره دا مطالب په پام کي ولرئ چي د آيت په څلورو فقرو کي داسي څلورو خبرو ته ګوته نيول شوې چي د مخالفينو عناد، دښمني او طغيان ئې لا زيات کړ:

- لومړۍ خبره ئې د قرآن دا وينا وه چي الله تعالی پر خلکو احاطه کړې، داسي څه نه شي کولی چي الله تعالی ئې د کولو توان او توفيق ورنه کړي؛

مخالفينو ويل: موږ خو په خپلې شاوخوا کې داسي څوك نه ګورو چي موږ ئې احاطه کړي يو!! موږ خو ډېر داسي څه کوو چي ته وايې الله تعالی ئې نه خوښوي، ستا د رب احاطه چېري ده؟

• دوهمه خبره د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه رؤيا وه چي د اسراء او معراج په نامه ياده شوه، خلکو ته دا رؤيا يوه آزموينه وه، ځينو ته ئې منل ګران وو، ځينو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وګڼله، ځينو د تبليغاتو لپاره وکاروله او ويل به ئې دا دئ دا پيغمبر اوس ادعاء کوي چي په يوه شپه کې تر مسجد الاقصی پوري تللی، د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پوري رسېدلی، په هر آسمان کې ئې يو يو پيغمبر ليدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو ليدلي او...

• درېيمه خبره د قرآن دا وينا وه چي د دوزخيانو خوراك به د زقوم هغه تريخ بوټی وي چي د دوزخ په تل کې به راټوکېږي؛ او کافرانو وويل: آيا د اور په منځ کې؛ هغه هم د دوزخ د تېز اور په منځ کې؛ ونه راشنه کېدی شي؟!

• څلورمه خبره د قرآن دا وينا وه چي الله تعالی به ستا د دښمنانو د تنبيه لپاره داسي څه وکړي چي دوی پرې ووېروي، مخالفينو وويل: دا تنبيه او تهديد ولې ځنډېدلی، ولې د دومره کلونو له تېرېدو وروسته هم دا ګواښونه تر سره نه شول؟

د آيت خلاصه دا ده: لکه څنګه چي قريشو د قرآن پر دغو دريو خبرو ملنډې وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه ګڼلې؛ ستا د دغي رؤيا په اړه هم همدا کار کوي!!

له دې مبارك آيت دوه خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

- د معراج سفر يوه رؤيا وه.
- قريشو د ملنډو او شديدو تبليغاتو موضوع ګرځولې وه.

د دغي رؤيا په اړه ابن عباس رضی الله عنهما ته دوه متضاد اقوال منسوب شوي: يو ئې وايي چي ابن عباس دا رؤيا مکې ته د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ننوتلو اړوند رؤيا بولي او بل ئې وايي چي دا د اسراء اړوند رؤيا ده!! په يوه کې دا رؤيا د خوب په معنی نيول شوې او په بل کې د ويښي ليدا!! په دغو متضادو او متعارضو رواياتو کې به هغه غوره کوو چي له قرآن سره اړخ لګوي. قرآن په هيڅ ځای کې رؤيا د ويښي ليدا په معنی نه

ده راوړې، دا رؤيا په هيڅ صورت کې هغه رؤيا نه شو ګڼلی چې د حديبيې په سفر پورې ارتباط لري، دا ځکه چې دغه آيت نژدې اته کاله د حديبيې تر سفر وړاندې نازل شوی.

## د بخاري روايات د معراج په اړه څه وايي؟

راشئ وګورو چې د معراج په اړه په رواياتو کې څه راغلي؟ د ټولو هغو رواياتو چې د معراج په اړه راغلي او د احاديثو کتابونو کې ئې مومو؛ تر نوي سلنه زياتو کې ئې دا الفاظ مومو:

۱- بينا أنا نائمٌ في الحَطِيْمِ: په داسي حال کې چې زه په حطيم کې ويده وم؛ وهْو نائِمٌ في المسْجدِ الحرامِ: او دی په مسجد الحرام کې ويده وو؛ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ البَيْتِ بَيْنَ النَّائِمِ، وَاليَقْظَانِ کله چې زه د بيت الله خوا ته د ويښې او خوب تر منځ حالت کې وم؛ او دې ته ورته الفاظ.

۲- فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الْأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلَا تَنَامُ قُلُوبُهُمْ: په داسي حال کې چې زړه ئې ليدل کول او د رسول الله صلی الله عليه و سلم سترګي ويدې وې؛ او زړه ئې ويده نه وو؛ او انبياء همداسي وي چې سترګي ئې ويدې وي خو زړونه ئې نه ويدېږي.

۳- يا د روايت په پای کې داسي راغلي: واسْتَيْقَظَ وَهْوَ في المسجدِ الحرامِ: او راويښ شو په داسي حال کې چې په مسجد الحرام کې وو.

نوي سلنه روايات همداسي دي؛ او که هغه روايات هم پرې علاوه کړو چې يوازې د خوب د پېښې تعبير تري کولی شو نه بل څه؛ لکه دا چې ويل شوي:

**فُرِجَ سَقْفُ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِي، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ، مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهَا فِي صَدْرِي، ثُمَّ أَطْبَقَهُ.**

زما د کور سقف پرانيستل شو په داسي حال کې چې زه په مکه کې وم، جبرئيل راکوز شو نو زما سينه ئې پرانيستله، بيا ئې د زمزم په اوبو ومينځله، بيا ئې د سرو زرو لوښی (طشت) راوړ چې له حکمت او ايمان ډك وو؛ او زما په سينه کې ئې تش کړ، بيا ئې بنده کړه.

مګر کېدی شي دا له خوب پرته په بل څه تعبير کړو؟ نو په دې صورت کې تر نوي سلنه زيات روايتونه داسي کېږي چي د معراج سفر يوه رؤيا ګڼي.

تاسو چي نن د معراج اړوند رواياتو په اړه دا خبره اورئ چي تر نوي سلنه زياتو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم د خوب حالت کې د معراج سفر پيل کړی او پای ته رسېدلی؛ نو يقيناً چي حتماً به حيران شوي يئ؛ ما هم چي د تحقيق په دوران کې روايات داسي وموندل نو حيران شوم چي له دې ټولو رواياتو سره سره؛ څوك څنګه جرأت او جسارت کوي چي د معراج سفر له رؤيا او روحاني سفر پرته بل ډول او داسي تعبير کړي چي هم له دې ټولو رواياتو سره خلاف وي او هم د قرآن له څرګندو آيتونو سره؟!

د معراج د رواياتو راويان: ابوذر، انس چي ده هم له ابوذر او ابي بن کعب اورېدلي، ابْنَ عَبَّاسٍ، أَبُو حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ، صعصعه او ام هاني رضي الله عنهم دي. دا پېښه په مکه کي واقع شوې ده، روايت به ئې هم هغه چا کړی وي چي له مکې مديني ته تللي دي.

نو په داسي حال کې چي هم د قرآن له وينا او هم له نوي سلنه رواياتو په وضاحت سره معلومېږي چي معراج يوه رؤيا وه؛ د بخاري اکثريت روايات هم دغه خبره کوي؛ خو سره له دې په بخاري کې دا وضاحت نه مومو او هيڅوك نشي کولی چي د بخاري د رواياتو له مخي دا پرېکړه وکړي چي معراج د ويښي سفر وو که د رؤيا؛ دې ته هم ځواب نه دئ ويل شوی چي که د موسی عليه السلام معراج او له الله تعالی سره تکلم په زمکي کې وو؛ هغه هم تر يو ځل زيات؛ نو څنګه جسارت کوو چي د قرآن د وينا خلاف رأی او تفسير منو؟ ولې نه وايو چي انسان زمکنی مخلوق دئ، همدلته او له خاوري ئې پيدا شوی، همدلته ستر شوی، ژوند ئې کړی او په مرګ محکوم شوی، له همدې به بېرته راژوندی کېږي، محاسبه به ئې همدلته وي او جنت او دوزخ هم همدلته؛ دا هغه څه دي چي قرآن ويلي؛ نو د معراج سفر به ئې هم په زمکه کې وي؛ که دا په ويښه وي يا په خوب کې؛ د موسی عليه السلام معراج د طور په لمني کې وو، د رسول الله صلی الله عليه و سلم معراج په رؤيا کې او د هر مؤمن معراج د ده لمونځ او حج. تفصيل ئې په سلفي شم که مذهبي پاته شم کتاب- دوهم جلد کې تر دې عنوان لاندي (معراج او حقيقت ئې) لوستلی شئ.

## مرض له يوه بل ته سرايت كوي كه نه؟

دا هم يوه بله لانجمنه اختلافي مسئله ده چي عامل ئې متعارض روايات دي؛ ځيني باور لري چي مرض له يوه بل ته سرايت نه كوي؛ وجه ئې هغه ضعيف روايات دي چي همدا خبره كوي؛ په مقابل كې ئې ځيني نور په دې باور دي چي ساري امراض شته او ځان ترې ساتل واجب دي؛ دواړه لوري په ځانګړو رواياتو استناد كوي. سلفيان هم له هغي ډلي دي چي د ساري مرضونو په عدم سرايت باور لري؛ مُستَمسَك ئې د بخاري ځيني روايات دي؛ كه څه هم د بخاري روايات متعارض دي؛ له ځينو ئې د امراضو عدم سرايت او له ځينو له ساري امراضو ځان ساتنه معلومېږي؛ خو سلفيانو يوازي هغه روايات ترې غوره كړي او منلي چي د امراضو عدم سرايت ترې معلومېږي؛ راشئ وګورو چي د كومي ډلي رأى سمه او روايات ئې موثق او د اعتبار وړ دي. د بخاري روايات دا دي:

عن أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ عَدْوَى وَلاَ صَفَرَ وَلاَ هَامَةَ» فَقَالَ أَعْرَابِىٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! فَمَا بَالُ إِبِلِى، تَكُونُ فِى الرَّمْلِ كَأَنَّهَا الظِّبَاءُ، فَيَأْتِى البَعِيرُ الأَجْرَبُ فَيَدْخُلُ بَيْنَهَا فَيُجْرِبُهَا؟ فَقَالَ: «فَمَنْ أَعْدَى الأَوَّلَ؟» رَوَاهُ الزُّهْرِىُّ صحيح البخارى

له أبو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نه عدوى (له يوه بل ته د مرض سرايت) شته، نه هامة (د شپې مرغه يا كونګ سپېره ګڼل) شته او نه صفر (د نس ناځاپي درد سپېره او سبب ئې كوم وهمي چنجى يا مار ګڼل) شته؛ يو صحرائي عرب پاڅېد او وئې ويل: يا رسول الله! نو زما د اوښانو ولي دا حال وي چي په شګلني صحراء كي به داسي ځغلي لكه غرڅه؛ خو ناځاپي به اجرب (پمن) اوښ ورته راشي (اجرب د اوښانو په يو ډول بېمارۍ اخته)؛ او په دوى كي به داخل شي او ټول به بېمار كړي. رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نو دا لومړى چا بېمار كړ؟

عن أَبِى هُرِيرَةَ قالَ: قالَ رسولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ عَدْوَى، وَلاَ

طِيَرَةَ، وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ". بخارى
له أبو هريره روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نه عدوى شته، نه هامه او نه صفر؛ او له مجذوم داسي تښته لکه چي له زمري تښتې.

او په بل روايت کې داسي راغلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا عَدْوَى، وَلَا هَامَةَ، وَلَا صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ الْمَجْذُومِ فِرَارَكَ مِنَ الْأَسَدِ "، أَوْ قَالَ: " مِنَ الْأُسُودِ " أَخْرَجَهُ الْبُخَارِيُّ فِي الصَّحِيحِ؛ السنن الكبرى للبيهقى
له ابوهريره رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: نه عدوى شته، نه هامه او نه صفر؛ او له مجذوم داسي تښته لکه له زمري ستا تېښته او يا ئې وويل: "له زمريو"

دا روايت داسي دئ چي لومړۍ برخه ئې له وروستۍ برخي سره تناقض لري؛ لومړۍ ئې وايي: له يوه بل ته د مرضونو سرايت او انتقال نشته؛ اما وروستۍ برخه ئې وايي: له مجذوم (په جذام اخته بېمار) داسي تښته لکه چي له زمري تښتې. دا تېښته ښيي چي د مرضونو انتقال شته.

د دې رواياتو په مقابل کې د بخاري لاندي دوه روايات چي له مخکينيو سره تعارض لري؛ تأکيد کوي چي په بيمارۍ اخته دي په روغو کې نه ننيستل کېږي.

وعَن أَبِي سَلَمةَ سَمعَ أَبا هُرَيْرَةَ بَعْدُ يقُولُ: قالَ النبيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ". (وفي روايةٍ: "لَا تُورِدُوا الْمُمْرِضَ عَلَى الْمُصِحِّ"). وَأَنْكَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ حَدِيثَ الأَوَّلِ، قُلْنَا: أَلَمْ تُحَدِّثْ أَنَّهُ لَا عَدْوَى؟ فَرَطَنَ بِالْحَبَشِيَّةِ. قَالَ أَبُو سَلَمَةَ: فَمَا رَأَيْتُهُ نَسِيَ حَدِيثًا غَيْرَهُ.
بخارى
له أَبو سَلَمة روايت دئ چي له ابو هريره ئې اورېدلي چي وروسته ئې ويل: رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: د بيمارو پالونکی دي بېماران د

روغو منځ ته نه ننباسي؛ په بل روايت کې داسي راغلي: بيمار د روغ منځ ته مه ننباسئ؛ او ابو هريره له لومړي حديث انکار وکړ؛ ومو ويل: آيا تا نه وو ويلي چي له يوه بل ته د مرض سرايت نشته؟ په غير واضح خبرو سر شو؛ (له ډېري غوصي ئې داسي څه وويل چي څوك نه پرې پوهېدو)؛ أبو سلمه وويل: ابو هريره مي تر دې وړاندي نه دئ ليدلی چي له دې پرته ئې بل حديث هېر کړی وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يُورِدُ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ». قَالَ: فَرَاجَعَهُ الرَّجُلُ، فَقَالَ: أَلَيْسَ قَدْ حَدَّثْتَنَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا عَدْوَى، وَلَا صَفَرَ، وَلَا هَامَةَ»؟ قَالَ: لَمْ أُحَدِّثْكُمُوهُ. قَالَ الزُّهْرِيُّ: قَالَ لِي أَبُو سَلَمَةَ: قَدْ حَدَّثَ بِهِ، وَمَا سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نَسِيَ حَدِيثًا غَيْرَهُ. أَخْرَجَهُ الْبُخَارِيُّ فِي «الصَّحِيحِ» مِنْ وَجْهٍ آخَرَ، عَنْ مَعْمَرٍ، بِمَعْنَاهُ.

له أبو هريره رضي الله عنه روايت دئ چي له رسول الله صلی الله عليه و سلم مي واورېدل چي وئې فرمايل: د بيمارو پالونکی دي بېماران د روغو منځ ته نه دننه کوي، وايي يوه سړي خبره وروگرځوله او وئې ويل: آيا تا موږ ته نه وو ويلي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: نه عدوی شته، نه صفر او نه هامة؟ ابو هريره وويل: دا حديث مي تاسو ته نه دئ ويلی؛ زهري وايي چي ابوسلمة راته وويل: يقيناً چي ده دا حديث ويلی او ما نه دي اورېدلي چي ابو هريره دي له دې پرته بل حديث هېر کړی وي.

دا مطلب په نورو رواياتو کې هم راغلی او دا نتيجه ترې اخيستل شوې چي ابو هريره رضي الله عنه دا ادعاء نه ده منلې چي ده د (لا عدوی) حديث ويلی؛ تر پايه په بل حديث "لا يُورِدُ مُمرِضٌ على مُصِحٍّ" ثابت پاته شوی.

آيا عجيبه نه ده چي د روايت اصلي راوي؛ ابوهريره؛ وايي: ما دا خبره نه ده کړې؛ او سخت غصه کېږي چي څوك دا خبره ده ته منسوبوي؛ اما بل راپاځي او ټينگار کوي چي نه؛ تا اشتباه کړې او خپله خبره دي هېره کړې؟!

په دې دواړو کې به اصولاً د چا خبره منو؛ د اصلي راوي که د اورېدونکي مدعي؟! د عقل او شریعت حکم دا دئ چې د راوي وینا معتبره وګڼل شي نه د مدعي؛ حتی که احیاناً راوي داسي خبره کړې هم وي؛ زړه خبره ئې اعتبار نه لري دوهمه ئې باید معتبره وګڼل شي. ولې باید یو محدث؛ راوي ته داسي خبره په زور منسوب کړي چې دی ترې انکار کوي او په مقابل کې خپله بله او د هغي خلاف وینا سمه ګڼي؟!

په بخاري کې دغه روایات سره له دې ټولو ستونزو؛ په مکرره توګه دولس ځله په دغو شمېرو تکراراً راغلي: ۵۷۰۷، ۵۷۱۷، ۵۷۵۳، ۵۷۵٦، ۵۷۵۷، ۵۷۷۰، ۵۷۷۱، ۵۷۷۲، ۵۷۷۳، ۵۷۷٤، ۵۷۷۵، ۵۷۷٦؛ لکه چې ګورئ؛ بخاري دوه روایتونه؛ سره له ډېرو توپیرونو او تعارضاتو؛ ۱۲ ځله په مکرره توګه راوړي؛ توپیرونه او تعارضات ئې دومره چې نه یوازي په خپله ابو هریره ترې انکار کړی؛ بلکې دې انتساب دومره غصه کړی او داسي څه ئې د غُصې له کبله له ځان سره ویلي چې په خبري ئې څوك نه پوهېدو؛ ده ته ویل شوي: تا تر نن وړاندي ویلي وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: «لاَ عَدْوَى»: له یوه بل ته د مرض سرایت نشته!! خو اوس وایې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: «لاَ يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ»: د بیمارو پالونکی دې بېماران د روغو منځ ته نه دننه کوي. ده نه یوازي د مخکیني حدیث له ویلو انکار کړی بلکې په دې خبري سخت غصه شوی چې داسي روایت ئې ده ته منسوب کړی!!

رسول الله صلی الله علیه و سلم به یا دا ویلي وي چې عدوی (له یوه بل ته د مرض سرایت نشته) او یا دا چې له جذامي بېمار داسي تښته لکه چې له زمري تښتې او طاعون ځپلې سیمي ته مه ننوځئ او مه ترې وځئ؛ دواړه هممهاله پیغمبر علیه السلام ته منسوبول؛ هم جسارت دئ او هم جهالت؛ او خپل پیغمبر ته د متضاد او متعارضو ویناوو منسوبول دي!! کله چې ګورو دین، قرآن او حدیث ته دوه متضادي خبري منسوب شوې دي، د دې په وړاندي باید غصه وشیو؛ ځکه دا یو تور او اتهام دئ؛ د هر دین، مذهب او مفکوري لوی عیب دا دئ چې په هغه کي متعارضي خبري وي، قرآن وایي: که دا کتاب (قرآن) له الله تعالی پرته د بل چا له لوري وی نو حتماً به په هغه کي ډېر اختلاف لیدل کېدی؛ په قرآن کي داسي اختلاف

نشته، په کوم کتاب کې چې اختلاف وی نو معنی ئې دا ده چې د الله تعالی له لوري نه دئ راغلی، قرآن موږ ته همدا وايي؛ پیغمبر علیه السلام د رسالت په ۲۳ کلونو کې متعارضې خبرې نه دي کړې، یوه خبره ئې هم د بلې ضد نه وه؛ او که چېرې تاسو داسې څه ومونډل چې د یوې قضیې په اړه دوه متضادې ویناوې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته منسوبوي؛ نو پوه شي چې یا به دواړه ویناوې دروغ وي او یا ئې یوه؛ د پیغمبر علیه السلام شأن له دې ډېر لوړ دئ چې په ویناوو کې ئې تضاد او تناقض وي.

د صحابه وو یوه لوی لښکر د عمر رضي الله عنه په شمول؛ په دې اجماع کړې چې عدوی (له یوه بل ته د مرض سرایت) شته نو ځکه ئې عملاً شام ته له ننوتلو ډډه وکړه، شام قرنطین شو او هستوګنو ئې له وتلو ډډه وکړه.

په همدې ارتباط په بخاري کې یو شمېر نور متعارض روایات راغلي؛ تفصیلات ئې د سلفي شم که مذهبي پاته شم کتاب په دوهم جلد کې تر همدې عنوان لاندې لوستلی شئ.

## آیا مړي په قبرونو کې څه اوري او احساس او تحرك لري؟

په دې اړه د قرآن وینا ډېره صریح او پرېکنده ده چې مړي نه په قبر کې څه اوري، نه کوم تحرك او احساس لري، نه تر قیامت وړاندې راژوندې کېږي؛ ژوندون ئې هم یوازې دوه ځله دئ؛ د دنیا ژوند او بیا د آخرت ژوند او مرګ ئې هم دوه ځله دئ؛ تر پیدایښت وړاندې مرګ او د ژوند په پای کې مرګ؛ لکه چې فرمايي:

قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثۡنَتَيۡنِ وَأَحۡيَيۡتَنَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَٱعۡتَرَفۡنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلۡ إِلَىٰ خُرُوجٖ مِّن سَبِيلٖ ﴿١١﴾ غافر

وايي به (کافران): اې زموږ ربه! دوه ځلې دې مړه کړو او دوه ځلې دې ژوندي کړو؛ نو پر خپلو ګناهونو مو اعتراف وکړ، نو آیا د وتلو لوري ته کومه لار شته؟

یعني دوزخیان به هغه مهال چې د خپل کفر او انکار بدې پایلې په خپلو سترګو وګوري نو وائي به: آیا کېدی شي بېرته دنیا ته ستانه شو او خپله ماضي جبران کړو؟ دوه ځلې مړینه او دوه ځلې ژوند یعني دا چې مړه توکي وو تا

ژوند راکړ، بيا ستا په حکم مړه شوو او د قيامت په ورځ دې بېرته راژوندي کړو، موږ په دنيا کې له دې دوهم ژوندون انکار کولو او هغه مو محال ګڼلو، اوس مو په خپلو سترګو وليد، پر خپلې مخکينۍ غلطي اعتراف کوو، پر دوهم ژوند عدم باور د ګناهونو د ارتکاب جسارت راکړی وو، پر خپلو ګناهونو معترف يو، آيا له دوزخ د وتلو کومه لار شته؟ هر څه کولو ته تيار يو او د هرې خبرې منلو ته چمتو؛ په ځواب کې به ورته وويل شي: له دې برخليك سره ځکه مخامخ شوئ چې تاسو په دنيا کې د يوې سترې او څرګندې خبرې منلو ته چمتو نه وئ؛ د دې آيت وينا ډېره پرېکنده او څرګنده ده او د هغو ادعاء ردوي چې په قبر کې د بيا بيا مرګ او ژوند خبره او ادعاء کوي؛ په داسې حال کې چې دا آيت وايي: کافران به پخپله اعتراف کوي چې له لومړۍ مړينې وروسته فقط د قيامت په ورځ بيا راژوندي شوي يو؛ همدا راز د قرآن له دغو آيتونو په واضح توګه معلومېږي چې مړي نه څه اوري او نه کوم غږ لري:

وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ مِنْهُمْ مِنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾ مريم

او څومره پېړۍ پېړۍ (خلك) مو تر دوی وړاندې هلاك کړل؛ آيا د دوی د کوم يوه (څه نښه) احساسوې او کوم ګونګسی او زګېروی ئې اورې؟

يعنې مړي نه څه تحرك لري او نه کوم زګېروی؛ نه ئې څوك تحرك ليدی شي او نه ئې زګېروی اورېدی شي. ژوي حرکت او غږ لري؛ اما مړی له دواړو محروم.

فَإِنَّكَ لا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ الروم

يقيناً چې ته نه مړو ته اورول کولی شې او نه کڼو ته هغه مهال بلنه اورولی شې چې مخ واړوي؛ په داسې حال کې چې تر شا کېدونکې وي.

همدا آيت د النمل سوره کې بيا راغلی.

إِنَّكَ لا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٨٠﴾ النمل

په دې آيتونو کې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته ويل شوي چې ته نه شې کولی مړو ته کومه خبره واوروې، همداراز هغو کڼو ته هم خپله بلنه

نه شې اوروړلی چې تا ته شا کړي او درنه روان شي.

آیا ډېره عجیبه نه ده چې د داسې څرګندو آیتونو له لیدو سره سره څوک هغه رأی او روایت مني چې مړي ته په قبر کې بیا راژوندي کېدا او اورېدا منسوبوي؟! آیا ممکنه ده چې الله تعالی یو څه ویلي وي او پیغمبر ئې بل څه او د الله تعالی د وینا خلاف خبره؟! آیا ایمان چا ته دا اجازه ورکوي چې څوك رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسې خبره منسوب کړي چې د قرآن خلاف وي؛ او هغه ئې ورسره ومني؟ که چا داسې غلطه خبره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته عمداً او قصداً منسوب کړه؛ نو له شك پرته ئې ځای جهنم دئ او که اشتباهاً ئې وکړي نو باید ژر توبه وکړي او خپله غلطه خبره او تور بېرته واخلي؛ او که څوك په سفاهت سره کوم شخص؛ مړ یا ژوندی؛ د تقدس او سپېڅلتیا داسې مقام ته لوړوي چې د قرآن او رسول الله صلی الله علیه و سلم خلاف خبره ئې هم مني؛ نو په داسې عقل او ایمان باید اوښکې توی کړو!!

که څه هم دلته له مړو، کڼو او ړندو هغه کافران مراد دي چې د تعقل، تدبر او تفکر استعدادونه ئې ځپل شوي او د ایمان راوړو له سعادت او توفیق محروم شوي؛ خو په ضمن کې دا مطلب موږ ته واضح کوي چې مړي څه نه اوري، نه یوازې دا چې څه نه اوري بلکې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په څېر یو پیغمبر هم نه شي کولی مړي ته کومه خبره واوروي، کوڼ او ړوند ته هم څوك په خارق العاده توګه نه څه اوروړلی شي او نه ئې لارښوونه کولی شي. قرآن کافر له مړي سره تشبیه کړی؛ د صحنو له لیدلو پند او عبرت نه اخلي او په دې کې کاڼه او ړانده ته ورته دئ، یعنې لکه چې مړی څه نه اوري او ته نشې کولی هغه ته څه واوروې؛ همداسې هغه کافر او مشرك ته هم څه اوروړلی نشې چې د اورېدو استعداد ئې د مړي په څېر ځپل شوی. قرآن ایمان له ژوند سره تشبیه کړی او مؤمن ئې له ژوندي سره؛ یعنې حواس او مشاعر ئې روغ او سالم دي، سترګې، غوږونه، زړه او دماغ ئې سم کار کوي او هر څه ئې روغ وي؛ اما کافر د مړو په څېر؛ احساسات، جذبات، عقل، فکر او شعور ئې ناروغ او ځپل شوي، لکه د مړي په څېر.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي چې د هغو روایاتو په اړه به څه کوو چې وینا ئې د دې صریح او څرګند آیت خلاف ده او د مړو د اورېدو خبره کوي؟! د

دې پوښتني ځواب دا دئ: د يوه روايت د صحت لپاره تر ټولو مهم او لومړی شرط دا دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري، هغه روايت د اعتبار وړ نه دئ چي وينا ئې د قرآن خلاف وي، دا نه يوازي پر قرآن د ايمان تقاضی ده بلکي ټول محدثين، فقهاء او علماء پر دې خبري متفق دي. کوم روايات چي د دې آيت خلاف خبره کوي هغه نه د سند له پلوه د دې وړ دي چي اعتبار ورکړی شي او نه د متن له پلوه، د دغو رواياتو په مقابل کي ګڼ شمېر داسي روايات شته چي هم ئې وينا د دغه آيت مطابق ده او هم د دغو رواياتو ترديد کوي. عائشه رضی الله عنها د قرآن پر دغه او دې ته ورته آيتونو استناد کوي او د هغه چا وينا ردوي چي د مړو د اورېدو ادعاء کوي.

## هغه ائمه او محدثين چي پر صحيح بخاري ئې نقدونه کړي

ښاغليه! تا او ستا هر هممذهبه؛ د بخاري په اړه دا ناسمه او له مبالغې ډکه ادعاء کړې چي د بخاري په صحت او غوره والي ټول امت او تولو علماءو اجماع کړې؛ راشه حقيقت په خپلو سترګو وګوره او په دې ځان پوه کړه چي غلط شوی يې او د غرضي تبليغاتو تر تأثير لاندي تللی يې؛ دلته له سلګونو محققينو او محدثينو يوازي د څو معروفو شخصيتونو نومونه يادوم چي ځينو ئې پر بخاري د نقد او اعتراض ضخيم کتابونه ليکلي؛ د امت له لسګونو مشهورو شخصيتونو؛ ائمه وو، محققينو، محدثينو او علماءو؛ د امام بخاري د استادانو په شمول؛ چي د بخاري پر ځينو رواياتو د سند او متن له پلوه اعتراضونه لري او ځينو ئې ضخيم کتابونه پرې ليکلي؛ دا دي:

۱- امام دارقطني؛ چي په «أمير المؤمنين في الحديث» ملقب او مشهور دئ؛ د صحيح بخاري د نقد په اړه ئې درې پنډ او ضخيم کتابونه ليکلي دي: «التتبع»، «بيان أحاديث أودعها البخاري رحمه الله في كتابه الصحيح» او «العلل الواردة في الأحاديث النبوية»؛ ابن حجر عسقلاني په دې اړه وايي: (امام دارقطني؛ د بخاري ۲۱۰ روايتونه معلول بللي دي)؛ خو ما د تحقيق په بهير کي وموندله چي د بخاري د معلولو رواياتو شمېر؛ تر دې شمېر څو برابره زيات دئ. ما په حکمة الباریٔ کي د بخاري نږدې ۵۰۰۰ روايات څېړلي؛ نه د نقد په موخه بلکي د تحقيق او تشريح په موخه؛ دا راته جوته شوې چي د بخاري د معلولو رواياتو د شمېر په اړه د ابن حجر عسقلاني وينا نه يوازي

صحیح ده بلکې داسې څرګند حقیقت دئ چې د بخاري هر هوښیار او حقپال لوستونکی پرې پوهېدی شي. د امام دارقطني د شخصیت په اړه؛ خطیب بغدادي په خپل مشهور کتاب «تاریخ بغداد» کې لیکلي دي:

قَالَ فِيهِ الْخَطِيبُ الْبَغْدَادِيُّ فِي «تَارِيخِ بَغْدَادَ»: كَانَ فَرِيدَ عَصْرِهِ، وَقَرِيعَ دَهْرِهِ، وَنَسِيجَ وَحْدِهِ، وَإِمَامَ وَقْتِهِ، انْتَهَى إِلَيْهِ عِلْمُ الْأَثَرِ، وَالْمَعْرِفَةُ بِعِلَلِ الْحَدِيثِ، وَأَسْمَاءِ الرِّجَالِ، وَأَحْوَالِ الرُّوَاةِ، مَعَ الصِّدْقِ وَالْأَمَانَةِ وَالثِّقَةِ وَالْعَدَالَةِ.

هغه د خپلې زمانې بې‌ساری، د خپل دوران مخکښ، داسې شخص چې مثال ئې نه وو، د خپل وخت امام وو؛ د روایاتو علم او د روایاتو د ضعفونو او عیبونو، د رجال د نومونو او د راویانو د حالاتو پېژندنه پر ده بشپړه شوې وه؛ او له دې سره سره؛ رښتینی، امین، د باور وړ او عادل وو.

۲- امام محمد بن یحیی الذهلي؛ د امام بخاري استاد؛ چې له ده سره ئې اختلاف هغه ځای ته ورسېدو چې د نیشاپور خلکو ته ئې وویل: نور بخاري ته مه ورځئ او د هغه د درس په حلقه کې مه کښېنئ؛ د نیشاپور خلکو هم؛ چې دی ئې خپل امام منلی وو؛ له بخاري سره پرېکون وکړ؛ د اختلاف لامل هم د قرآن د خلق او عدم خلق فتنه وه چې د دغو دوو محترمو شخصیتونو لمن ئې هم ونیوله؛ تر دې چې امام بخاري د خپل استاد امام ذهلي له لوري د نیشاپور پرېښودو ته اړ شو.

۳- أبو زرعة الرازي؛ چې مشهور محقق ذهبي په خپل معروف کتاب «سیر أعلام النبلاء» کې د هغه د شخصیت په اړه لیکلي دي: امام؛ د حفاظو سردار او ستر محدث وو.

۴- مشهور محقق امام نووي؛ د صحیح مسلم شارح.

۵- ابن حجر عسقلاني؛ نامتو محدث، فقیه او مؤرخ.

۶- أبو بکر الباقلاني؛ چې د خپل وخت له سترو او مشهورو علماءو وو؛ په «شیخ السنة» او «لسان الأمة» ملقب؛ د اشعري او مالکي مذهب مشر او د څلورمې پېړۍ مجدد بلل شوی او نومول شوی دئ.

۷- الکمال بن الهمام؛ د مشهور کتاب «فتح القدیر» مؤلف؛ چې په تفسیر،

فقه او نورو مروجو علومو کي؛ د خلکو امام او پيشوا بلل کېدو: (كان إمامًا في الأصول والتفسير والفقه والفرائض والحساب والتصوف والنحو والصرف والمعاني والبيان والبديع والمنطق): په اصولو، تفسير، فقه، فرائضو، حساب، تصوف، نحو، صرف، معاني، بيان، بديع او منطق کي امام وو.

٨- ابن برهان؛ د «الوصول إلى الأصول» کتاب مؤلف؛ د خپل عصر مشهور او محبوب عالم؛ په همدې کتاب کي ئې د بخاري په اړه د خپلو اعتراضونو په ترڅ کي ليکلي دي: د آحادو روايتونه (خبر واحد)؛ د يقيني او له شک خالي علم لپاره کافي نه دي؛ د ځينو اهل حديثو د رأى خلاف؛ چي ګمان ئې کړی هغه څه چي مسلم او بخاري روايت کړي؛ صحت ئې قطعي دئ:

خَبَرُ الْوَاحِدِ لَا يُفِيدُ الْعِلْمَ؛ خِلَافًا لِبَعْضِ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ، فَإِنَّهُمْ زَعَمُوا أَنَّ مَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَالْبُخَارِيُّ مَقْطُوعٌ بِصِحَّتِهِ. الْوُصُولُ إِلَى الْأُصُولِ، الْجُزْءُ الثَّانِي.

خبرِ واحد يقيني علم نه افاده کوي؛ د ځينو اهل حديث د رأى خلاف؛ څکه هغوی ګمان کړی چي څه مسلم او بخاري روايت کړي؛ صحت ئې قطعي او پرېکنده دئ. «الوصول إلى الأصول»، دوهم جزء.

٩- تاج الدين السبکي؛ د شافعي مذهب منلی فقيه؛ عرب مؤرخ او د دمشق قاضي القضات؛ چي فصيح ژبه او د قوي دلائلو د وړاندي کولو توان او استعداد ئې درلود: (فقيه شافعي، مؤرخ عربي وقاضي القضاة في دمشق؛ كان طلق اللسان، قوي الحجة).

١٠- بدر الدين الزرکشي؛ د ډېرو کتابونو مؤلف؛ چي تر ټولو مشهور ئې «البرهان في علوم القرآن»، «البحر المحيط في أصول الفقه» او «التذكرة في الأحاديث المشتهرة» دي.

١١- محيي الدين الکافيجي؛ چي اصلي نوم ئې محمد بن سليمان وو؛ د مشهور عالم سيوطي استاد؛ او مشهور کتاب ئې «التيسير في قواعد علم التفسير» دئ.

دا د هغو لسګونو مشهورو علماءو او محققينو له ډلي يو شمېر دي چي له بخاري سره موافق نه دي، د هغه پر ډېرو زياتو يا ځينو رواياتو اعتراضونه لري او په دې اړه ئې کتابونه ليکلي دي. حتى ابن تيميه رحمه

الله د بخاري دا روايت ردوي:

**لاَ يَزَالُ يُلْقَى فِيهَا وَتَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ، حَتَّى يَضَعَ فِيهَا رَبُّ العَالَمِينَ قَدَمَهُ.**

په پرله پسې توګه به په دوزخ کي اچول کېږي او دوزخ به وايي: آيا نور هم شته؟ تر هغه چي رب العالمين خپل قدم په هغه کي کښېږدي.

**اِبْنُ تَيْمِيَّةَ؛ يَقُولُ فِي كِتَابِهِ «مَجْمُوعِ الْفَتَاوَى»، الْجُزْءِ الثَّالِثَ عَشَرَ: «إِنَّ مَا وَقَعَ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْبُخَارِيّ: أَنَّ النَّارَ لَا تَمْتَلِئُ حَتَّى يُنْشِئَ اللَّهُ لَهَا خَلْقًا آخَرَ، مِمَّا وَقَعَ فِيهِ الْغَلَطُ، وَهَذَا كَثِيرٌ».**

ابن تيميه د خپل کتاب «مجموع الفتاوى» په ديارلسم جزء کي وايي: هغه څه چي د بخاري په ځينو طرقو او رواياتو کي راغلي چي: «دوزخ تر هغه نه ډکېږي چي الله ورته نور مخلوق پيدا کړي»؛ له هغو مواردو دي چي غلطي په کي شوې؛ او دا ډېر دي.

د ابن تيميه پلويانو او اهل حديث ته وايو: که د بخاري په اړه د حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي مشهورو ائمه وو، علماءو او محققينو قضاوتونه او اعتراضونه نه منئ؛ د ابن تيميه د اعتراضونو په اړه د ويلو لپاره څه لرئ؟!

او آيا د قرآن دا صريح او محکم آيت کله ستاسو تر نظر تېر شوی چي د بخاري دا غريب روايت ورسره په ښکاره تعارض کي دئ؛ او الله تعالى شيطان ته په خطاب کي فرمايلي دي:

**قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَدْحُورًا لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٨﴾ الأعراف**

وئې فرمايل: له دې (جنت) ووځه؛ رټل شوی او شړل شوی؛ له دوی چي څوک ستا متابعت وکړي؛ خامخا به دوزخ له تاسو ټولو ډک کړم.

يعني الله تعالى به جهنم حتماً او يوازي د شيطان له دوو ډلو پلويانو (انسانانو او پېريانو)؛ ډکوي؛ نه له کوم بل شي او مخلوق. آيا د قرآن د دې قاطع او صريح آيت په شتون کي؛ دې روايت ته د منلو کوم مجال پاته

کېږي چې: «دوزخ تر هغه نه ډکېږي چې الله تعالی خپل قدم ورباندې کښېږدي»؟! او جنت هم تر هغه نه ډکېږي چې الله تعالی ورته بل مخلوق پیدا کړي!! او ولې به الله تعالی د جنت او دوزخ د ډکولو لپاره بل مخلوق پيدا کوي؟ جنت او دوزخ خو د مکافات او مجازات ځایونه دي؛ نه د حتمي ډکولو ځایونه.

آیا همدا یو غریب او له قرآن سره متعارض روایت کافي نه دئ چې مؤمن او عاقل انسان؛ د بخاري په اړه له مبالغو ډډه وکړي؟! او تر دې عجیبه لا دا چې د همدې معلول روایت له مخې ادعاء کوي چې الله تعالی ته د «قدم» صفت ثابتېږي!! له شک پرته؛ دواړه ادعاوې؛ الله تعالی ته د «قدم» په نامه د یوه غړي منسوبول او د دوزخ او جنت د ډکولو لپاره د نوي مخلوق پيدا کېدل؛ د قرآن د صریحو لارښوونو خلاف دي!! هغه الله تعالی چې قرآن موږ ته معرفي کړی او د پېژندو لپاره ئې له قرآن پرته بله مرجع او لارښود نه مومو؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم هم د قرآن له مخې پېژندلی او موږ هم؛ هغه په هیڅ څه او صفت کې مخلوق ته ورته نه دئ؛ نه مکان لري، نه د زمان تابع دئ، نه اعضاء او جوارح لري، نه د ناستې تخت ته ضرورت لري او نه له یوه ځای بل ځای ته تګ او تغییر مکان ته؛ هغه موسی علیه السلام تر دوه ځله زیات په همدې زمکې کې خپل حضور ته منلی؛ تر اُوَم آسمان پورته ئې نه دئ بیولی. څوك چې انګېري یا وایي: الله تعالی د عرش په نامه د ناستې مکان لري؛ د ادعاء معنی ئې دا ده چې عرش ازلي او ابدي دئ او تر الله ستر دئ؛ دا دواړه خبرې په بشپړه توګه غلطې دي؛ څوك چې وایي: الله تعالی د شپې په پای کې له اوم آسمان د زمکې آسمان ته راکوزېږي؛ د دې غلطې ادعاء معنی دا ده چې دا کائنات تر الله تعالی ډېر ستر او فراخ دئ؛ په داسې حال کې چې قرآن فرمایي:

يَوْمَ نَطْوِى ٱلسَّمَآءَ كَطَىِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ ﴿١٠٤﴾ الأنبياء

هغه ورځ چې آسمان به داسي راونغاړو لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل، لکه چې لومړی پيدايښت مو پيل کړ بيا به ئې اعاده کړو، دا زموږ پر ذمه يوه ژمنه ده، يقيناً چې موږ ئې کوونکي يو.

د دې مبارك آيت مهمي لارښووني دا دي:

- الله تعالی به د قيامت په ورځ آسمان داسي راونغاړي لکه د ليکل شوو پاڼو نغاړل.
- بيا به الله تعالی د لومړي پيدايښت په څېر يو ځل بيا نوی آسمان او نوې زمکه پيدا کړي.
- الله تعالی دا په خپله ذمه اخيستې ده چې قيامت به راولي، د عالَم دا خور ټغر به ټولوي او نوی عالَم به پيدا کوي، دا د ده قطعي ژمنه ده، هرومرو به ئې تر سره کوي.

دې ته مو پام وي چې دلته د آسمانونو رانغاړل د ليکل شوو پاڼو له رانغاړلو سره تشبيه شوي، په سطحي نظر سره خو دا تشبيه داسي برېښي لکه چې د خور آسمان ټغر به ټول شي او له منځه به ولاړ شي؛ خو د قرآن په دغي تشبيه کي يو ستر علمي اعجاز مضمر دئ؛ او هغه داسي: زموږ شمسي نظام او اړوند ستوري ئې يوې داسي دائرې (يا ډيسك) ته ورته دي چې لمر ئې په منځ کي او ستوري ئې پر شاوخوا په يوې آواري سطحي کي خوځي، بيا زموږ شمسي نظام په مجموع کي د يوه بل محور شاوخوا همداسي خوځي، زموږ اړوند ستورليکی همداسي جوړښت لري، ټول ستوري ئې په يوې سطحي کي پراته دي، د عالَم ټول ستورليکي دې ته ورته هيئت لري، يعني په ډېري پراخي مستوی کي په يوې سطحي کي خوځي، نه زموږ شمسي نظام د توپ په څېر گرد دئ او نه زموږ ستورليکی او نه د عالَم ټول ستورليکي په گډه، د دوی لپاره تر ټولو دقيقه او غوره تشبيه همدا ده چې له غوړېدلو پاڼو سره تشبيه شي؛ او رانغاړل ئې د پاڼې له رانغاړلو سره.

نو جنابانو! الله تعالی له مخلوق سره مه تشبيه کوئ؛ نه په ټول پراخ عالَم کي کوم څه الله تعالی ته ورته دئ او نه الله تعالی د عالَم کوم څه ته ورته؛ نه په ذات کي او نه په صفاتو کي؛ لکه چې قرآن فرمايي: لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ : ده ته ورته هيڅ څه نشته.

او آيا سره له دې چې دومره ستر، مشهور، نامتو، منل شوي شخصيتونه، امامان او فقهاء پر بخاري اعتراضونه لري او په دې اړه ئې پنډ او ضخيم کتابونه ليکلي دي؛ بيا هم د صحيح بخاري د صحت په اړه د امت او ټولو علماءو د اجماع ادعاء او دا چې «د الله له کتاب وروسته تر ټولو زيات صحيح کتاب دئ»؛ مغالطه او مبالغه نه ده؟!

## آيا بخاري تر ټولو زيات صحيح کتاب دئ؟

خندونکې لا د يوه فېسبوکي مبلغ دا ادعاء ده چې ليکلي ئې وو: د امت ټولو علماءو او محدثينو؛ د امام نووي، ابن منده او أبو علي النيشاپوري په شمول؛ ويلي دي چې صحيح بخاري له كِتَابُ اللَّه (قرآن) وروسته تر ټولو زيات صحيح کتاب دئ!! خو ما د تحقيق په بهير کې نه يوازې د دې ادعاء لپاره کوم شاهد او سند ونه موندو؛ بلکې هغه مې په بشپړ ډول د حقيقت خلاف او معکوس وموندله؛ په داسې حال کې چې همدا امام نووي د شرح صحيح مسلم په مقدمه کې ليکلي دي:

"مَا تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ كِتَابٌ أَصَحُّ مِنْ كِتَابِ مُسْلِمٍ".

د آسمان تر پوښښ لاندې؛ د صحيح مسلم تر کتاب زيات صحيح کتاب نشته.

او همدا ابن منده او أبو علي النيشاپوري هم ورسره موافق دي او همدا ئې ويلي دي. د دوی ډېری ادعاءگانې همداسې جعلي او د حقيقت خلاف دي.

شوكاني د سنن ترمذي په ستاينه کې ليکلي دي:

يَقُولُ الشَّوْكَانِيُّ مُثْنِيًا عَلَى سُنَنِ التِّرْمِذِيِّ: «كِتَابُ التِّرْمِذِيِّ أَحْسَنُ الْكُتُبِ، وَأَكْثَرُهَا فَائِدَةً، وَأَحْكَمُهَا تَرْتِيبًا، وَأَقَلُّهَا تَكْرَارًا، وَفِيهِ مَا لَيْسَ فِي غَيْرِهِ مِنَ الْمَذَاهِبِ وَوُجُوهِ الِاسْتِدْلَالِ».

شوكاني د سنن ترمذي په ستاينه کې وايي: د ترمذي کتاب تر ټولو کتابونو غوره، تر ټولو زيات گټور، په ترتيب کې تر ټولو مضبوط او منظم او تر ټولو

لږ تکرار لرونکی دئ؛ او د مذاهبو او استدلال د وجوهاتو په اړه داسي څه په کي شته چي په نورو کي نشته.

امام مسلم؛ امام بخاري ته تر ټولو نژدې محدث؛ چي يوه موده ئې شاګرد هم وو؛ خو پر بخاري ئې اکتفاء ونه کړه او مستقل کتاب ئې وليکو. که ئې صحيح بخاري «أصحّ الکتب» (تر ټولو صحيح کتاب) ګڼلی؛ هيڅکله به ئې صحيح مسلم نه ليکلو؛ انسان هغه وخت د يوې موضوع په اړه نوې ليکنه کوي چي مخکينۍ ليکنه کافي او شافي ونه مومي.

امام مسلم يوازي په ۱۵۱۹ رواياتو کي له امام بخاري سره موافق دئ؛ چي محققينو هغه «متفق عليه» نومولي دي؛ يعني امام مسلم د بخاري له پاته نژدې ۶۰۰۰ مکررو او غير مکررو رواياتو سره توافق نه لري؛ د هغه عدم موافقت يا د سند په اړه دئ؛ يا د الفاظو او يا د محتواء په اړه.

ځيني روايات په صحيح بخاري کي مومو؛ خو په صحيح مسلم کي نه؛ او برعکس؛ هغه روايات چي بخاري راوړي؛ خو مسلم نه دي راوړي؛ ۴۱۴ دي؛ او دا ډول روايات په مسلم کي ۵۷۴ دي.

ټولو هغو محدثينو چي له امام بخاري وروسته ئې د حديث کتابونه ليکلي دي؛ د «مُسْنَد»، «سُنَن»، «جامع»، «مُصَنَّف» او نورو نومونو لاندي؛ صحيح بخاري ئې کافي نه دئ ګڼلی او د هغه له ځينو رواياتو سره موافق نه دي؛ له بخاري سره د دوی د عدم توافق اندازه د امام مسلم تر عدم توافق ډېره زياته ده؛ له همدې امله هر محدث پرېکړه کړې چي نوی کتاب وليکي؛ د دوی د کتابونو او صحيح بخاري تر منځ د عدم توافق اندازه؛ د صحيح مسلم او بخاري تر منځ د عدم توافق تر اندازې ډېره زياته ده.

دې ټکي ته هم بايد پام وکړو چي د «صحيح» نومونه؛ د محدثينو د پلويانو او حاميانو له لوري ورکړی شوي؛ نه د دوی له لوري؛ د هغوی تر وفات ډېره موده وروسته او په وروستيو نسلونو کي د دوی د پلويانو او

موافقانو له خوا په دې صفت ستايل شوي دي؛ او دا يوازې په شپږو كتابونو پورې محدود نه دي پاته شوي؛ بلكي د «صحيح ابن حبان» او «صحيح ابن خزيمه» په څېر كتابونه هم په دوی كي شامل دي؛ دا ټول نومونه او توصيفونه د افرادو او اشخاصو له لوري شوي؛ نه د داسي يوې ټولني او هيئت له خوا چي ټولو ته د منلو وړ او د ټول امت ممثل وي؛ هر چا د خپل ميل، خوښي، سليقې، فهم او مذهب له مخي؛ يو پر بل غوره گڼلی.

حقيقت دا دئ چي له قرآن پرته؛ د بل هر كتاب په اړه؛ د بشپړ صحت او د هغه پر صحت د امت د اجماع ادعاء؛ ناسمه او د ناپوهۍ، تعصب او افراطي ميني زېږنده؛ او د امت له عملي وضعيت سره په ټكر كي ادعاء ده؛ د امت عملي وضعيت داسي دئ چي شاوخوا ۷۰ سلنه امت احناف دي؛ له اندونيزيا، ماليزيا، بنگله دېش، هند، پاكستان او افغانستان ؛ تر ټولي منځنۍ آسيا، تركيې، عراق او د ايران تر سنيانو پوري؛ دا ټول؛ په ډېرو اعتقادي او عبادي برخو كي؛ د ځانځه په شمول؛ له امام بخاري سره موافق نه دي؛ او كه د نورو مذاهبو؛ شافعي، مالكي، حنبلي او اهل تشيع هم وشمېرو؛ په يقين او اطمينان سره ويلی شو چي نژدې ۹۶ سلنه امت د صحيح بخاري له ډېرو رواياتو سره موافق نه دي؛ په ځانگړې توگه د ځانځه د څرنگوالي اړوند رواياتو سره.

كه تاسو د دغو هېوادونو هر جومات ته ورشئ؛ عملاً به ووينئ چي نه په جهري لمونځونو كي د امام تر شا قرائت وينئ؛ نه آمين بالجهر، نه د ركوع په تكبيرونو كي رفع اليدين، نه په قيام كي پر سينه د لاسونو ايښودل او د پښو يوه له بلې لري ساتل، نه تر هر طاق ركعت وروسته لنډه ناسته....؛ په دغو ټولو مواردو كي پر هغو رواياتو عمل كوي چي امام بخاري په صحيح بخاري كي نه دي راوړي!!

روايت ځېلو تكفيريانو ته وايو: له ناوړه غلو او مبالغو لاس واخلئ؛ هم د خپل محبوب په اړه او هم د خپل معتوب په اړه؛ د خپلو فكري، مذهبي، اعتقادي او خُلقي مخالفينو په لوري په پټو سترگو غشي ويشتل پرېږدئ؛ راشئ د دې لپاره ملا وتړو چي د حديث په اړه د امت بشپړه اجماع رامنځته كړو؛ اجماع يعني دا چي په يوه حاضر مجلس كي ټول له يوې مسئلې سره د توافق په نښه خپل لاسونه پورته كړي او هېڅوك ورسره مخالف نه وي؛ او

که دوه درې تنه مخالف وي او د لاس له پورته کولو ډډه وکړي؛ دې ته شبه اجماع ويل کېږي.

موږ د حديث په اړه د امت د واقعي اجماع غوښتونکي يو؛ داسي چي د حديث ټول موجود کتابونه؛ واړه او لوی؛ چي شمېر ئې اوس ۴۳۵ ته رسېږي؛ په يوه جامع، صحيح او د ټول امت د منلو وړ کتاب کي يو ځای او توحيد شي؛ په داسي توگه چي په هغه کي هېڅ ضعيف، غريب، شاذ، له قرآن، علم او عقل سره متصادم او متعارض روايت نه وي؛ له تکراري رواياتو هم پاک وي او امت په ټوله نړۍ کي؛ د مصحف په څېر د حديث يو کتاب ولري.

دا هم هېر نه کړو چي په بخاري کي داسي روايات مومو چي نه يوازي غريب دي؛ بلکي له بخاري پرته ئې په بل هېڅ کتاب کي نه مومو؛ د دې ډول رواياتو ۴۱۴ داسي دي چي د امام بخاري شاگرد؛ امام مسلم هم په خپل کتاب؛ صحيح مسلم کي نه دي راوړي؛ دا ۴۱۴ شمېر؛ د صحيح بخاري د ټولو اصلي او غير تکراري رواياتو يو پر پنځمه برخه کېږي!! خو له بخاري سره د نورو محدثينو عدم توافق تر دې ډېر زيات دئ او د بخاري تر يو پر پنځمه ډېر روايات ئې په خپلو کتابونو کي نه دي راوړي.

تعجب کوو چي يو شمېر له حقائقو ناخبره، په تعصب او ړانده قضاوت کې تر ستوني غرق؛ چي نه ئې بخاري په سمه او دقيقه توگه لوستی، نه ئې نور کتابونه په دقت او اهتمام سره مطالعه کړي او نه ئې بخاري له هغوی سره مقايسه کړی؛ سره له دې؛ ناوړه مبالغه کوي او وايي: د امت ټولو محدثينو پر دې اجماع کړې چي د بخاري ټول روايات صحيح دي!! په داسي حال کي چي د داسي يوه محدث د نوم اخيستلو توان هم نه لري!!

متأسفانه ځيني هغه چي د عربي هېوادو د اهل حديث په مدرسو کې ئې سبقونه ويلي، د فراغت سند ورکړی شوی؛ د اړوند هېواد دارالافتاء؛ د مبلغينو په توگه استخدام کړي او خپلو هېوادو ته ئې لېږلي؛ په دې ئې گمارلي چي د اهل حديث د ډلي مذهبي افکارو او نظرياتو په گټه او د بخاري د ستايني او توصيف په ارتباط به تبليغات کوي او خلك به دې مذهب ته بلي؛ د خپلو فعاليتونو او تبليغاتو راپورونه به مسلسل او له هرو څو مياشتو وروسته لېږي؛ که نه نو معاش او اجوره به ئې قطع کېږي؛ هغوی ځان مجبور گڼي چي همداسي له مبالغو ډك او د حقيقت خلاف ليکني او د خپلو خطبو او

ويناوو ويډيوګاني دارالافتاء ته ولېږي؛ خپله روزي په همدې پوري تړلې ګڼي؛ دوی نه د قرآن په آيتونو قانع كولی شو او نه د بخاري د رواياتو د ستونزو په بيانونو سره؛ كه په دې اړه څه ليكو نو د نورو لپاره ئې بايد وليكو نه د دوی د هدايت او پوهاوي په موخه. همغسې چې قرآن فرمايي: (فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ) الاعلى: ۹: نو يادونه وكړه؛ كه يادونه ګټوره وه.

## د صحيح بخاري په اړه هغه پوښتني چې ځواب ئې نه مومو

ولې دا ډېر مهم، موثق او معتبر روايت؛ چې په صحابه وو کې تر ټولو زيات راويان لري؛ او له بخاري پرته د حديث ټولو كتابونو؛ د امام بخاري د استادانو او شاګردانو د كتابونو په شمول؛ راوړی دئ؛ او رسول الله عليه السلام په خپلې وروستۍ او تر ټولو مهمي خطبې؛ حجة الوداع كي ويلی؛ خو په بخاري كي ئې نه مومو؛ او هغه د رسول الله صلى الله عليه و سلم دا وينا:

«أَيُّهَا النَّاسُ! قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوا: كِتَابَ اللَّهِ».

اې خلكو! يقيناً ما ستاسو په منځ كي داسي څه پرېښود چې كه منګولي پرې ولګوئ؛ هېڅكله به لاروركي نه شئ: د الله كتاب.

دا په داسي حال کې چې دغه روايت؛ په همدغي بڼې کې؛ د امام بخاري ټولو استادانو او شاګردانو په خپلو كتابونو کې راوړی او همدا د قرآن له وينا سره بشپړ او سل سلنه مطابقت لري؛ ولې ئې په بخاري کې نه مومو؟ چا ئې په بخاري کې د راوړلو مخه نيولې؛ امام بخاري كه شاګردانو ئې او يا ډېر وروسته هغې ډلې چې ځان ته اهل حديث وايي؟! په داسي حال کې چې د حجة الوداع خطبه او دغه برخه ئې؛ د لسګونو صحابه وو له لوري روايت شوې!!

په مقابل کې ئې اهل حديث دا روايت رسول الله صلى الله عليه وسلم ته منسوبوي؛ چې هم له قرآن سره متعارض دئ او هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم له تر ټولو معتبر او موثق صحيح حديث سره مغايرت لري:

عَنْ مَالِكٍ أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: تَرَكْتُ فِيكُمْ

أَمْرَيْنِ، لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ.
له مالك روايت دئ چي ده ته دا خبر رسېدلی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسو په منځ کي مي دوه شيان پرېښودلي؛ تر هغه چي په دواړو منګولي ولګوئ؛ هيڅکله به لاروركي نه شئ: د الله كتاب او د هغه د پيغمبر سنت.

دا روايت هم د سند له پلوه ضعيف او نامعتبر دئ او هم د متن له پلوه له قرآن او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له صحيح حديث سره متعارض دئ؛ امام بخاري ئې په صحيح بخاري کي له راوړلو ډډه كړې؛ ولې؟! آيا كوم ځواب لرئ؟! ولي په روايت کي دا مطلب نه دئ راغلی چي امام مالك دا له چا اورېدلی؟ هغه روايت چي په اسناد کي ئې انقطاع وي؛ د محدثينو له نظره ئې اعتبار تر پوښتني لاندي راځي؛ او كه راوي ئې شاهد هم ونه لري؛ نو عدم اعتبار ئې دوه برابر كېږي؛ او كه له بل صحيح حديث سره تعارض او مغايرت هم ولري؛ اعتبار ئې تر داسي كچي راټيټېږي چي بايد له پامه وغورځول شي.

د مالك روايت په همدې اړه له دغه صحيح او موثق روايت سره مغايرت لري چي د ټولو معتبرو رواياتو د فهرست په لومړنيو کي نيول شوی:

۳۰۰۷۷ - عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ كِتَابَ اللَّهِ». مسند أحمد

له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اې خلكو! يقيناً ستاسو په منځ کي مي داسي څه پرېښودلی چي كه منګولي پرې ولګوئ؛ له هغه وروسته به هيڅكله لاروركي نشئ: د الله كتاب.

عجيبه دا ده چي دغه روايت؛ له صحيح بخاري پرته؛ د حديث په ټولو كتابونو کي راغلی؛ ولې؟! آيا كوم ځواب لرئ؟!

له دغو دوو متعارضو رواياتو يوازي يو منل كېدی شي؛ ځكه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته متعارضي خبري نه شو او نه بايد منسوب كړو؛ كوم يو ئې ومنو؟!

د يوه روايت فقط دوه راويان دي؛ له دغو دوو يو ئې تابعي دئ او د هغه صحابي نوم ئې نه دئ اخيستی چي بايد دا روايت ئې ترې اورېدلی وي؛ يعني روايت د إسناد له پلوه مرسل او معلول دئ. د دوهم سند داسي دئ: عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ: لمسي له خپل پلار او هغه له خپل پلار اورېدلی؛ يعني مطلق غريب دئ او په دريو طبقو کې يو يو راوي لري؛ هغه هم لمسی، پلار او نيکه؛ او په متن کې ئې هم په ځينو رواياتو کې «سُنَّةَ نَبِيِّهِ»، په ځينو کې «عِتْرَتِي» او په ځينو کې «أَهْلَ بَيْتِي» راغلي دي!! آيا کېدی شي ومنو رسول الله صلی الله عليه و سلم به د الله تعالی د کتاب تر څنګ د خپل عترت او اهل بيت يادونه هم کړې وي؟! د کتاب الله او عترت تر منځ څه مناسبت دئ؟ د پيغمبر او هر انسان عترت خو هم ښه او صالح کېدی شي او هم طالح او نا صالح؛ او اهل بيت خو د قرآن له مخي د رسول الله صلی الله عليه و سلم مېرمني دي او د ابراهيم عليه السلام مېرمن هم په همدې نامه ياده شوې.

خو هغه روايت چي يوازي «كِتَابَ اللَّهِ» په کې راغلی؛ د ډېرو مشهورو رواياتو له ډلي دئ؛ تر ټولو زياتو صحابه وو روايت کړی؛ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وروستۍ او تر ټولو مهمي خطبې؛ د حجة الوداع د خطبې يوه مهمه برخه وه؛ هر روايت چي د همدې مشخصي موضوع په اړه له دې حديث سره مغايرت ولري؛ د ځينو له نظره منسوخ او د نورو په نزد مردود؛ او له قرآن سره متعارض دئ. په بشپړ يقين سره ويلی شو چي پيغمبر عليه السلام دې موضوع ته يوازي د حجة الوداع په خطبه کې اشاره کړې؛ نه تر دې وړاندي او نه تر دې وروسته؛ مناسب وخت او مجال ئې هم يوازي همدا وو؛ هغه مهال چي له خپلو صحابه وو سره ئې وداع کوله؛ مأموريت ئې پای ته رسېدلی وو؛ او احساس ئې کولو چي بايد خپلي وروستۍ او تر ټولو مهمي خبري او لارښووني د خپل امت په وړاندي کښېږدي؛ يوه له دغو موضوعاتو همدا وه چي وئې فرمايل: زه ځم او ستاسو په منځ کې د الله کتاب (قرآن) پرېږدم؛ که منګولي پرې ولګوئ؛ لاروړکي به نه شئ.

نور ټول روايات چي د دې معتبر روايت خلاف دي؛ ټول ناسم نقلونه او د حقيقت خلاف دي. قرآن په مکرر او مؤکد ډول فرمايي چي د ټولو منازعاتو د حل او فصل يوازينۍ مرجع؛ په هره برخه او د هري قضيې په اړه؛ فقط

د الله كتاب دئ:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ الشورى

او په هر څه كې چې مو له يو بل سره اختلاف وكړ؛ پرېكړه ئې الله ته راجع كېږي؛ همدا الله زما رب دئ؛ پر هغه مې توكل كړى او د هغه لوري ته ورگرځم.

فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ؛ يعني فَحُكْمُهُ إِلَى الْقُرْآنِ؛ يعني د ټولو اختلافاتو د حل او فصل مرجع؛ په هره برخه او هره قضيه كې؛ فقط قرآن دئ.

... إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾ يوسف

... حكم يوازې د الله دئ؛ امر ئې كړى چې له ده پرته د بل چا عبادت ونه كړئ؛ همدا سم او استوار دين دئ؛ خو د خلكو ډېرى نه پوهېږي.

په حكم كې هم حكومت كول شامل دي او هم حكميت او قضاوت.

... وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴿٤٤﴾ المائدة

... وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٤٥﴾ المائدة

... وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٤٧﴾ المائدة

د دغو دريو آيتونو لنډيز دا دئ: هر څوك چې په «ما أنزل الله» (د الله تعالى منزل كتاب)؛ حكم ونه كړي؛ همدوى كافران، ظالمان او فاسقان دي.

بايد متوجه وو چې په دغو آيتونو كې له (ما أنزل الله) مراد فقط تورات او انجيل دي؛ خو د قرآن په اړه فرمايي:

إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا ﴿١٠٥﴾ النساء

يقيناً موږ دا په حق مشتمل كتاب تا ته (اې پيغمبره) نازل كړى؛ چې د خلكو تر منځ د هغه څه له مخې حكم وكړې چې الله درښودلي؛ او د خائنانو مدافع مه كېږه.

دا آیتونه په بشپړ صراحت او قاطعیت سره څرګندوي چې حکمیت هم الهي کتابونو ته مختص دئ او هم په هغو پوري محدود او منحصر دئ؛ لکه څنګه چې حکم یوازي الله ته مختص دئ او هیڅوك په خپل حکم کې له ځان سره نه شریکوي:

... وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ الكهف

... او په خپل حکم کې هیڅوك نه شریکوي.

باور وکړئ؛ زما لپاره ډېره ډېره حیرانوونکې وه چې په صحیح بخاري کې مي دا تر ټولو صحیح او مهم حدیث ونه موند:

« وَإِنِّي قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ: كِتَابَ اللَّهِ»!!

هیڅ قانع کوونکی دلیل او د منلو وړ توجیه ورته نه شم موندلی!!

همدا راز دا پوښتنه ځواب ایجابوي چې ولې په بخاري کې هغه روایات نه موندل کېږي چې احنافو د ځانګه د بېلابېلو برخو په اړه اصح او ارجح ګڼلي او د بخاري تر روایاتو ئې ډېر موثق موندلي دي؟ دلائل ئې څرګند دي؛ د حدیث د صحت د شرائطو په اړه د احنافو او نورو مذاهبو له تګلاري سره ستونزه لري. د بخاري تر اتیا سلنه ډېر روایتونه غریب دي؛ ځیني ئې شاذ دي چې له بخاري پرته د حدیث په هېڅ بل کتاب کي نه دي راغلي؛ احناف د احکامو او حلال او حرام په ارتباط؛ آحاد روایات په یوازي ډول او په قرآن کې له شاهد پرته د اعتبار وړ نه ګڼي ....

ولي په بخاري کي هغه روایتونه نه دي راغلي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کي د حدیث پر نه لیکلو ترکیز او ټینګار کوي؟ لکه دا روایتونه:

۱۱۰۸۵ - عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَكْتُبُوا عَنِّي شَيْئًا إِلَّا الْقُرْآنَ، مَنْ كَتَبَ عَنِّي شَيْئًا سِوَى الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ»

مسند احمد

له ابو سعید روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له قرآن پرته زما له ویناوو بل څه مه لیکئ؛ او چا چي له قرآن پرته زما له

ويناوو بل څه ليکلي وي؛ هغه دي محو کړي.

ځيني له دې هم ډېره نه کوي او وايي: که قرآن کافي وي؛ نو ووايئ: د لمانځه وختونه په قرآن کې کوم دي؟ د لمانځه ترتيب څنګه دئ؟ د هر وخت لمانځه رکعتونه څو دي؟ دوی ته وايو: لومړی خو ستاسو دا وينا په خپل ذات کې د قرآن د هغو صريح آيتونو خلاف ده چې وايي: قرآن کافي او مکمل دئ؛ بيا د لمانځه وختونه او د لمانځه ترتيب په واضح توګه په قرآن کې بيان شوي؛ همدا راز قرآن د حج هر څه راښودلي، د ميراث ټول احکام په تفصيل سره په قرآن کې توضيح شوي، که تا ته کوم څه داسي په نظر درغلي چې ګمان کوې منشأ ئې په قرآن کې نشته نو دا ستا قصور دئ؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم پرې پوه شوی او په خپل سنت او عمل سره ئې موږ ته بيان کړی؛ لکه د زکات ټول تفصيلات رسول الله صلی الله عليه و سلم موږ ته بيان کړي؛ دا ئې نه له خپل ځان ويلي او نه بېله وحی پرې نازله شوې؛ د قرآن د لارښوونو له مخي ئې توضيح کړي؛ د مقدار منشأ ئې د قرآن هغه آيت دئ چې وايي:

وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا غَنِمۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ إِن كُنتُمۡ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا يَوۡمَ ٱلۡفُرۡقَانِ يَوۡمَ ٱلۡتَقَى ٱلۡجَمۡعَانِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ﴿٤١﴾

او په دې پوه شئ چې څه په غنيمت تر لاسه کوئ نو پنځمه ئې د الله، د پيغمبر، د خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو او مسافرو ده، که په الله او هغه څه مو ايمان راوړی وي چې په خپل بنده ئې د فرقان په ورځي نازل کړ، هغه ورځ چې دواړه ډلي سره مخامخ شوې؛ او الله په هر څه ښه قادر دئ.

رسول الله صلی الله عليه و سلم د قرآن شارح او مفسر دئ؛ الله تعالی هغه ته د قرآن په ټولو رموزو او اسرارو پوهه او د بيان او تفسير بشپړ علم ورکړی؛ ده ته همدا آيت کافي وو چې له مخي ئې د نورو مالي وجائبو اندازه وټاکي. دې ته مو هم پام وي چې د مالي وجائبو نور مقادير د همدې خمس؛ ضريب دي؛ همدا ۵ په ۲-٤-۸ ضرب شوي؛ لسمه، شلمه او څلوېښتمه ترې جوړ شوي.

په هغه روايت کې چې ويل شوي: په هغه مال کې چې تر (پنځو)

اوقيو کم وي، په اوښانو کې چې تر (پنځو) کم وي او په هغي غلې کې چې تر (پنځو) وسقو لږ وي؛ زکات نشته؛ دلته هم گورئ چې همغه د الانفال سورې د ٤١ آيت (خمس: پنځمه) معيار گڼل شوی. له دې آيت او روايت په واضح توگه معلومېږي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم د زکات ټول تفصيلات له دې آيت استنباط کړي. د دې تفصيل د حکمة الباری درېيم جلد د زکات تر عنوان لاندي کتلی شئ.

## د حديث او سنت توپير

رسول الله صلی الله عليه و سلم په دوه طريقه قرآن موږ ته تفسير او تشريح کړی؛ په خپل قول سره او په خپل عمل سره؛ يو ئې (حديث) او بل ئې (سنت) نومول شوی؛ حديث ئې لږ کسانو اورېدلی؛ سنت او عمل ئې په زرگونو ليدلی او په تواتر سره له يوه انسان بل ته او له يوه نسل بل ته انتقال شوی او تر موږ پوري رارسېدلی؛ لکه قرآن چې هم سينه په سينه د حفظ له لاري تر موږ پوري رارسېدلی او هم په ليکلي بڼې، په بشپړ امانت سره او د ټولو صحابه وو په اجماع او اتفاق سره؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ټولو ويناوو او اقوالو اصل او منشأ همدغه قرآن دئ چې نن د هر مسلمان په کور کې شته؛ په نورو امتونو کې هم؛ اختلافات هغه مهال راولاړ شوي چې د الله کتاب ئې شا ته غورځولی او پر رواياتو ئې بسنه کړې؛ او په اسلامي امت کې هم؛ کله چې په امت کې د حديث د ليکلو لړۍ پيل شوې؛ هر چا په خپلو الفاظو ليکنه کړې؛ په ليکنو کې ئې هم د الفاظو انتخاب او ترکيب کې تغيير رامنځته شوی او هم په محتواء کې؛ د بخاري روايات ئې څرگندي بېلگي دي؛ د ليکلو اجازه نه رسول الله صلی الله عليه و سلم ورکړې وه او نه څلورو خلفاءو ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم؛ رسول الله صلی الله عليه و سلم امر کړی وو چې له قرآن پرته به بل څه له ما نه ليکئ او که چا ليکلي وي هغه دي له منځه يوسي؛ لکه چې گورئ:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَكْتُبُوا عَنِّي شَيْئًا إِلَّا الْقُرْآنَ، فَمَنْ كَتَبَ عَنِّي شَيْئًا فَلْيَمْحُهُ» مسند احمد

له ابو سعيد روايت شوی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «له قرآن پرته بل څه له ما مه ليکئ؛ نو چا چي له ما بل څه ليکلي وي هغه دي له منځه يوسي.»

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لاَ تَكْتُبُوا عَنِّي شَيْئًا إِلاَّ الْقُرْآنَ فَمَنْ كَتَبَ عَنِّي شَيْئًا فَلْيَمْحُهُ وَقَالَ حَدِّثُوا عَنِّي، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ. مسند احمد

له ابو سعيد روايت شوی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «له قرآن پرته بل څه له ما مه ليکئ؛ نو چا چي له ما بل څه ليکلي وي هغه دي له منځه يوسي.» او وئې فرمايل: «زما خبري بيان کړئ؛ خو څوک چي عمداً پر ما دروغ وتړي؛ نو په دوزخ کي دي خپل استوګنځی وټاکي.»

او دا ئې هم فرمايلي وو:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً، وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، وَلا حَرَجَ، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ» مسند احمد

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما روايت شوی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «له ما ئې (خلکو ته) ورسوئ؛ که څه هم يو آيت وي؛ او د بني اسرائيلو خبري هم وکړئ، په دې کي څه حرج نشته؛ او څوک چي عمداً پر ما دروغ وتړي؛ نو په دوزخ کي دي خپل استوګنځی وټاکي.»

د حديث ليکل د امويانو د اقتدار په دوران کي او د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په واکمنۍ کي پيل شول؛ د داسي چا په لاس چي ځيني ئې د اعتماد وړ نه ګڼي؛ او د امويانو مدافع ئې بولي؛ ځيني ئې په شيعه توب تورنوي؛ دا ځکه چي هغه د ابوبکر، عمر او په ځانګړې توګه د عائشه رضي الله عنهم په اړه داسي روايات راغونډ کړي چي په هغوی کي د دوی حيثيت ته سپکاوی شوی؛ ابن شهاب الزهري په داسي حال کي روايات په ليکلي ډول تدوين کړل چي تر ده وړاندي له نورو د حديث د ليکلو غوښتنه شوې وه خو هغوی ځکه ډډه کړې او ويلي ئې دي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د حديث له

ليکلو ممانعت کړی؛ اسلامي تاريخ شهادت ورکوي چي په لومړيو کي ځينو صحابه او تابعينو د حديث له ليکلو او ټولولو ډډه کوله او يوازي په يادولو (حفظ) ئې ټينګار کولو، ځينو د ليکني د ممانعت وجه دا ښودلې چي د قرآن او حديث د اختلاط مخنيوی وشي؛ دا هسي يوه فردي رأی ده؛ د رسول الله صلی الله عليه و سلم له وينا په څرګند ډول معلومېږي چي موخه ئې يوازي پر قرآن بسنه وه؛ دې روايت ته ځير شئ:

۱۱۰۹۲ – عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كُنَّا قُعُودًا نَكْتُبُ مَا نَسْمَعُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: «مَا هَذَا تَكْتُبُونَ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ مِنْكَ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ مَعَ كِتَابِ اللَّهِ؟» فَقُلْنَا: مَا نَسْمَعُ، فَقَالَ: «أَكِتَابٌ غَيْرُ كِتَابَ اللَّهِ؟ امْحِضُوا كِتَابَ اللَّهِ وَأَخْلِصُوهُ» قَالَ: فَجَمَعْنَا مَا كَتَبْنَا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ؛ ثُمَّ أَحْرَقْنَاهُ بِالنَّارِ.... مسند احمد

له ابو هريره روايت دئ چي وئې ويل: موږ ناست وو او هغه خبري مو ليکلې چي له رسول الله صلی الله عليه وسلم مو اورېدلې؛ هغه موږ ته راووت او وئې فرمايل: دا څه دي چي تاسو ئې ليکئ؟ ومو ويل: هغه څه چي له تاسو ئې اورو. وئې فرمايل: آيا د الله د کتاب تر څنګ بل کتاب؟ ومو ويل: هماغه څه چي اورو (له خپل ځانه بل څه نه ورزياتوو). وئې فرمايل: آيا د الله له کتاب پرته بل کتاب؟ د الله کتاب خالص او منفرد وساتئ؛ (د هغه تر څنګ بل کتاب مه لرئ). ابو هريره وويل: نو څه چي مو ليکلي وو؛ ټول مو په يوه ځای کي راغونډ کړل؛ بيا مو په اور وسوزول.

له صحابوو دغو شخصيتونو د حديث له ليکلو ممانعت کړی، يا ئې ډډه کړې او يا ئې کرکه ښودلې: ابوبکر صديق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان، علي بن ابي طالب، ابو سعيد خدري، عبد الله بن مسعود، ابو موسی الأشعري، زيد بن ثابت، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر او ابو هريره رضي الله عنهم؛ د زيد بن ثابت په اړه راغلي:

عَنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَبٍ قَالَ: دَخَلَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ عَلَى مُعَاوِيَةَ، فَسَأَلَهُ عَنْ حَدِيثٍ، فَأَمَرَ إِنْسَانًا أَنْ يَكْتُبَهُ، فَقَالَ لَهُ زَيْدٌ: «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا أَنْ لَا نَكْتُبَ شَيْئًا مِنْ حَدِيثِهِ»، فَمَحَاهُ. سنن ابي داؤد

له الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْطَب روايت دئ چي زيد بن ثابت د معاويه مجلس ته داخل شو؛ نو د يوه حديث پوښتنه ئې ترې وکړه او چا ته ئې امر وکړ چي وئې ليکي؛ نو زيد ورته وويل: يقيناً چي رسول الله صلى الله عليه و سلم موږ ته امر کړی چي د ده هيڅ حديث ونه ليکو.

د ابو هريره په اړه ويل شوي چي ويل ئې: «نَحْنُ لَا نَكْتُبُ وَلَا نُكْتِبُ»: موږ نه پخپله ليکو او نه نور پر ليکلو ګمارو، د عبدالله بن عمر په اړه سعيد بن جبير وايي: ما به خپل ليکلي احاديث ترې پټ ساتل؛ که ابن عمر پرې خبر شوی وی؛ نو زما او ده ترمنځ به اړيکي شلېدلې وې؛ او دا له ليکلو د ابن عمر سخت کراهت څرګندوي؛ د عبدالله بن عباس روايت دئ: «إِنَّا لَا نَكْتُبُ الْعِلْمَ وَلَا نُكْتِبُهُ»؛ او په بل نقل کي راغلي چي د علم له ليکلو ئې منع کوله او ويل ئې چي پخواني خلک د کتابت له امله بې لاري شول.

له تابعينو؛ إبراهيم النخعي، عامر الشعبي، محمد بن سيرين، عبيدة السلماني، القاسم بن محمد بن أبي بكر، سعيد بن جبير، منصور بن المعتمر، مغيرة، الأعمش، قتادة او سعيد بن عبد العزيز؛ د حديث د ليکلو او له هغه د کتابونو جوړولو کلك مخالف وو. د منصور، مغيرة او اعمش په اړه جرير بن عبدالحميد په صراحت سره وايي چي دوی د حديث ليکل مکروه ګڼل؛ او سعيد بن عبدالعزيز وايي: «مَا كَتَبْتُ حَدِيثًا قَطُّ». ابن عبدالبر هم ابن عباس، شعبي، نخعي او قتادة په هغو کسانو کي راوړي چي «الكتاب» يعنې د حديث ليکل ئې مکروه ګڼل.

د ابن عباس رضي الله عنهما او نورو صحابه وو دا وينا ډېره مهمه ده چي وايي: "مخکيني امتونه د همدې کتابت له کبله بې لاري شول"؛ د الله تعالى کتاب ئې شا ته وغورځولو او په همدې کتابونو پسي ولاړل؛ او دا هغه حقيقت دئ چي ما په بايبل کي د تحقيق په نتيجه کي درك کړ؛ بايبل مي نه يوازي د تورات، انجيل او زبور مجموعه ونه موند؛ همغسي چي مسيحيان ئې ادعاء کوي؛ بلکي په ډاډ سره ويلی شم: هر څوك چي په لږ دقت سره

هغه ولولې نو ورته جوته به شي چې دا د ګڼ شمېر راويانو له رواياتو جوړ شوی کتاب دئ؛ نه د الله تعالی کتاب او د تورات، انجيل او زبور مجموعه.

د عمر رضي الله عنه په اړه هم راغلي:

أَرَادَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ أَنْ يَكْتُبَ السُّنَنَ، فَاسْتَفْتَى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ، فَأَشَارُوا عَلَيْهِ بِأَنْ يَكْتُبَهَا... فَقَالَ: «إِنِّي كُنْتُ أُرِيدُ أَنْ أَكْتُبَ السُّنَنَ، وَإِنِّي ذَكَرْتُ قَوْمًا كَانُوا قَبْلَكُمْ كَتَبُوا كُتُبًا فَأَكَبُّوا عَلَيْهَا وَتَرَكُوا كِتَابَ اللَّهِ، وَإِنِّي وَاللَّهِ لَا أَشُوبُ كِتَابَ اللَّهِ بِشَيْءٍ أَبَدًا». مأخذونه: تقييد العلم ص ٤٩؛ جامع بيان العلم ٣٤٣؛ بيهقی، المدخل ١٨٢٢

عمر بن الخطاب رضي الله عنه وغوښتل چې سنتونه وليکي؛ نو په دې اړه ئې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له اصحابو مشوره وغوښته؛ هغوی ورته مشوره ورکړه چې وئې ليکي. [عمر يوه مياشت په دې اړه استخاره کوله چې پوه شي دا کار وکړي که نه]؛ بيا ئې وويل: «ما غوښتل چې سنتونه وليکم؛ خو هغه خلک مي راپه ياد شول چې تر تاسو وړاندي ول؛ هغوی کتابونه وليکل، بيا پرې بوخت شول او د الله کتاب ئې پرېښود. نو په الله قسم؛ زه به هيڅکله د الله کتاب له بل څه سره څنګ په څنګ نه کړم.»

د دې روايت سند داسي دئ: عبد الرزاق، معمر، الزهري، عروة بن الزبير او عمر رضي الله عنه. ابن کثير د سند په اړه وايي: «إسناده جيد قوي إلا أن عروة لم يلق عمر بن الخطاب»: سند ئې ډېر ښه او قوي دئ خو عروة له عمر بن خطاب سره ليدنه نه ده کړې.

په دې روايت کې د سنت نه ليکلو يادونه شوې؛ دا موضوع مهمه ده او خاصه توجه ايجابوي؛ د سنت او حديث تر منځ توپير بايد په پام کې ولرو؛ سنت د رسول الله صلی الله عليه و سلم عمل او فعل دئ او حديث ئې قول او وينا؛ د سنت ليکل يعني دا چې څوك د رسول الله صلی الله عليه و سلم کوم عمل او کړنه په خپلو سترګو ليدلې او بيا ئې په خپلو الفاظو بيان کړي؛ کېدی شي د هر ليدونکي الفاظ او د هغوی ترکيب او ترتيب ئې له بل سره توپير ولري؛ که واقعيت ئې په سمه توګه بيان کړی وي نو د الفاظو او ترکيب

توپيرونه ئې په هري بنې کې د منلو وړ دي؛ لکه دا چې: ومو ليدو چې په ښي لاس ئې ډوډۍ خوړله، زموږ په وړاندي ئې په ښي لاس ډوډۍ خوړله، ورته کتل مو چې په ښي لاس ئې ډوډۍ خوړله، ومو ليدو چې په ښي لاس ئې ډوډۍ وخوړله... خو کله چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم يوه وينا انتقالېږي نو راوي مکلف دئ چې ټول الفاظ او ترکيب ئې په بشپړ امانت سره؛ له هر ډول تصرف او تغيير؛ او له کمښت او زيادت پرته انتقال کړي؛ خو دا کار دومره گران دئ؛ په ځانگړې توگه هغه مهال چې د غږ ضبطولو وسائل هم نه وو؛ کولی شو دې ته شبه محال ووايو؛ يقيناً چې د حديث نه ليکلو سپارښتنه ډېره حکيمانه سپارښتنه وه؛ که د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا حکيمانه لارښوونه په جدي توگه مراعات شوې وی نو نن به موږ د رواياتو د تعارض او تناقض له جدي ستونزي سره مخامخ نه وو؛ د امت تر منځ د ژورو او پراخو مذهبي ډوله اختلافاتو اصلي او لويه وجه همدا روايات دي. ما د نورو کتابونو پر ځای صحيح بخاري ځکه د تحقيق لپاره غوره کړ چې اورېدلي مي وو د حديث په ټولو نورو کتابو کې اصح دئ؛ خو کله چې مي وليدل د بخاري تر دوه ثلثه زيات روايات تکراري دي؛ او تر منځ ئې پراخ توپيرونه، تعارضات او حتی تناقضات؛ حيران شوم؛ د همدغو تکراري رواياتو ډېری مي داسي وموندل چې لومړی راوي ئې هم يو کس؛ خو چې له دوه ځله نېولې تر ٣٦ ځله پوري تکراري راغلي؛ په هغوی کې مي پراخ توپيرونه، تعارضات او تناقضات موندلي؛ ما په څلور جلده حکمة الباریٔ کې د بخاري نژدې پنځه زره روايات څېړلي؛ د هر روايت له ژباړې وروسته او تر شرحې وړاندي مي د (تکرار) او (توپير) تر سرليك لاندي ليکلي چې دا روايت څو ځله او په کومو شمېرو راغلی او تر منځ ئې کوم کوم توپيرونه دي او دا مي توضيح کړي چې دا روايت د سند له پلوه په کومه درجه کې دئ او د متن له پلوه د اعتبار او منلو وړ دئ که نه؛ محتواء ئې له قرآن او صحيح احاديثو سره مطابقت لري که نه؛ او د روايت د صحت نور لازم شرائط مي توضيح کړي.

ای کاش د حديث د ليکلو پر ځای د رسول الله صلی الله علیه و سلم سنن ليکل شوي وی؛ هغه هم د يوه دروند، معتبر او معتمد هيئت له لوري او هر روايت د قرآن اړوند آيتونو د تفسير او شرحي په ضمن کې راغلی وی.

نه مستقل کتاب کې؛ په دې سره به موږ هم د رسول الله صلی الله علیه و سلم د حديث او سنت په اړه د ده په سپارښتونو او لارښوونو عمل کړی وو او هم به د هغو فتنو مخنيوی شوی وو چې له متعارضو رواياتو زېږېدلې.

## تتمه

تر دې نامه لاندې (د تصوف په اړه ځيني حقائق) زما يو کتاب نشر شوی؛ دا په اصل کې د پاکستاني بريلويانو د مشر د څو ويناوو په اړه؛ ده ته يو ليك وو؛ چې بيا د کتاب په بڼه نشر شو؛ هغه به ډېر ځله د بخاري پر رواياتو استناد کولو؛ يو ځل مې له هغه واورېدل چې ويل ئې: سلفيان په بخاري نه پوهېږي بلکې تبې نيولې (سلفیوں کو بخاری نہیں آتی، بلکہ بخار آتا ہے)؛ له ځان سره مې ويل: بخاري په داسې کتاب بدل شوی چې هر څوك کولی شي د خپل مذهب په ګټه روايات په کې ومومي؛ حتی بريلويان هم؛ نن چې د امارت په راتلو سره؛ له يوې خوا د پيرانو بازار ګرم شوی؛ په خانقاه او جومات کې؛ د ذکر داسې حلقې، نڅاګانې، غورځې پرځې، درب دروب، څڼې غورځول او له ډېرې جذبې داسې رغړېدل چې څو تنه ئې ټولی او سمبالولی نشي؛ د پير او مرشد د لاس پښو ښکلول؛ هغه هم داسې چې د مرشد د يوه لاس ښکلولو ته ورټېټ شي او رکوع وکړي او په بل لاس کې ئې خپله شکرانه ورکړي؛ همدې پير ته چې دی په دنيا کې د ټولو مشکلاتو حلولو او په آخرت کې د جنت الفردوس او حور او غلمان تر لاسه کولو طمع ترې لري؛ خو هغه ئې جيب او لاس ته ګوري؛ لنګر ئې هم د مريدانو په همدې قلنګ او شکرانو چلېږي او د کورنۍ اشرافي ژوند ئې هم؛ حوري ئې داسې ورته انځور کړې چې دا به بېل مخلوق وي؛ نه د دوی همدا د دنيا انساني مېرمني؛ په داسې حال کې چې په اسلام کې نه د پير او مريد تصور شته، نه جهري ذکر، نه ها هو، نڅا او مستي؛ له الله تعالی پرته بل ته رکوع او سجده؛ د قرآن د ټولو مضامينو خلاصه دا ده (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ): يوازې ستا عبادت کوو او يوازې له تا مرسته غواړو)؛ او په داسې حال کې چې قرآن وايي:

وَٱذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ ٱلْجَهْرِ مِنَ ٱلْقَوْلِ بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ ٱلْغَٰفِلِينَ ﴿٢٠٥﴾ الاعراف

او (تل) سبا او ماښام، له ځان سره د خپل رب ذکر کوه، په زاريو او وېرې سره او له لوړ غږ راټيټ او له غافلانو مه کېږه.

دلته د الله تعالی د ذکر په ارتباط څو مهمې او اساسي سپارښتنې شوې:

- تل د الله تعالی په ياد او ذکر مشغول اوسه، شپه ورځ، سبا او ماښام ئې يادوه.
- له ځان سره او په خپل زړه کې ئې يادوه.
- په زاريو او زګېرويو سره ئې يادوه، ستا ذکر بايد له زاريو او وېرې سره توأم وي، غږ دې بايد د زارې کوونکو په څېر وي، د يوه محتاج او مضطر بنده په څېر؛ له دې احساس سره چې په هر څه کې الله تعالی ته محتاج يې، د ذکر په حال کې بايد ستا په الفاظو، غږ او څېرې کې د وېرې او خوف آثار څرګند وي، داسې چې زړه دې پوړېږي، داسې چې د يوه ستر ذات په وړاندې ولاړ يې، هغه ستا غږ اوري، حرکات دې ګوري او د زړه کيفيت دې ورته معلوم دئ.
- د غافلانو په څېر مه کېږه، چې خپل رب هېر کړې يا ئې په داسې حالت کې نوم په خوله اخلې چې زړه دې ترې غافل وي.
- په دې آيت کې د ژبې او لوړ غږ ذکر نه بلکې د زړه او د مغز ذکر؛ (فِي نفسك: په زړه او سينه کې)، (دون الجهر: له جهر پرته ذکر)؛ يادونه شوې؛ يعنې له ايمان راټوکېدلی ذکر، له خوف او طمعې سره ذکر، د خدای نه هېرول، په خپلو افکارو کې هم، په خپلو ويناوو کې هم، په خپلو پرېکړو او کړنو کې هم؛ او په خپلو محاسباتو کې هم؛ حقيقي ذکر دا دئ؛ نه هو هو کول او سر پښې خوځول.

د وجد، مستې، رقص، نڅا او سرود په نامه چې څه په تصوف کې رايج شوي، ټول کرکجن، مسخره او ناولې بدعتونه دي چې له يهودانو اخيستل شوي، د هغوی جعلي مذهبي کتابونه وايي چې پر انبياوو ئې هغه وخت وحې نازلېدې چې ساز او سرود غږېدې او دوی د وجد او مستۍ په حالت کې وي، د غيب خبرې په دې حالت کې دوی ته معلومېدې. د بايبل له نظره پيغمبر او نبي هغه دئ چې څو کارونه کوي: ... يوه ته ښېرا او بل ته دعاء کوي، وړاند ويني کوي، په وجد راځي، جذبه ئې نيسي، دريا، چنګ او نی ته ناڅي، کله کله د انبياوو لويه ډله د جذبې او وجد په حالت کې په لارې روان

وي او نڅا کوي!! داسې لکه نن چې تاسو د چرسي ملنګانو يوه ډله ګورئ چې د بري امام، داتا ګنج بخش او فلاني بابا د عرس مراسمو ته روان وي، د ځينو په پښو کې ګړنجې، د ځينو په لاسونو کې بګنې، د ځينو په لاسونو کې اوږده اوږده سوټې، رنګ رنګ ترانې ترې راتاو، د چرسو کرکجن بوی او د سپېلنيو لوخړې ترې اوچتې، په نڅا نڅا او په داسې حال کې چې ځنې غورځوي، مستي کوي او له ګړنجو ډکې پښې په زور زور په زمکه وهي، د بايبل له نظره به د يهودانو انبياوو هم همداسې کول، دوی نه خلکو ته وعظ، نصيحت او لارښوونه کوي او نه د دوی د ژوند د تنظيم لپاره احکام او مقررات بيانوي، يوازې دا ورته وايي: د فلان مرشد لمن ونيسه چې روحاني فيوضات دې په برخه شي، د قيامت په ورځ دې شفاعت وکړي، ستا او الله تر منځ وسيله او واسطه شي!! دا اوس چې تاسو د دوی د عرس مراسمو ته ولاړ شئ او د دوی د مرشدينو ويناوې واورئ نو يقناً چې هر څه به همغسې ومومئ چې بايبل د يهودانو د انبياوو په اړه ويلي.

خو قرآن موږ ته وايي چې د الله تعالی ذکر ځانګړي آداب لري، د الله تعالی د نامه په يادولو سره به ستا زړه له هيبته پوړېږي، په خشوع او خضوع سره به ئې يادوې، په زاريو زاريو او ټيټ غږ سره به دعاء کوې، هم به دې په زړه کې وېره وي او هم طمعه، له عذابه ئې وېره او رحمت ته ئې طمعه.

خو زموږ بريلويان او پيران او خليفه ګان ئې تر سلفيانو زيات پر بخاري استناد کوي؛ خپل مرشد ته د غيب علم او په عالم کې د تصرف واك ثابتول، د کوډګر، فال نيوونکي، دم او تعويذ پلورونکي او د ټولو هغو ټګمارانو چې له دين ئې د جاهلانو د دوکه کولو لپاره دام او دکان جوړ کړی؛ او هغه دين پلورونکي سرکاري مفتيان چې خلکو ته وايي: د جابر واکمن په خلاف له څه ويلو او کولو ډډه وکړئ؛ تر هغه د ده بشپړ اطاعت واجب دئ چې بواح او څرګند کفر ترې وليدل شي؛ د ټولو مستمسك د بخاري روايات دي؛ د اهل حديث معروف مشر ربيع بن هادي عمير المدخلي نومېدو؛ د ده تحريك د اخوان المسلمين خلاف رامنځته کړی شو؛ د سعودي نظام کلك مدافع وو؛ د واکمن امير او حکومت مخالفت ئې حرام ګڼلو؛ مګر دا چې کفر بواح ترې وليدی شي؛ د ده اصلي مذهبي کتاب صحيح بخاري وو.

په پای کې ټولو خداپپالو علماءو، دعوتگرانو او د الله د لارې مخلصو مجاهدینو ته؛ بلنه ورکوم چې راشئ دې ته ملا وتړو او په گډه کار وکړو چې د حدیث ټول کتابونه؛ لوی او ووړ ئې؛ د یوه داسې دروند هیئت له لوري تنقیح شي چې اسلام ته ژمن وي، د اسلام او مسلمانانو اوسنی دردناك حالت ئې ځوروي، د امت یووالی او د تېر وحدت او عظمت اعاده ئې د خپل ژوند لوی هدف وي؛ په قرآن پوه وي او د روایاتو د تنقیح وړتیا او اهلیت ولري؛ او امت ته د صحیح احادیثو داسې دروند او دقیق کتاب وړاندې کړي چې په هغه کې نه ضعیف روایات وي، نه تکراري او نه له قرآن سره متعارض روایات. د هغې ورځې د رارسېدو په هیله

سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ نَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، نَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوبُ إِلَيْكَ